## د کتاب نوم

# د خوشحال خان خټک
## د عصر او چاپیریال پوځي څېړنه


لیکوال:

پروفیسور علي احمد جلالي



ډیزاین او د پښتۍ طرحه:

ژکفر حسیني

د چاپ کال: 1390 لمریز

شمېر: 94

خپروونکې اداره:

د افغانستان د قلم ټولنه

د چاپ ځای: میوند مطبع

# څو لنډې خبرې

دغه لنډه مجموعه له دوو مقالونه جوړه ده چې، په بېلو بېلو وختونو کې مې ليکلې دي. لومړۍ مقاله مې څه باندې ديرش کاله پخوا ، په کابل کې د خوشحال خان په بين المللي سيمينار کې وړاندې کړه. په هغه سيمينار کې، دافغانستان، پاکستان، ايران، هند او امريکا ډېرو پياوړو استادانو څېړنيزې مقالې درلودې او په زړه پورې وېناوې يې وکړې. په دغه ډله کې پوهاند عبد الحی حبيبي، استاد عبد الرؤف بينوا ، استاد عبدالشکور رشاد ، استاد پريشان ختک ، پروفيسر رام راهول او يو شمېر نورو نوميالیو شنونکو خپلې باارزښته څېړنې وړاندې کړې. په هغه سيمينار کې، ما د خوشحال خان د عصر او چاپيريال د پوځي څېړنې تر عنوان لاندې مقاله واوروله چې، وروسته په انګريزی ژبه هم ترجمه شوه. ددې ټولګې لومړۍ برخه هماغه د سيمينار مقاله ده.

ددې مجموعې دويمه برخه چې، د قزاقی جنګ په باب د خوشحال خان د ليکنو يوه څېړنه ده، وروسته ليکل شويده. دغه څېړنه مې د ۱۹۹۰ يمې په لسيزه کې، په مرکزي آسيا کې د خپلو

یو لړ نورو تحقیقات په لړ کې تر سره کړه او ځوکاله وروسته مې، په بن کې د خوشحال خان په یوه غونډه کې چې، په جرمني کې د

افغان کلتوري ودې ټولنې له خوا جوړه شوې وه، وړاندې کړه. اورید لي مې دي چې، دغه مقاله بیا د شمشاد په مجله کې هم خپره شویده.

خوشحاله یم چې، اوس دغه دوې څېړنې په یوه مجموعه کې، د افغانستان قلم ټولنې په همت او د څېړندوی صلاحی صاحب په مرسته چاپ او خپرې شوې دي. هیله ده چې، دغه څېړنې د خوشحال پېژندنې په هڅو کې، یو بل ګام وګڼل شي او د ګرانو لوستونکو د علاقې وړ وګرځي.

په درناوي
پروفیسور علی احمد جلالي
کابل، ۱۳۹۰ کال، د لیندۍ میاشت

# څو شېبې له پروفیسور استاد علي احمد جلالي سره

ترمغولو ښتانه په توره ښه دي
که په پوهه ښتانه وی څه هوښيار
خوشحال خان ختېک

دا کتاب چې، د پروفیسور علي احمد جلالي له خوا (د خوشحال خان ختېک د عصر او چاپیریال پوځي څېړنه) په نامه باندې لیکل شوی دی، له تاریخي پلوه، په یوه ډېره مهمه موضوع، له نوښت نه ډکه څېړنه شوې ده. د استاد جلالي په پیاوړي قلم، د حضرت خوشحال خان ختېک زمانه، له پوځي زاویې نه داسې ارزول شوې ده چې، نه یوازې په دې برخه کې، له پخوانیو ارزونو او څېړنو نه، یوه مثبته پایله تر لاسه شوې ده، بلکې دا څېړنه د کمال برید ته رسېدلې ده.
د پښتنو ستر مشر او فکري لارښود حضرت خوشحال خان ختېک ژوند دوه لوی اړخونه او بعدونه لرل، چې یو یې قلم او بل یې تورېک و. دده د ادبي او شعري کارنامو په اړه، تر او سه پورې، د کورنیو او بهرنیو پوهانو ، څېړونکو ، شاعرانو ، ادیبانو او د پوهې او سیاست د ډګرماهرینو له خوا ،ګڼ شمېر لیکنې شوې

دي، مګر د هغه د عصر د پوځي څېړنې په برخه کې، یو داسې دقیق ، له پوځي او علمي غور نه ډک ابتکاري اثر، زما له سترګو نه دی تېر شوی او موږ فکر کوو چې، درنو لوستونکو به هم نه وي لیدلي. پدې برخه کې، یو شمېر اشارې، لیکنې او مقالې تر سترګو شوې، خو یوه څېړنه هم، پدغه کچه ژوره نه ده لیدل شوې. ددې علت دادی چې، ددې موضوع د څېړنې لپاره، موږ تر اوسه پورې، د استاد په څیر پوځي لیکوال نه درلود. ددې موضوع د روښانتیا لپاره، په رښتیا هم، یوه داسې لیکوال ته سخته اړتیا وه، کوم چې، له پوځي پلوه، د افغانستان ژوره مطالعه کړې او د افغانستان د حرب تاریخ یې لیکلی دی.
حضرت خوشحال خان ختک، په پښتنو کې، د حکمت او فضیلت څښتن، یو بېل او استثنایي انسان و. تر اوسه پورې، په پښتنو کې دده په اندازه یوه سړی نه دی تېر شوی او نه یې دده په اندازه، ژور علمي او ادبي آثار کښلي دي. بل هېچا د پښتنو سایکالوجي، دده په څېر نه ده بیان کړې او نه یې دده په شان، د پښتنو ښه او بد دواړه یاد کړي دي. ښه یې ستایلي او ددوی په نیمګړتیاوو یې، په ښکاره نیوکې کړې او ددې زړور او باتور قوم سترګو ته یې، د پند او عبرت خلی ور وړی دی. هغه د علمي پښتو بنسټ ایښی، د افغانستان د ادبیاتو او د پښتو ژبې اوسنی آب و تاب، ځلا او ښکلا ، دده د غښتلي قلم، نه ستومانه

کېدونکو زیارونو، شعوري او اګاهانه مبارزې له برکته هم ده. هغه که څه هم، له قبیلوي پلوه خټک و، مګرد خپل سیاسي درایت، وینښتیا او هوښیارتیا له امله یې، د افغان په ننګ توره تړلې وه او تر مرګه پورې یې، خپله توره په تیکي کې کینښوده او خپل قلم یې په ځمکه باندې و نه غورځاوه. دا دواړه تاریخي نښې، دده مواریث دي چې، موږ نن پرې ویاړو او که هر څومره، دده د ژوندانه مختلف ابعاد وڅېړل شي، په همغه اندزه موږ ته نوی فکر راکوي او موږ کولی شو، دګڼو او سنیو ستونزو په اوارې کې هم، دده له کلاسیکو (لومړۍ درجه ارزښت لرونکو) تعلیماتو نه په زړه پورې ګټه واخلو.

د خوشحال خان د شعري او ادبي آثارو، لوی صفت دا دی چې، لوستونکو ته رسا پیغام لري. هغوی ته د ژوند کولو لارې چارې او طریقې ور ښیي، نا هیلي ته یې نه پرېږدي، د ننګ او کامرانۍ سبق ور کوي او د زماني له خونکارو، ظالمو، کبرجنو او خونړیو زمرو سره، د پنجې ازمویلو پوځي فن ور ښیي:

په دنیا د ننګیالي دي دا دوه کاره
یا به وخوري ککرۍ یا به کامران شي

او یا دا چې:

ښه ځوانان به خپل هوډ پرې نه ږدي له لاسه
که یې سر شي د خوني زمري تر زامه

له دې امله به ښه دا وي چې، په راتلونکې کې، د يو شمېر نورو تکراري او نمايشي موضوعګانو پر ځای، د حضرت خوشحال خان ختټک، د ژوند پېښو او تاريخي کارنامو په اړه، ښه ډېر او ګڼ شمېر هېوادني، سيمه ييز او نړيوال علمي تحقيقي سيمينارونه ولرو. مونږ پوره باور لرو چې، نوې ځېړنې به، دده علمي او ادبي مقام او منزلت لا پسې لوړ کړي.
د کورنيو چارود پخواني وزيردا اثر، ډېرې ښيګڼې لري. کله يې چې سړی لولي، نو د خوشحال خان ختټک د عصر پېښې، د ګورګاني ستروا کي د منظم پوځ په وړاندې، د خوشحال خان پوځي جدوجهد، د پليو او سپرو ولسي لښکري نظام، د ګريلايي او پارتېزاني ډلو او ډلګيو ناڅاپي غرني بريدونه، پياوړی، مضبوط او نه ماتيدونکې مورال، جګړه ييزه روحيه، ددښمن په سترګو کې سترګې غورځول او د آزادۍ ښونکې هدف پرلور، پرله پسې هڅې، له زبردست نظامي استعداد نه ډک اوله وخت سره سم، د نوښتګرو تدبيرونو نيوونکې خوشحال خان، د ژوندانه او جنګونو تاريخي کيسې اوګټې پېښې، د يوې پوځي رژۍ او نظامي پريټ په شان، د سترګوله مخې نه، په زبردست شور او زوږ کې تېرېږي، دګورګاني نيوا ککرو په وړاندې

مارشونه کوي او د تاریخ په زرینو پاڼو کې، خپل اعتراض څرګندوي:

لا په خوب کې په لړزه پریوزي له کټه
چې د چا تر غوږ زما د توري شرنګ شي

ددې کتاب یوه بله مهمه ښیګڼه داده چې، پدغه کتاب کې، علم او شخصي جذبات سره نه دي ګډ شوي. تاریخي پېښو ته هنري پرداز نه دی ور کړ شوی او دیو شمېر شاعرانو او ادیبانو په شان، مبالغه پکې نه ده شوې. مفاهیم ښه سوان او صیقل شوي او ټولې پېښې، د علم په کاڼي باندې تلل شوې دي. پدې ډول، هر څه ثابت، مستند، مدلل او علمي تشریح شوي، لیکوال د وخت معتبرو او زیاتره لومړي لاس سرچینو ته پکې لاس رسی موندلی دی. له دې امله، دا یوه معیاري او اکاډمیکه څېړنه بللی شو.

د استاد دڅېړنیز میتود او د موضوع د تحقیقي څارنې او کنترول ، بله لویه خوبي دا ده چې، نورو او بیا په ځانګړې توګه ځوانو څېړونکو ته یې، د څېړنې لاره پرانستې او د یو شمېرلیکوالو په څیر یې، هر څه په ځان باندې نه دي ختم کړي، بلکې نورو څېړونکو ته یې د نویو څېړنو او ارزونو لپاره، هغو ته د نویو څېړنولوری او استقامت ور ښودلی دی. د لیکنې دا روش ، د ریسرچ او تحقیق یو ستندرد میتود دی. تاسې د استاد د

لیکنې دې کړې ته وګورئ او په هغې کې، د استاد علمي تواضع، سنګیني او شکسته نفسي ته، ښه ځیر شئ:
«د دې عصر د ټوپکونو د ښېړنې لپاره اوس زموږ په لاس کې یوه ښه نمونه شته چې، د خوشحال خان ختک د ټوپک په نامه د افغانستان د وسله وا ل پوځ د لرغونو وسلو په ډله کې خوندي دی (دا د ۱۹۷۹م. کا ل خبره ده). څو کاله مخکې (۱۹۷۰) چې زه د عسکري موزیم د تاسیس لپاره د یوه کمیسیون غړی وم ،دغه ټوپک مې د لرغونو وسلو په ډله کې وموند چې، په دفترونو کې د «تفنګ ختک» په نامه ثبت شوی وو. ددې ټوپک د سابقې په هکله چې څه وخت دلته رارسیدلی دی، زما ښېړنو چندان نتیجه ورنکړه. په دفترونو کې له پخوا څخه دغه ټوپک کله د خوشحال خان ختک او کله د خوشحال د پلار د ټوپک په نامه قید شوی دی. خو اصلاً دا سې ښکاري چې، دا ټوپک د خوشحال خان په پلار شهباز خان ختک پورې اړه لري، ځکه د ټوپک پرمخ دا سې حک شوي دي: «از سرکار شهباز خان ختک سنه ۱۰۱۸». په دې ډول هم د نامه له مخې او هم د کال له مخې یې لومړنی انتساب شهباز خان ختک ته مسلم ښکاري. خو ښایي، دا ټوپک وروسته بیا خوشحال خان ته رسیدلی وي او د هغه په نامه مشهور شوی وي.»

د پوه او ناپوه تر منځ یو لوی توپیر هم دا دی چې، پوه وایي: «زه تصور کوم» او ناپوه وایي : « زه پوهېږم» او پدې وړ غواړي چې، خپله علمي خلا ډکه وښیي، مګر عالم ، د خپل علم په رڼاکې ډوب وي او د ځان ښودلو ته اړتیا نه لري. دا ټولو ته ثرګنده او ثابته ده.

مور چې کله، د ځینو لیکوالو لیکنې ګورو ، هلته ښځې یو داسې حالت هم تر سترګو کېږي، لکه یو لیکوال چې یو سړی تر لاس ونیسي او په څلور لارې کې خوشې کړي، د لیکنې په بهیر او پایله کې، د لوستونکو لپاره وړاندیزونه، نه لري او بیا نو طبیعي ده چې، ویونکی ښځې حیران او شول شید پاتې کېږي چې، اوس نو پر کومه خوا سترګې و غړوم او پر کوم لوري ولاړ شم، مګر دا تاریخي او څېړنیز اثر، دغه وړ کمی نه لري.

ددې په څنګ کې، دا ټکی هم د یادولو وړ دی چې، استاد که څه هم، ښه زیات وخت په بهر کې پاتې شوی دی، مګر په پښتو او دري ژبو یې بشپړه واکمني، نه یوازې له لاسه نه ده ورکړې، بلکې په دواړو د حیرانتیا تر کچې پورې واکمن دی. ډېرې پېچلې موضوعګانې، په لنډو او اسانو کلماتو کې داسې بیان او څېړلې دي چې، د انسان په ذهن کې را پیدا شوېو پوښتنو ته، په زړه پورې منطقي ځواب په لاس ورکولی او هره یوه، په خپل خپل وخت او ځای کې ځوابولی شي.

موږ ویاړو چې، په پښتو ژبه یو داسې قیمتي اثر، د علم او ادب د خپراوي په لړ کې، د چاپ او خپرولو ډګر ته راوځي. دا د پښتو ژبې لپاره، یوه بله ستره نیکمرغي ده چې، د استاد جلالي په خیر، د پیاوړی قلم خاوند اونامتو سیاست پوه یې، د داسې نوښتګر اثر په لیکلو سره پالي اود هغې ښایسته او ورېښمین بدن ته، نوې او تازه وینه ورکوي. په قلم دې برکت او له مخې دې رڼا شه.

کورودان
څېړندوی محمد نبي صلاحي
کابل- د علومو اکاډمي

# سریزه

چې مغولو ته مې وتړله توره درست
پښتون مې وعالم وته ښکاره کړ
اتفاق په پښتانه کې پیدا نه شو
کنه ما به د مغول ګرېوان پاره کړ

د خوشحال خان ختټک دغه منظوم کلام که له یوې خوا په لنډه عبارت، د هغه نومیالي پښتون د اوږدو مبارزو اغېزې او پایلې څرګندوي، نو له بله پلوه په دې مضمون کې د هغه لښکري ځواک، د داخلي کمزورتیا انعکاس پروت دی چې، په قبیلوي ټولنیز نظام باندې اتکا لري او له یوې مسلطې فیوډالي واکمنۍ سره یې، د پوځي ازمایښت په ډګرونو کې، د تکتیکي نتایجو په منځ کې د اړیکو د نشتوالي او بیلتون په وجه، مجموعي اغېزې هېڅکله په یوه ستراتژیک لوري توجیه نه شوې او په نتیجه کې، د زیاتو تکیتکي بریالیتوبونو له ګټلو سره سره یې، ستراتژیک مرام په مطلوب ډول ترسره نه شو. بیا خو دا څرګنده ده چې، د ستراتیژیکي تمایلاتو او ستراتیژیک عمل په ساحه

کې سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، سایکالوژیک او لښکري عوامل، له یوه بل سره د دوه اړخیزو او څو اړخیزو اړیکو په درلودلو سره، د یوه مجموعي ځواک ضروري عناصر دي او هر یو ځانته اغیزمن رول لوبولای شي.
د هند د ګورګاني مغولي واکمنۍ له پوځونو سره، د پښتنو د قبایلي لښکرو په دوه سوه کلنو جنګونو کې، پر قبیلوي جګړه ییز طاقت باندې د امپراتوری قدرت ستراتژیک لاس بری، په سیمه ییزو شرایطو کې پر امپراتوری جنګي ماشین باندې د قبیلوي پرګنیز جګړه ییز ځواک تکتیکي تفوق او د ټولنې د اقتصادي- ټولنیز جوړښت له مخې د قبیلوي وروسته پاتې نظام په پرتله، د فیوډالي امپراتوری نظام د جنګي پوتانسیل لوړوالی، هغه واقعیتونه دي چې، د خوشحال خان ختک په زمانه کې، د ګورګانیانو او پښتنو د تاودو او سړو جګړو په سرنوشت باندې اغیزمن شوي دي. ددې اوږدو جګړو په ترڅ کې، که له یوې خوا راجا بیر بل له خپلو اتو زرو منظمو سپاهیانو سره د پښتونخوا په غرونو کې خپل سرونه بایلي[1]، د تیرا په کوټ کې د احداد توره د ګورګاني لښکرو بهیرونه ماتوي[2]، د خیبر د غریب خانۍ په غاښي کې د شینوارو، اپریدو او مومندو جنګیالي د محمد امین خان بخشي په لښکرو ماتوونکی توفان جوړوي[3] یا شجاعت خان له خپلو لښکرو سره د کړپې په غاښي

کې د ایمل مومند په توره د ګورګاني لښکرو له حشمت سره تر خاورو لاندې کېږي[4]، نو له بلې خوا د ګورګاني حکومت سیاسي ستراتیژۍ د پښتنو قبایلو په منځ کې د زور او زر، چل او هنر له لارې د نفاق او بیلتون داسې اورونه لګوي چې، په نتیجه کې یې د پښتنو تکتیکي ګټې، په ستراتژیکي محصول پراختیا نه مومي.

هغه انسان ته چې مورږ« د تورې او قلم خاوند» عنوان ورکړی دی، په رښتیا سره یې د خپلې زمانې او چاپیریال دې واقعیتونو ته پام شوی دی او ښه پوهید لی دی. هغه څه چې ګورګانیانو له پښتنو سره په جنګ کې د هنر له لارې ترلاسه کړي دي، ډېر ځلې تر هغه څه زیات دي چې، د جګړې په ډګرونو کې یې ګټلي دي او دا په دې وجه چې، د پښتنو په لاس کې خوښه کاري توره وه او د تاریخ ستر توریالي او جنګیالي هم وو، مګر د خپل ټولنیز محدود نظام په چوکاټ کې یې د سیاسي ستراتژۍ نورو قوتونو کافي وده نه وه کړې.

خو په تورو په توبریو په نیزو شي
صد چند ان شي په تدبیر په هنرونو[5]

«توره» او «تدبیر» خو د خان د فلسفې او سیاسي افکارو په دنیا کې پراخ مفهومونه دي او ښایي وکولای شو، د پوځي عمل او سیاسي عمل، د جنګ مادي طاقت او معنوي قدرت، عسکري

ستراتژۍ او سیاسي ستراتژۍ، جنګ او ډیپلوماسي له تفسیر سره يې مربوط وبولو. که څه هم د غه تعبیر او تفسیر د اوسنۍ زماني د اصطلاحګانو له مخې وشي. تغییر به يې لفظي وي او په کلي معنا کې به يې ډېر توپیر رانه شي او یا ښایي وکولای شو، د قدرتونو د دوه اړخیزو او څو اړخیزو مناسباتو او سیالیو په برخه کې «توره» او «تدبیر» په قوه باندې د متکي سیاست (Power Politics) د اساسي وسایلو د ځرګندولو سمبولونه وګڼو چې، د عمل په صحنه کې يې د ریموند ارون په وینا عسکر او سیاستمدار دوه سمبولیک اکتوران دي.[6]
د همدې احساس په رڼا کې وو چې، خوشحال خان له ګورګاني واکمن سره د خپلو تاودو او سړو جګړو په ډګرونو کې د یوې روحي وسلې، په توګه له خپل قلم څخه هم توره جوړه کړه. د خوشحال قلم خو هغه وخت توره وګرځیده چې، اغیزې يې د پښتنو توره لا تیره کړه. که څه هم په خپله خوشحال د ګورګاني مغولو په مقابل کې د ډېرو جګړه ییزو ډګرونو له تکتیکي ګټلو سره سره د ژوند تر پایه د غلیم د سیاسي ستراتیژۍ قرباني وو. خو څرنګه چې خوشحال په ۱۲۱۳ م. کال کې په یوه جګړه ییزه فضا کې دنیا ته راغی او بیا د تورو په شور او زوږ کې په ۱۲۸۹ م. کال کې مړ شو، جنګي عمل يې د درست ژوند په دوران کې همیشنۍ

مشغولا وه، فرق نه کوي، که دا مشغولا قبیلوي جګړې وي یا د مغولو د ملاتړنې او بیاملا ماتونې لپاره رزمي تلاش.

که بری که هزیمت واړه لیدلی
خوی خصلت لرم د قتل د قتال
پلار نیکه مې شهیدان و ګور ته تللي
پشتا پشت مې هنر دا دی آل په آل
که د جنګ د پرهارونو درته وایم
چې له درده به مې تن وو لکه نال
یو پرهار به مې لا روغ په وجود نه وو
بل پرهار به مې په تن شو یا په ډال[7]

ددې همیشني پوځي عمل په ترڅ کې، د خان قلم هم توره وګرځیده او یا دده په وینا په قلم کې یې هم تورې رژولې.

آفرین دې په ویلو شه خوشحاله
چې د تورې رژول کړې په قلم کې

دا لا څه کوې چې، د خوشحال خان د اسلافو تاریخ هم تر زیاتې اندازې د جنګي تاریخ پانې لري.

توره بخره د خوشحال ده
کان په کان خلق خبیر
تر اوو پیړیو پورې
واړه مړه په تیغ او تیر[8]

د خان د اوو پيړيو تاريخ چې هر څه وي، وی به، خو ښکاره ده چې غور نيکه يې ملک اکوړي، نيکه يې يحيی خان او پلار يې شهباز خان درې واړه د قبيلوي جګړو په ډګرونو ياد قبيلوي دښمنيو په ترخ کې وژل شوي دي.[9]

د خوشحال خان د ژوندانه د جنګي اړخ له پراخوالي سره سره چې، د زياتو عواملو محصول دی، تراوسه په دې برخه کې زياتې پوځی ښېړنې نه دي شوي او په تيره بيا مسلکي او تخنيکي ښېړنې خو په دې باب هېڅ نشته. برسيره پر دې د خوشحال خان د زمانې او چاپيريال د عسکری حالاتو او تشکيلاتو د مسلکي او تخنيکي ښېړنې لپاره په لاس ته راغلو منابعو کې دقيق او څرګند مواد هم لږ دي او له مجهولاتو ډک ليدل کيږي. همدارنګه، د دوسلو او تجهيزاتو، جګړه ييز تخنيک او مهماتو د څرنګوالي او کيفيت د عملي ښېړنې امکانات يې هم محدود دي. په دې برخه کې هغه څه چې زه يې تراوسه په ليدلو بريالی شوی يم، د خوشحال خان ختک يو پلته يې ټوپک دی چې، غالباً له خپل پلاره شهباز خان ختک نه ورته پاتې شوی او اوس هم (۱۹۷۹) په همدې نامه د افغانستان د وسله وال پوځ، د لرغونو وسلو په ډله کې خوندي دی.

په دې وجه، هغه څه چې په دې مقاله کې ښېړل کيږي، د خوشحال خان د زمانې د عسکری حالاتو او تشکيلاتو په هکله به يوه

لومړنی مقدمه وي چې، هیله ده په راتلونکي کې پراختیا ومومي او د خان د عصر او چاپیریال د عسکري اړخ بشپړ، مسلکي او تخنیکي پیژندنه پرې وشي.

په دې څېړنه کې زما اصلي پاملرنه داده چې، د خپل توان په اندازه د خوشحال خان د زماني او ماحول د عسکری حالاتو او تشکیلاتو په باب دا لاندې موضوعګاني وڅېړم:

۱- د عصر او چاپیریال ستراتژیک تمایلات او د هغو سیاسي، اقتصادي او ټولنیز بنیادونه.

۲- د دښمنو طاقتونو د پوځي قدرت بنسټ او د هغوی د جوړښت، تشکیلاتو، وسلو او تجهیزاتو لنډه پېژندنه، د هغوی ستراتژیکي او تکتیکي اغیزې.

۳- د ګورګاني حکومت او پښتنو په جنګونو کې د ستراتژیک او تکتیکي عمل څرنګوالی او د هغه پایلې.

---

[1] په کال ۱۵۸۶ کی د جلال الدین اکبر مشهور پوځی مشر راجا بیربل له خپلو اتو زرو سپاهیانو سره له یوسفزو سره په جګړه کی د کړپې په غاښی کی تباه شو

[2] په ۱۶۱۴ کال د نورالدین جهانګیر له پوځ سره د تیرا په کوټ کی د مغولو ماتی

[3] په ۱۶۷۲ کال په خیبر کی د کابل د مغولی صوبدار محمد امین خان بخشی په پوخ باندی ماتوونکی ګوزار

[4] د ۱۶۷۳ کال په ژمی کی چی د کورګانی قوماندان شجاعت خان پوځ د کړپې په غاښی کی تباه شو

[5] د خوشحال خان کلیات، د دوست محمد خان کامل په مقدمه او شرح، د پېښور چاپ، ۱۹۶۰ کال، ۲۲۰ مخ (وروسته له دې د کلیات په نامه معرفي کیږي).

[6] Raymond Aron, Paix Et Guerre Entre Les Nations, Paris, P-56

[7].کليات ۵۴۲ مخ

[8].کليات ۸۱ مخ

[9].افضل خان خټک: تاريخ مرصع، د دوست محمد خان کامل په مقابله او تصحيح ( وروسته له دې د مرصع په نامه معرفي کېږي). پېښور، ۱۹۷۴ کال، ۲۲۲، ۲۲۷ او ۲۷۰ مخونه.

## د عصر او چاپيريال ستراتژيک تمايلات او د هغوی بنسټونه

د خوشحال خان ټول ژوند په ۱۷ ميلادي پيړۍ کې تير شوی دی او کارنامې يې زياتره د کابل سيند په کوزه جلګه يعنې د پيښور په وادۍ کې پيښې شوی دی ، خو د زمان او مکان په دې حدودو کې د منځ ته راغلو واقعيتونو او پيښو بنيادونه له دې حدودو څخه هاخوا تيرېږي او د زمان او مکان په اعتبار د تيرو پيړيو او نورو جغرافيوي سيمو له پيښو او واقعيتونو سره اړيکي لري. نو په دې وجه حتی په يوې لنډې څيړنې کې هم دا ضروری ده چې، د جيو ستراتژيا و ستراتژيک عمل د بنيادونو او څرنګوالي په هکله مو د خوشحال خان د چاپيريال او ګاونډيو سيمو تاريخ ته په عمومي ډول او په هند کې د ګورګاني مغولی حکومت له جوړېدو څخه وروسته، په خاص ډول يو ځغلنده نظر واچوو او په دې زمينه باندې، د خوشحال د زمانې او چاپيريال پوځی څيړنه وکړو.

هغه څه چې د سیمې د عمومي تاریخ په هنداره کې له ورایه څرګند ښکاري دا دی چې، د افغانستان په ستراتژیک موقعیت باندې د مسلطو سترو لښکري طاقتونو لپاره د انسبتاًا اسانه وه چې، د هند په نیمه وچه کې د سیاسي بحرانونو او مرکزي قدرت د تجزیې په وخت کې د ختیز په لوري د پرمختګ دروازې پرانیزي او په شمالي هند باندې د پښتونخوا او په تیره بیا د خیبر له لارې لښکري بری تر لاسه کړی. خو بیا ددې تسلط ساتنه ډېره ګرانه او له دایمي ستونزو ډک کار و. اسانه خو په دې وه چې، په داسې شرایطو کې له سیاسي نظره کمزوری هند او له اقتصادي پلوه شتمن هند د یرغلګرو او پراختیا غوښتونکو سترو لښکري ځواکونو لپاره یو جالب ستراتژیک هدف ګرځیده. په تیره بیا چې، د هند کورنیو سیاسي تربګنیو خارجي یرغلونه هڅول او د هند سیمه ییزو راجاګانو، رایانو، نوابانو او واکمنانو له خپلو کورنیو سیالانو سره د زور ازموینې په ډګر کې پردی تورې ته لاس غزاوه چې، موارد یې په هند باندې د یرغلګرانو په تاریخ کې لړ نه دي. که په لرغوني زمانه کې د تاکسیلا واکمن د خپل هندي رقیب پوروس د ماتولو په تمه، مقدوني سکندر ته په هند باندی د یرغل بلنه ورکړه، نو په ۱۲ مې پیړۍ کې د جموراجا چکره د یوه غوري سلطان شهاب الدین محمد د پنجاب او شمالي هند د نیولو لپاره وهخاوه[9].

د ۱۲مې پيړۍ په لومړيو وختونو کې د دولت خان لودي د پنجاب حکمران او رانا سنگرام سنګ د ميوار غښتلي او نامتو راجپوت مشر، بابر ته د يرغل بلنه ورکړه او مرسته يې هم ترې ونه سپموله[9] او بيا د ۱۸مې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې نادر افشار هند ته د يرغل په هلو ځلو کې د دکن د والي نظام الملک او داوود (Oudh) د صوبدار سعادت خان بلنې ترلاسه کړې وې[9]. څو کاله وروسته دا کار د احمد شاه ابدالي او لمسي يې زمانشاه د هندي سوقياتو په وخت کې هم شوی دی. انګريزانو خو د همدې راز کورنيو رقابتونو د نتيجو په اثر دوه سوه کاله د هند شتمني وښتېله.

خو په شمالي هندباندې د داسې يرغلونو د لومړيو څپو له برياليتوب وروسته به، يا يرغلګر طاقت يوازې د هند په تاراج او يوه تش په نامه نفوذ قناعت وکړ او د هند له خزانو سره به بيرته خپل وطن ته ستون شو او يا به يې هلته واړول او په هند باندې به يې د دايمي تسلط هلې ځلې پراخې کړې. په لومړي صورت کې پر دې يرغل يوازې يو خونړۍ او تالاکوونکی تګ او راتګ وو او په دويم صورت کې به، پر دې يرغلګر طاقت په هند کې د يوه غښتلي او متحد دولت د جوړولو په تلاش کې د هند د بيلابيلو سيمه ييزو قدرتونو سره په داسې پراخ او دوامداره جنګي عمل

بوخت شو چې، په افغانستان کې به یې د ستراتژیکو پولو ساتنه یوه لویه ستونزه وګرځیده.

د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو مؤسساتو په یوه غیر متجانس جغرافیي چاپیریال کې د یوه پردي او په لښکري طاقت متکي واکمنی (Super group) د ټینګیدو په ترخ کې، چې استعماري او استثماري خصلت یې درلود او د خپل خصلت له مخې یې، د نومورې چاپیریال داخلي تضادونه په سوله ییزډول نه شو حل کولای، دکورنیو جګړودوام یو طبیعی جریان وو. که څه هم په ۱۲مه پیړۍ کې جلا ل الدین اکبر د «الهي دین» د نظریې په وړاندې کولو سره، په موقتي ډول راجپوتان او مرته[مرهټه] د ځان ملګري کړل، خو د تضادونو اصلي ریښې په خپل قوت پاتې وې او بیا د اورنګزېب د شدید تعصب له مخې، دغه داخلي مخالفتونه په داسې قوت سره راغونډ شول چې، په ۱۸ می پیړۍ کې یې د ګورګاني حکومت د سیاسی قدرت زیات برجونه والوزول. نو ځکه په داسې چاپیریال کې، په هماغه توګه چې، د داخلي تضادونو په وجه د مرکزي تشکیلاتو نشتوالی یا کمزورتیا د بیلابیلو سیمه ییزو سیاسي او فرهنګي واحدونو رقیبانه جګړې هڅولې، نو د مرکزي مطلقه تشکیلاتو په تمرکز سره چې، د یوه لښکري حکومت له لارې منځته راته - په داسې حال کې چې سیاسي، فرهنګي او ټولنیز پخلاتوب ترسره شوی

نه و   سیمه ییزو جګړو د دوامداره داخلي جګړو بڼه نیوله چې، د واکمن قدرت په مقابل کې به جاري وي. رانا سنګ د راجپوت پیاوړي مشر بابر ته په هند باندې د یرغل بلنه ورکړه، خو کله چې بابر په هند باندی د تسلط په فکر کې شو، بیا همدا رانا سنګ لومړنی سړی وو چې، د بابر په مقابل کې یې په جنګ لاس پورې کړ. دې ډول کورنیو جګړو په هند کې د ګورګاني حکومت په درسته دوره کې دوام درلود.

د همدې حقایقو په رڼا کې بابر په ۱۵۲۶ م.کال کې وروسته له هغه چې د پاني پت میدان یې وګاټه، ډهلي ته د خپلې واکمنۍ د مرکز په لېږدولو سره بڼه پوهیده چې، د شمالي هند له ستراتژیکي اډې څخه د هند په ختیزو، جنوبي او جنوب لویدیزو سیمو باندې د تسلط لاره، چې د بنګال، کشمیر راجستان، دکن، ګجرات، مالوه او خاندیش په شان سیاسي او لښکري طاقتونه پکې پراته وو، ډېره اوږده او له ستونزو ډکه ده. نو څکه په داسې حال کې چې تر خپلې مړینې، یعنې ۱۵۳۰ م.کاله پورې یې په شمالي هند کې یوه کم سورې تړانګه نیولې وه او حدود یې په شمال کې له پټنې، سرهند، سیالکوټ او اټک او په جنوب کې له چاندري، بیانه، میوار او بنو څخه تیربده[9]، په هند کې یې د خپل دریځ د پیاوړي کولو لپاره، د خپل قدرت مرکز په افغانی اډه یعنې کابل او کندهار کې لیده. د هغه د قدرت برخه لا د هند

په پراخه نيمه وچه کې، د وسعت له نظره ډېره وړه وه. که څه هم ستراتژيکي اهميت يې زيات و، خو د دې ستراتژيکي اډې اهميت د پنجاب او خيبر له لارې له کابل او کندهار سره د ارتباط په ساتلو کې پټ و، ځکه چې د هندي بيلابيلو قوتونو په مقابل کې، د ماتې په صورت کې يې د افغانستان په ساتلو سره واکمني خوندي پاتې کيده او په دې هکله بابر د خپلې ستري ماجرا غوښتنې سره سره ډېر په احتياط چلند کاوه. وروستيو پيښو دا خبره ثابته کړه، ځکه کوم وخت چې همايون په ۱۵۴۰ م.کال کې د سوري شيرشاه په مقابل کې ماتې وکړه او د هند په پرېښودو مجبور شو، په افغانستان کې ګورګاني واکمني خوندي پاتې شوه. که څه هم همايون په لومړي سر کې د خپل ورور کامران له لاسه د دې واکمنۍ په نيولو بريالی نه شو، خو بيا يې د لسو کلونو خونړيو جګړو په نتيجه کې، د کابل صوبه وګټله او له همدې ځايه و چې، له خپلې ماتې نه ۱۵ کاله وروسته يې يو ځلې بيا د خپل پلار په پله ګام کيښود او د افغانستان په ستراتژيکي قوت يې بيرته د ډهلي تخت ترلاسه کړ.

په دې توګه په هند کې د کورنيو عواملو سياسي، اقتصادي او ټولنيزو ډيناميزم د ګورګاني واکمنۍ په درسته دوره کې، د افغانستان پر سيمو باندې د هغه حکومت سياسي، اقتصادي او ستراتژيکي اتکا ډېره ضروري ګرځولې وه او د دې سيمې او

ورسره تړلو ستراتژیکي لارو او ارتباطي کړیو، د ساتلو لپاره نوموړې واکمني د خپل توان تر وروستي پولې پورې جنګیده.
ددې کورنیو عواملو په څنګ کې، د ګورګاني واکمنۍ د سیاسي او ستراتژیکي تمایلاتو په جوړښت کې هغو بهرنیو عواملو هم ستره اغیزه درلوده چې، له هند نه بهر له نورو سترو واکمنیو سره د سیاسي او ستراتژیکو اړیکو په مسألو پورې مربوط وو. په ۱۲ او ۱۷ پیړیو کې چې ګورګاني واکمنۍ د افغانستان او شمالي هند له حساسي ستراتژیکي سیمې څخه د خپل تسلط منګولې، د هند د نیمې وچې په پراخو سیمو باندې ټینګولې، د ایران صفوي واکمني، په تیره بیا وروسته له هغه چې شیبانیان یې، د افغانستان په شمال او لویدیز کې مات کړل، ستر قدرت وموند. په ماوراءالنهر کې د ۱۲ مې پیړۍ په دوران کې شیباني حکومت او په ۱۷ مې پیړۍ کې جُنیدي استراخاني واکمني مسلط طاقت وو چې، د آمو په جنوب کې یې پر بلخ او ورسره تړلو سیمو باندې هم نفوذ درلود او د هندوکش پر جنوبي برخو باندې یې، د تسلط تمه هېڅکله له زړه ونه ایستله.
په دې ډول، ددې دوو پیړیو په دوران کې افغانستان د دریو امپراتورۍ واکمنیو د رقابتونو او پراختیا غوښتنو د پرله پسې هلو ځلو ډګر ګرځیدلی وو چې، د سیاسي، ستراتژیک، اقتصادي او تجارتي ګټو په سر باندې یې همیشنۍ کش او کړپ

روان وو.پـه دې تـرڅ کـې، ددې دربـو واړو پراختيـا غوښـتونکو رقيبو قدرتونو په منځ کې، چې په سياسي او پوځي عمل کې يې د واکمنو طبقو ګټې لټوني تسلط او نفوذ درلـود ، لـه يـوې خـوا د جغرافيي تماسونو او له بل پلوه د ګټو د ټکر او تصادم پـه نتيجـه کې پوځي نښتې او جنګي عمل ( په بله وسيله د سياسي عمـل د دوام پـه توګـه ) يـوه بـالقوه غوښـتنه او تمايـل وګرځيـد چـې، د شـرايطو پـه مسـاعدت او د قـواوو د تـوازن پـه بـدلون سـره پـه باالعمل تصادم بدليده.

د بين المللي روابطو پـه سـاحه کـې د نومـوړو قـدرتونو تـرمنځ د جنګي شرايطو له ډلي څخه د پروفيسر رايت د جنګ د څيړنې پـه اساس[9] جغرافيوي واټن له منځه تللی وو ،په داسې حـا ل کـې چـې د سولې او پخلاتوب د شرطونو ، د بيلابيلو سياسـي، اقتصـادي او ټولنيزو اړخونو په منځ کې واټنونـه زيـات او خلاګـانې پراخـې وې. دې وضعيت، د نومـوړو واکمنيو په اړيکو کـې پـه قـوه بانـدې د متکي سياست (Power Politics) تسلط ټينګ کړی و چې، د قدرت د توازن (war Equilibrium) په له منځه تلو سره د هغوی په منځ کې د جنګ پيښيدل حتمي و.

نـو پـه دې وجـه، د بـالقوه جنګـي تصـادم پـه حالـت کـې تـل ددې قدرتونو له خوا هڅه کيده چې، خپل موقعيت د بل په مقابـل کـې پيـاوړی وسـاتي. پـه دې تـرڅ کـې، د متحـدينو د پيـدا کولو ، د

اقتصادي او تجارتي امتیازونو ترلاسه کولو، د ستراتژیکو برترو جغرافیوي سیمو د لاس ته راوړلو او حتی د ایډیولوژیک نفوذ د خپرولو په اړخونو کې رقابتونه همیشني او د سولې او جنګ په دوران کې مسلط تمایل وو. دا خبره ټولې هغه هلې ځلې روښانوي چې، ګورګاني واکمني د منصبونو، القابو، جاګیرونو، سرکاري زر او لښکري زور له لارې د سیمه ییزو قبایلي مشرانو د ملګري کولو لپاره، په ستراتژیکي لارو او ورسره تړلو ستراتژیکي اډو باندې د نفوذ او کنټرول د ساتلو په مقصد او د هندوکش په شمال کې د دفاعي ستراتژیکو پولو د خوندي ساتلو او د کندهار د ترلاسه کولو په لاره کې ترسره کړي دي. حتی په داسې شرایطو کې چې د مرهټه وو او راجپوت طاقتونو په دوامداره توګه، د هند په نیمه وچه کې د ګورګاني امپراتورۍ قدرت د مبارزې ډګر ته ورباله، د ډیلي سیاسي او ستراتژیکي اساسي پاملرنه لویدیز ته متوجه وه، څو له یوې خوا د هند دروازې د رقیبو قدرتونو په مقابل کې خوندي وساتي او له بله پلوه، د افغانستان له لښکري، سیاسي او اقتصادي منابعو څخه بې برخې پاتې نه شي.

په افغانستان کې د ګورګاني مغولی واکمنۍ د نفوذ د خوندي ساتلو په هکله، د بابرشاه تمایل د بابرنامې په ډېرو پاڼو کې منعکس شویدی. همایون لس کاله د پرله پسې او خونړیو جګړو

په بیه خپل نفوذ بیا په بدخشان او کابل کې ټینګ کړ او د (آئین اکبري) مؤلف ابوالفضل علامي د اکبر په زمانه کې په دې باب داسې لیکي: « خِرد پژوهان باستان، کابل و قندهار را دو دروازۀ هندوستان برشمرند ، از یکی به توران بروند و از دیگری به ایران، و از نگهبانی این دو فراخنای هندوستان از بیگانه ایمنی یابد و نیز جهان نوردی بدین دو راه سزاوار.»[9]

ددې سیاسي او جیو ستراتژي حالت په چوکاټ کې، د اباسیند د لویدیزې غاړې سیمې چې د پښتنو قبایلو وطن دی، د هند او افغانستان په منځ کې د مهمې ارتباطي کړۍ په توګه ستر اهمیت درلود. خیبر ،کورمه او بولان د ختیز په لوري، د لښکري یرغل د څپو لپاره له ډېرو لرغونو زمانو څخه هغه طبیعي لارې وې چې، د تجارتي او ستراتژیک ارتباط اساسي پلونه ګڼل کیدل. په خپله د افغانستان طبیعي جوړښت او جغرافیوي موقعیت له ډېرو پخوا زمانو څخه په دې سیمه باندی، د مسلطو پراختیا غوښتونکو قدرتونو په سیاست او ستراتژۍ باندی ستره اغیزه لرلی ده. ددی موقعیت جیو ستراتژیکی ډینامیزم ، د هند په لوري د پرمختګ ستراتژي، د شمال په لوري دفاعي ستراتژي او د لویدیز په لوري د توازن ستراتژي تشویقوله او مساعدت یې ورسره کاوه.

ددې واقعیت په جوړښت کې، د خیبر، کورمې او بولان او په عمومي توګه د اباسیند د لویدیزو غرنیو سیمو اهمیت خورا زیات وو، ځکه له هند سره د کابل او کندهار د سیمو ارتباط، یوازې په همدې لارو باندې د حاکمیت په اثر ترلاسه کیدای شو. دې مسألې په ۱۹مه پیړۍ کې د انګریزي استعمار د علمي سرحد (Scientific Frontier) د فرمول په طرح کې هم اغیزه درلوده او حتی په هند باندې، د برتانوي استعمار د تسلط په دوران کې، د برتانوي هند لښکري وضع الجیش (د پوځی ځواکونو د میشته کیدو ځایونه) هم د همدې واقعیت تر اغیزې لاندې وو. په دې معنا چې، د برتانوي هند ټول وسله وال پوځ اساساً د دوو اردوګانو په چوکاټ کې تنظیم شوی وو: په شمال کې د بنګال اردو پرته وه چې، ځواکونه ئې د بنګال، اله اباد، ډهلي، لاهور او پیښور په کرښه کې ځای په ځای شوی وو او ټول خیبر ته ورځیرمه وو. په جنوب کې د بمبیي اردو د جنوبي هند، حیدراباد، سیند او سیوی په کرښه کې ځای پر ځای شوي ووچې، مخه یې بولان ته وه. د راجپوتاني صحرا د دواړو اردو ګانو په منځ کې د طبیعي مانع په توګه حایل وو.[9]

نو په عمومي ډول د ګورګاني واکمنې دې سیاسي او جیو پولټیک تمایل، په طبیعي توګه د هند او افغانستان په منځ کې ستراتژیکي اړیکې، یو اصلي او حتمي شرط ګرځولی وې چې،

په خوندي لارو او د هغو په اوږدو کې پر اوپراتيفي اډو باندې کنټرول په کې شامل وو. دې شرط د خيبر او بولان د لارې اهميت په تجارتي ارزښت سربېره، د ستراتژيکو غوښتنو له مخې ډېر مهم ګرځولی وو او په تيره بيا د خيبر لاره، د دوو عمده دليلونو له مخې ګورګاني حکومت ته ډېره مهمه وه:

اول دا چې، د خيبر لويه لاره هسې يوه لويه لاره نه وه، بلکې يو ستر اوپراتيفي استقامت ووچې، د لښکري سوقياتو لپاره يې په دواړو خواوو کې نورې لارې هم موجودې وې چې، که څه هم د خيبر د لارې په شان مساعدې نه وې، خو د اوپراتيفي لارو په شبکه کې يې زيات ارزښت درلود. دا لارې د خيبر په شمال کې د کړپې د غاښې لاره او په جنوب کې يې د بازار د درې او د کورمې لارې وې چې، د خيبر د تړل کيدو په وخت کې د لښکري سوقياتو لپاره ترې کار اخيستل کيدای شو. لوکهارت دا راکلی له خولې چې له نادر افشار سره د هند په سوقياتو کې ملګری وولیکي: «کوم وخت چې نادر واورېدل چې، پښتنو د خيبر دره د هغه پرمخ تړلې ده او نه شي کولای دغه قوي سنګر مات کړي، نو له باريکاب څخه يې د جنوب په لوري خپله لاره بدله کړه او د څخوبي غاښي او بازار درې له لارې يې د خيبر له جنوبه يو اړخيز مانور اجرا کړ او له دې لارې نيغ علي مسجد ته ووت او د شا له خوا يې د خيبرپه سنګرونو يرغل وکړ.[9]» همدا رنګه د اورنګزيب د

واکمنۍ په زمانه کې مهابت خان په ۱۲۷۳ او شجاعت خان په ۱۲۷۴ کال د کړپې د غاښې له لارې او لږ څه وروسته آغرخان د بازار د درې له لارې ګورګاني پوځونه سوق کړل[9].برسيره پر دې، د خيبر د اوپراتيفي استقامت په اوږدو کې ستراتژيک مهم موقعيتونه لکه اټک، نوښار، پيښور او کوهاټ پراته وو چې د لويو لښکرو د ستراتژيکي تاميناتو لپاره مساعدې اډې وې.

دويم دا چې، د خيبر استقامت په مستقيم ډول شمالي هند ته ورڅيرمه وو چې، هلته د ګورګاني واکمنۍ د قدرت مرکز او د ستراتژيک پوتانسيل منبع پرته وه، په دې توګه، د خيبر لاره د شمالي هند او کابل ترمنځ د ستراتژيک ارتباط لنډه لاره وه. په داسې حال کې چې، د بولان اوپراتيفي استقامت مستقيماً کوز سيند ته متوجه وو او يوازې د يوه اوږده قوس په پرېکولو سره يې د شمالي هند له لويې لارې سره ارتباط ټينګاوه، هغه هم د اباسيند د غاړو په اوږدو کې او دا ځکه چې، له هغه نه ختيز پلو ته د راجپوتاني صحرا واقع ده.

دې سياسي او ستراتژيک ډيناميزم په ۱۲ او ۱۷ مو پېړيو کې د پيښور د جلګې ستراتژيک اهميت، په خاص ډول او د اباسيند د لويديزې غاړې د سيمو ستراتژيک اهميت په عام ډول زيات کړی وو. په دې وخت کې، د اټک او خيبر د لويې لارې په شمال کې يوسفزي او په جنوب کې يې د اباسيند نه د لويديز په لور

ختک او بنګښ او سیدل او د خیبر په شاوخوا کې اپریدي، مومند او شینواري اباد وو، نو ځکه د خیبر د او پراتیفي استقامت په شاوخوا کې ګورګاني حکومتونه، د خپل عسکري او سیاسي نفوذ په ارتباط په لومړۍ کرښه کې، له همدې قبیلو سره مخامخ وو

## د دښمنو طاقتونو د پوځي قدرت بنسټ او جوړښت او د هغو ستراتژیکې او تکتیکي اغیزې

له دې کبله چې، بابریان هند ته د یوه پردي طاقت په توګه ننوتل او هلته یې د خپل حکومت بنسټ کېښود، په اول سر کې د هغوی حکومت یو لښکري تسلط وو چې، وروسته بیا یې په هند کې د زیات نفوذ په وجه د یوه فیوډالي اردو زېرۍ تشکیل کړ. خو ګورګانیان هند ته د خپل مرکز په لیرېدولو سره په تدریج د هندي ټولنې عمق ته ننوتل او د خپل حکومت د ټینګتیا لپاره یې، د سیاسي قدرت له ټولو اړخونو ښخه ګټه واخیسته. په هند کې د ګورګانیانو دولت د هند له داخلي قدرتونو او خارجي واکمنیو سره د دوامداره جګړو په جریان کې ټینګ شو او په دې وجه یې عسکري تشکیلاتو د کمیت او کیفیت له مخې په هماغه تناسب پراختیا وموندله. کله چې د جلال الدین اکبر د واکمنۍ ستنې په

هند کې ټینګې شوې، د ګورګاني حکومت په واک کې دا سې یو ستر لښکري ځواک پروت وو چې، په سیمه کې یې ساری نه درلود. دغه اردو چې له مغولو، ترکانو، پښتنو، تاجکو، پارسیانو او راجپوتانو څخه جوړ شوی وو، په اصل کې یو فیوډالي لښکر وو چې، د هغه د تشکیلاتو اساس په منصبداری سیستم ولاړ وو. دغه جوړښت د هند د ټولنیزو شرایطو محصول وو چې، ګورګاني امپراتورۍ پکې حکم چلاوه. دا هم یوه طبیعي خبره ده چې، د هرې زمانې او هرې ټولنې د پوځی مؤسساتو جوړښت، د هغې زمانې له عمومي ټولنیز جوړښت سره تړاولری. کله چې د یوې ټولنې اقتصادي- ټولنیز جوړښت بدلون ومومي، نو د پوځی مؤسساتو په ماهیت او جوړښت کې هم بدلون منځته راځي. په اروپا کې د منځنیو پیړیو خاص لښکري مؤسسات د شوالیه ګانو پر طاقت متکي یو فیوډالي پوځی جوړښت وو، خووروسته په ټولنه کې د پولي اقتصاد د ودې په وجه دغه جوړښت بدلون وموند او په نتیجه کې یې، د یوې اوږدې پروسې په ترځ کې فیوډالي لښکر په حرفه یي اجیر لښکر بدل شو[9]. او همدارنګه د فرانسې له انقلاب (۱۷۸۹) وروسته حرفو یي اجیر لښکر د ټولنیز جوړښت په تحول سره، په بورژوازۍ ملي لښکر بدلون وموند[9].

## د پوځونو جوړښت

پــه هنــد کــې بابریــانو د یــوه اســتعماري لښــکر پــه وســیله خپــل لــومړنی تســلط ټینــګ کــړ او وروســته بیــا یــې د هنــدي ټــولنې د شرایطو پــه اســاس فیوډالي لښکري جوړښت ته مخه کړه. دا خبره لـه ګـورګانیـانو څخـه دمخـه پـه هنـد کـې د افغـاني حکومتـونـو د واکمنــۍ پــه دوره کــې هــم احســاس شــوې وه. پــه پیــل کــې افغــاني سلطنت پـه شمالي هند کې د داسې یـوه لښـکر لـه خوا ټینـګ شـو چې، اکثریت یې مسلمانان وو[9] او د ټینګیدو پـه جریـان کـې یـې د مسلمانانو لـه مذهبي جذباتو څخه د هندیانو پـه مقابلـه کـې د یـوه ایډیولوژیک قدرت پـه حیث کـار اخیسـتل کیـده. وروسـته بیـا چې، همـدې حکومـت پـه هنـد کـې ریښـې وځغلـولې، لښـکري جوړښت یې فیوډالي بڼه ونیوله. د ۱۴مې پیړۍ تر نیمایي پورې د افغـاني حکومتـونـو لښـکري تشـکیلاتو ثابـت شـکل درلـود او علاوالـدین خلجـي د ۱۳مـې پیـړۍ پـه پـای کـې د مرکـزي دایمـي اردو د سپاهیانو شمېره، چې تر خپلې مستقیمې پاملرنې لاندې یـې پـه لښـکرو کـې نیـول، تقریبـاً نـیم میلیونـو تـه ورسـاوه.[9] د راتلونکې سدۍ لـه نیمایي وروسته د فیروزشـاه تغلق د واکمنـۍ پـه دوره کې چې، پـه هنـد کـې د افغـاني حکومـت نفوذ ژور شـوی وو، د اردو جوړښـت د ټـولنیز چاپیریـال تـر اغیـزې لانـدې یـوه بشپړه فیوډالي بڼه وموندله.

په لښکري جوړښت باندې د ټولنې د داخلي جوړښت اغېزه په ۱۲ او ۱۷ مې پېړۍ کې، د پښتنو د هغو لښکرو په بنسټ کې هم ليدل کيږي چې، له ګورګاني واکمنۍ سره د جګړې ډګرونو ته راوتلي دي. په دې پرله پسې جګړو کې د پښتنو پوځي طاقت د هغوی د ټولنې د خاص جوړښت له مخې قبيلوي شکل درلود او بې له دې چې کوم مرکزي دايمي مؤسسات او يا ځانته مشخص هويت ولري، د قبايلو له جنګيالانو څخه راغونډېده او اکثراً يې له خپلو شخصي وسلو سره د خپلو ولسي مشرانو تر لارښودنې لاندې په ميدان کې توره وهله. دغه ډول عسکري قدرت، د قبيلوي نظام د ټولنيز جوړښت ټيپک محصول ګڼل کيږي چې، د هرې لښکري مقدمې لپاره بايد د خلکو له منځه راټول شوی وای. خوشحال خان دې موضوع ته په ډېرو مواردو کې اشاره کړې ده:

ما په ننګ د پښتانه ځوانان قربان کړه
بيا مې غوره غوره جمع بنه ځوانان کړه[9]
شل زره ځوانان لرم همه له يوه ذاته
واړه يګانه شا په خدمت کې راته خمه[9]

هيڅ ترديد نه شته چې د خوشحال دغه شل زره ځوانان په ثابتو عسکري تشکيلاتو کې نه وو تنظيم شوي، بلکې د هغه د قبيلې او ولس خلک وو چې د ضرورت په وخت کې د لښکرو د جوړولو لپاره ميدان ته وتل. د دې ولسي لښکرو خرڅ هم يا په خپله په

جنګیالوو او یا به د خانانو او قبایلي مشرانو له خوا ورکول کیده.

وا ړه د پرش زره ختک دي
درست زما وو په فرمان
په لښکر به زما خرڅوو
یا مې خرڅ وو په مهمان[9]

د فیوډالي لښکرو داخلي جوړښت که د جګړه ییزې هماهنګۍ او مرکزي کنټرول له پلوه ځانته خاصې کمزورتیاوې لرلې، نو شک نه شته چې د ستراتژیکي او تکتیکي اغیزو د استمرار، لوژستیکي ملاتړ، وسلو او تجهیزاتو او سوق او اداري له مخې، د قبیلوي لښکرو تر جوړښت بهتره او اغیزمن وو او دا موضوع په خپله د پښتنو او ګورګانیانو د جنګي تقابل په فضا کې، یو ډېر مؤثر عامل ګڼل کیدای شي.

د فیوډالي لښکري جوړښت پر بنا باندې د ګورګانیانو پوځي ځواک په ۱۲ او ۱۷مې پیړۍ کې د تشکیلاتو، مسلکي پیاوړتیا، وسلو او تجهیزاتو له مخې پرله پسې پراختیا وموندله او د کلونو په تیریدو سره یې، د هند د بیلابیلو قومونو لښکرې مادي او کیفي بڼه اړخونه په ځان کې منحل کړل. منصبداری سیستم په خپله د فیوډالي ممیزاتو په ساتلو سره د مراتبو د سلسلې یو منظم جوړښت وو، که څه هم تکتیکي واحدونو یې د

هند د افغاني دولتونو او د مرهټه وو د اردوګانو په شان تشکیلاتي ثبات نه درلود ، بلکې د هر یونټ تشکیل د منصبدار د «منصب» د منظور شوي صلاحیت سره تړلی وو. ځکه نو منصبونه غیر ثابت عسکري یونټونه وو. په دې سیستم کې دوه اساسي عنصره لیدل کیدل: یو د پاچا مرکزي لښکر چې زیاتره یو مسلکی اوحرفوي قشروو او د اردو مرکزي زړی ترې جوړېده. په دې قشر کې اجیر سپاهیان، د نظامي اشرافو او قوماندانانو نوکران او ازاد شوي مرئیان شامل وو چې، دچیله (Chila) په نامه یادېدل او د بې کورۍ او بې جایدادۍ په اثر یې یوازنی تعلق له خپلو بادارانو سره وو. دا هغه کسان وو چې، په وړوکتوب کې به یې د جګړو له میدانونو او قحطۍ وهلو سیمو څخه له خپلو کورنیو جلا کول او سپاهیګري به یې ورزده کوله او زیاتره یې هندو ځلمیان وو چې، د اسلام دین ته به یې راوستي وو. چیلهیوازنی قشر وو چې د اجیرو سپاهیانو او د فیوډالانو د لښکرو په پرتله زیاتره اعتماد پرې کیدای شو ، هغوی په هرډول شرایطو کې د خپلو بادارانو په سرنوشت کې شریک او ورسره یوځای وو. دغه دود نه یوازې په مرکزي لښکرو ، بلکې د فیوډالي لښکري تشکیلاتو په زړي کې هم لیدل کیدل.

خودا هم باید څرګنده شي چې د ګورګاني حکومت دایمي مرکزي پوځ ، چې یو روزل شوي مسلکي او تخنیکي عسکري ځواک

وو، د هغه ټول لښکري طاقت یوه وړه برخه وه چې د منصبداري سیستم پر بنا یې د دولت مجموعي فیوډالي پوځونه جوړول. مثلاً د جلا ل الدین اکبر حضري مرکزي اردو له ۴۵ زرو سپرو، ۵۰۰۰فیلانو او څو زرو پلیو څخه جوړ شویوو[9] په داسې حال کې چې ټول سفري قوت یې له تقریباً (۷۵۸،۳۸۴) سپرو، (۱۰۰۰) توپچیانو او (۳۸۷۷، ۵۵۷) پلیو څخه جوړېده. همدارنګه شاه جهان (۲۰۰۰۰۰) سپاره، (۱۰۰۰) توپچیان، (۴۰۰۰۰) پلي او اورنګزېب (۳۰۰۰۰۰) سپاره، (۱۲۰۰) توپچیان او (۲۰۰۰۰۰) پلي په واک کې درلودل[9].

په مرکزي دایمي پوځونو برسیره د ګورګاني واکمن د لښکرو زیاته برخه د «منصبدارانو» له خوا او د هغوی تر اداري لاندې برابرېده چې، د خپلو منصبونو د واک او امتیازونو په تناسب یې د ضرورت په وخت کې ټاکلې ډله سپاهیان د واکمن خدمت ته حاضرول او ددې خدمت په بدل کې، د حکومت له خوا ورته نقدي حقوق، ځمکې او یا د ځمکو د مالیاتو ټاکلې برخه ورکوله کېده. د منصبونو د درجو شمېر، لکه څرنګه چې ابوالفضل یې په (آئین اکبري) کې په مفصل ډول لیکي، ۶۲ وو[9] چې په هغو کې تر ټولو لوړه درجه «رتبه» د «ده هزاري» منصب او تر ټولو ټیټه درجه د «ده باشی» منصب وو. له لوړې رتبې څخه تر «پنج هزاری» منصب پورې، د هرې رتبې تر پیر زر تنه سپاهیانو وو. له «پنج

هزاري» څخه تر «صد و پنجاهی» پورې د درجو په منځ کې تو پیر پنځوس پنځوس سپاهیان وو او له هغو نه ټیټ منصبونه په دې ډول وو: صدو بیست و پنجی، صدو بیستی، یوزباشی (د سلو په سر مشر)، چهار بیستی، سه بیستی، پنجاهی، دوبیستی، ترکش بند، بیستی او ده باشی[9]. د منصبدارانو شمیر د جلال الدین اکبر په وخت کې (۱۵۰۰)او د جهانګیر په وخت کې (۳۰۰۰)وو. د همدې منصبونو د واک په تناسب چې د هر منصب له نامه څخه څرګندېږي، منصبداران مکلف وو چې ټاکلی شمیر سپاهیان برابر کړي، ویې روزي او په حضر او سفر کې یې اداره په لاس واخلي. دغه موضوع د بیلابیلو جګړو په شرایطو کې څرګنده ښکاري[9]. په دې ډول، په منصبداري سیستم کې د هر منصب مربوط سپاره او پلي پوځونه د تکتیکي واحدونو ښکارندوی وو چې، د عمل په ساحه کې د مراتبو د سلسلې په اساس له یوه بل سره تړلی وو.

په منصبداري نظام کې سپاهیان مستقیماً د منصبدارانو له خوا خدمت ته نیول کیدل (بهرتی کیدل). له دی کبله د سپاهیانو اساسي ارتباط له منصبدارانو سره وو چې، هغوی ته یې د خدمت نقدي یا غیر نقدي مجرایي ورکوله، قومانده یې پرې چلوله او اکثراً هم په سیمه کې یو ځای ورسره اوسیدل. په دې وجه د سپاهیانو تعلق تر هر څه دمخه له خپل منصبدار سره وو

چې، په حضر او سفر کې ورسره تړلی وو. له حکومت سره ددې راز پوځونو ارتباط، د منصبدارانو په واسطه ټینګیده چې، د خپل خدمت په مجرایي کې یې نقدي حقوق او جاګیرونه له حکومت څخه اخیستل. معمولاً هغو منصبدارانو او سپاهیانو ته چې د ګورګاني واکمن په مرکزي لښکر کې شامل وو او مستقیماً یې د پاچا تر امر لاندې خدمت کاوه، نقدي تنخواوې ورکولې کیدې، خو زیاتره د منصبدارانو حقوق د جاګیر په ډول ورکول کیده. دغه موضوع په خپله د یوې فیوډالي واکمنی د داخلي جوړښت پر خصوصیاتو باندې ولاړ وو. ګورګاني دولت په مرکز کې ډېر غښتلی او متمرکز او په لمنو کې ډېر کمزوری وو. په لیری پرتو سیمو کی د حکومت نفوذ تر زیاتې اندازې د خانانو او فیوډالانو د اطاعت او صداقت په شرط متکي و. په همدې وجه د مرکزي حکومت لپاره دا یوه په زړه پورې خبره وه چې، د لرو سیمو مالیې په خپله د محلي جاګیر دارانو په لاس راټولې کړي او ټاکلې برخه یې، د هغوی د خدمت په قیمت کې ادا کړي. دا معامله هم د حکومت او هم د جاګیردارانو په ګټه وه چې، د مالیاتو په حصول کې یې څه ناڅه آزادي درلوده او له دې لارې یې په سیمه کې نفوذ او حاکمیت لا پیاوړی کیده.

خو ددې راز لښکري جوړښت کمزورتیا په دې کې وه چې، د یوه دولت په منځ کې د قدرت ثانوي مرکزونه منځته راتلل چې،

همیشنۍ وفاداري یې له شک او تردید څخه تشه نه وه. کوم وخت چې به دغو ثانوي مرکزونو ، د مرکزي دولت له اطاعت څخه سر وغړاوه، د هغې سیمې ټول لښکري طاقت به هم له یاغي مرکز سره د مستقیمو تعلقاتو د لرلو په وجه د مرکزي حکومت له واک څخه ووت. په دې هکله، د مرکزي حکومت معموله پالیسي دا وه چې، یو سیمه ییز طاقت د بل رقیب سیمه ییز طاقت په مرسته د تهدید له لارې په توازن کې وساتي او دا د فیوډالي واکمنۍ یوه څرګنده مشخصه ده. که څه هم په لښکري تشکیلاتو کې ددې ډول مشخصې نفوذ په بیلابیلو سیمو او زمانو کې یو شاني نه وو ، خو سره له هغه هم په دولتي- لښکري جوړښت کې یې خپله عمومي اغیزه خوندي ساتله.

په ختیز کې غزنویانو په ۱۱مه پیړۍ کې او په اروپا کې دوهم فرید ریک (لوی فریدریک ) په ۱۸مه پیړۍ کې په خپل دولتي- لښکري سیستم کې د فیوډالي سیمه ییزو قوتونو اغیزې په دې وجه کمزورې کړې وې چې، په یوه ستر مرکزي لښکري پوځ باندې یې اتکا موندلې وه او په نتیجه کې یې د بوسورت په وینا پوځ او دولت سره یو شوی وو یا « په اردو کې دولت منځ ته راغلی »[9] یعنی پوځ پخپله د دولت ممثل وو. په دې ډول لښکري جوړښت کې د سپاهیانو خدمت د واکمن د زرو په واسطه پلورل

کېده او له دې لارې د پوځونو تعلقات له مرکز سره د منځنیو کړیو د څه نا څه نفوذ سره سره نسبتاً ټینګ وو.
په لښکري جوړښت کې د مرکزي کنټرول د پیاوړتیا لپاره په ۱۲مه پیړۍ کې ګورګاني واکمن جلال الدین اکبر تریوې اندازې پورې او پښتون واکمن شیرشاه سوري په پراخه توګه جاګیرداری سیستم لغو کړ او منصبدارانو ته یې د مرکزي دولت له خوا نقدي حقوق ورکول[9]، خو سره له دې هم د هند د ۱۲ او ۱۷ مې پیړۍ د ټولنیزو شرایطو په چاپیریال کې د جاګیرداری سیستم او پر هغه باندې متکي لښکري جوړښت یو طبیعي سیاسي-ستراتژیک میلان وو.
د ګورګاني حکومت په دغه فیوډالي لښکري جوړښت کې بیلابیل سیمه ییز عسکري قابلیتونه نغښتی وو. ځکه سیمه ییز پوځونه اکثراً د خپلې سیمې له خلکو جوړېدل، هماغلته یې لښکري تمرینونه کول او زیاتره یې هم په خپلو سیمو یا ورته نږدې منطقو کې په پوځی عملیاتو کې برخه اخیسته. هغه جنګي قابلیت چې پښتنو په غرنیو او سړو سیمو کې درلودل، د بنګال په سیمه ییزو سپاهیانو کې موجود نه وو. راجپوتانو د راجستان د بیاباني طبیعت دغوښتنی سره سم تکړه او چټک سپاره روزل او مرهټه وود خپلو غرونو او سردرو په جغرافی چاپیریال کې راز راز ځواکونه درلودل - هغوی د خپلی سیمی په لویدیزو برخو کې

د عسکري کلاوو يو پراخ دفاعي سيستم جوړ کړی وو او پلي سپاهيان روزل او په ختيزو لمنو کې ئی سپک ضربوي سپاره پوځونه روزلي وو. ګورګاني حکوت د هغو داخلي پرله پسې جګړو په دوران کې داسې پاليسي په مخ کې نيولې وه چې د يوه سيمه ييز لښکري طاقت په مقابل کې ورسره متناسب د بلې سيمې جنګي قابليت ميدان ته کړی او يا په سيمه کې د نفاق اچولو له لارې د هرې منطقې قوت په خپله د هماغه سيمې د طاقتونو په ذريعه وتکوي. ګورګانيانو راجپوتان، چې هغه هم د خپلې جغرافيې سخت محيط او تاريخي جګړو په وجه تکړه جنګيالانو وو، د پښتنو د ميړنو او جنګياليو سپاهيانو په مقابل کې استعمالول او همدارنګه راجپوتان يې په پښتنو ټکول. برسيره پر دې هغوی له قبيلوي تربګنيو، دښمنيو او رقابتونو څخه په ګټه اخيستو سره پښتانه په خپل منځ کی او راجپوتان په خپل منځ کې سره واچول. که هغوی يوسفزي په خټکو او خټک په بنګښ ټکول نو د ميوارراجپوتان يې د جيپور، جودهپور او بيکانير په راجپوتانو وهل. په نتيجه کې د ګورګانيانو، د فيوډالي پوځ دنا متجانس جوړښت کمزورتيا د لښکري عملياتو د ستراتژيکي يووالي په زور او د مرکزي دولت له سياسي، اقتصادي او عسکري موسساتو څخه په ګټه اخيستو سره تلافي کيده.

د ګورګاني مغولي حکومت په مقابل کې پښتنو د راجپوتانو په شان دايمي لښکري تشکيلات نه درلودل او د ملي اړتيا په وخت کې به هغه ځوانان چې په کروندو کې يې کار کاوه او يا به په خپلو غرونو او سردرو کې د ژوندانه په نورو چارو بوخت وو، د خپلو مشرانو تر بيرغ لاندې، اکثره له خپلو راز راز غير ستاندردو زړو او نوو وسلو سره، راغونډېدل. د هغوی د عملياتو خرڅ څه د محلي خانانو له خوا، څه د قبيلو د ګډو شتمنيو له منابعو او يو څه هم د دښمن د لښکرو او لوژستيکي کاروانونو د ولجه شوو مالونو له درکه برابرېده. دا ډول لوژستيکي ملاتړ لنډې مودې عسکري عملياتو لپاره مساعدوو، خو د اوږدې جګړې د حمايې توان يې نه درلود او په همدې وجه به، زياتره وروسته له يوې جګړې د لښکرو موقتي مجموعه بيرته خوره وره شوه.

هغه قبايلي لښکرې چې د ضرورت په وخت کې به د قومي مشرانو تر لارښوونې لاندې راغونډې شوې، که څه هم د غښتلو، مېړنو او سرسخته جنګياليو سپاهيانو موقتي جبهه وه، خو جګړه ييزه تکتيکي هماهنګي يې، د ثابتو لښکري تشکيلاتو او مراتبو د مشخصې سلسلې د نشتوالي په وجه، کمزوری وه. همدارنګه، د تشکيلاتي واک او مکلفيت د ابهام او د لوژستيکي کمزورتيا له کبله يې، دجګړې په پېچلو شرايطو کی

اداره سخته وه او د ستراتژيکي عمل همغږي يې، د واحدې جبهې د نشتوالي په سبب، اکثراً ناشونې وه. هغوی په خپل وطن او ننګ مېئن، ښه مېړني، زړور او جنګيالي سپاهيان وو چې، د سيلاب په شان به پر غليم راکوز شول، د جګړې ډګر به يې وګاټه، مګر وروسته له هغه به يې د تشکيلاتي کمزورتيا او داخلي بيلوالي په وجه، د هرې تکتيکي ګټې اغيزه له بلې تکتيکي اغيزې سره ونه تړل شوه او په پای کې به، ددې جګړو تکتيکي سوبې او ګټنې ستراتژيکي هدف ته د رسيدو په چاره کې پاتې راغلې. په پايله کې به هغه يرغليز سيلاب چې، په شدت له اوچتو سردرو راکوز شوی وو، لږ څه وروسته به ارام سيند شو او تر څو چې به بيا يو سيلاب ترې جوړېده، نو دښمنانو به د تير سيلاب په اثر خپلې منځته راغلې ماتې ګوډې بيرته جوړې کړې وې او بيا به په ميدان تازه نفس ورته ولاړ وو. د خوشحال خان په زمانه کې د خيبر جګړه (۱۶۷۲)، د کړپې د غاښي توفاني يرغل (۱۶۷۴) ،د نوښار کوټ ماتونکی ګوزار (۱۶۷۳) او همدارنګه په باجوړ کې د خاپش د غاښي جګړه او د جګدلک عسکري بری، هر يو ځانته د پښتنو ستر تکتيکي بري وو، خو ددې ځانګړو برياليتوبونو اغيزې، د ستراتژيک عمل په يوه واحده مجموعه کې سره مرتبطې نه شوې او په هر يوه کې يې قومي لښکری د ميدان له ګټلو وروسته د تشکيلاتو او ګډې

رهبرۍ د نشتوالي په وجه، بیرته خپرې شوې او یا یې یووالی کمزورى شو. په داسې حال کې چې ګورګانیانو تل دې ته میلان درلود چې، نه یوازې بیلابیل جګړه ییز فعالیتونه د منځنیو هدفونو د ترلاسه کولو او د متناسب او پرله پسې او پراتیفي پراختیا په مقصد، په یوه واحد ستراتژیک پلان کې توحید کړي، بلکې په عین وخت کې یې، د پوځی ستراتژۍ په موازاتو، د سیاسي ستراتژۍ ماشینري هم ورسره هماهنګه په کار اچوله.

## د پوځونو صنفي ډلې

د ګورګاني اردو اساس د سپاره نظام له پوځونو څخه جوړ شوی وو. دا موضوع د هغه عنعنوي تمایل په وجه وه چې، د منځنۍ آسیا له خاص لښکري تاریخ سره یې تعلق ساته. په لیریو سیمو کې، د پوځي عملیاتو ترسره کول او یا له مرکزي اردو سره، د بیلابیلو سیمو د فیوډالي لښکرو یوځای کېدل، چې د سفري اردو تر ټولیدو پورې یې باید اوږده مزلونه وهلي وای، د همدې تمایل لا هڅونکی وو. ګورګانیانو له سپرو نظامامونو سره عنعنوي آشنایي درلوده، پلیو سپاهیانو ته یې په کمه سترګه کتل او په توپخانه (توپچي) کې د یو لړ تخنیکي پرمختګونو سره سره، هېڅکله یا خه استادان نه شول. ددې تمایل په اساس، سپاره په حقیقت کې جنګي سپاهیان وو او په سپاره نظام کې

خدمت خاص امتیاز او ویاړ ګڼل کیده. په داسې حال کې چې، په پلیو کې تر جګړه ییزو پوځونو د خدمتګارانو او نوکرانو شمیر څو ځلې زیات وو.
په پلیو کې د دربار ساتونکي، د امیرانو او لښکري قوماندانانو د محافظینو او خدمتګارانو او غلامانو ډلی، هغه پلي ډلګۍ چې د استخباراتي چارو عاملین (میوړه) وو، یا یې بارونه وړل (کهار) او د بار وړونکو څارویو ساتنه یې کوله، همدارنګه کسبه کاران، بیل داران او د لوژستیکي خدمتونو ټول هغه عسکري پرسونل د پلي صنف په ترکیب کې شامل ګڼل کیدل او شمیر یې هم تر محاربوي پلیو زیات وو، خو دغه وروستۍ ډلی تر دې چې سپاهیان وي، زیاتره خدمتګاران وو او د پلیو د جګړه ییزې وړتیا او محاربوي رول د معیارونو له مخې یو نا متناسب عنوان ورکړ شوی وو. همدې موضوع د جګړه ییزو غوښتنو په اساس د پلیو مقام ډېر ټیټاوه. د پلیو د مقام دغه راز ټیټول په اروپا کې هم د منځنیو پیړیو د هغه لښکري سیستم یو څرګند خصلت وو چې، د زغره لرونکو او سپکو سپرو پوځونو پر اساس منځته راغلی وو. په ګورګاني اردو کې د جنګی پلیو سپاهیان هغه وو چې، بندوق چیان یې بلل او په ټوپکو مسلح وو، یا هغه پلي چې پراخ سپرونه او ډالونه یې درلودل او سپکې یا درندې توري یې چلولې او هغه پلي ډلې چې د جګړې په ډګر کې یې

لیندۍ او غشي چلول. ابوالفضل په (ائین اکبري) کې د «آئین پیادګان» تر عنوان لاندې، د هغوی په هکله په تفصیل خبرې کوي[9].
هغه وسله وال جوړښت چې د توپخانې په نامه د ګورګاني اردو یو ترکیبي جز ګڼل کیده، د برغڅنوم او په زړه پورې ظاهري بڼه درلوده ،خو په تکتیکي عملیاتو کې یې اغیزې او تخریبي قابلیت د نورو اور لرونکو وسلو په شان چندان غوڅ او د توجه وړ نه ښکاریده. که څه هم د دغه عصر مُغلي کورګاني امپراتورۍ د صفوي او عثماني امپراتوریو سره یو ځای د «باروتي امپراتوریو»[9] په نامه مشهورې دي، د کورګانیانو په پوځ کې توپخانې کوم قاطع اثر نه درلود. اصلاً په دې عصر کې اورلرونکې وسلې د خپل تکاملي سیر په جریان کې وې چې، په اروپا کې له ۱۴مې پیړۍ او په ختیز کې لږ څه دمخه پیل شوې وې. مګر تر ۱۹ مې پیړۍ پورې د دې وسلو تخریبي قدرت دې حد ته نه و رسیدلی چې، د جګړې لرغونې جارحه وسلې د استعمال له ډګر څخه وباسي. په ګورګاني توپخانه کې د توپونو د جوړولو کارخانه، قورخانه، سارایي او کوټ ساتونکي توپونه موجودوو، خو په تکتیکي ډګرونو کې یوازې سارایي سپکو توپونو او د بان توغوندیو د خپل اور د اغیزې په محدود واټن کې مؤثریت درلود.

ګورګاني واکمنانو درندو توپونو جوړولو او نمایش ته زیاته مینه درلوده، خو دغه وسلې یوازې دخوارو او سپنې وې چې، د خپلو عجیبو او جالبو نومونو له مخې د واکمن د شهرت جز ګڼل کېدل. «غازي خان»، «شیردهان»، «بهل»، «هفده نال» او داسې نور هغه ستر او درانده توپونه وو چې، له لیرې ښه ښکارېدل خو د جګړه ییز استعمال لپاره یې له ځایه ښورول او په اوږدو واټنو کې یې له اردو سره لیږدول، ګران او حتی ناممکن کار وو.
ګورګانیانو د خپلې توپخانې د پراختیا او پیاوړي کولو لپاره یو شمیر بهرنیان لکه انګرېزان، پرتګالیان او نور فراري مانوګان استخدام کړل، خو حتی د اورنګزېب په زمانه کې د توپچیانو شمیر له (۱۲۰۰) تنو څخه زیات نه وو چې، د ګورګاني اردو عمومي شمېر په تناسب یو ډېر کوچنی رقم ښکاري.
هغه توغوندي چې د (بان) په نامه په ګورګاني اردو کې د سپکو اورلرونکو وسلو په ډله کې په پراخ ډول استعمالیدل، ترمادي اثر یې روحي اغیزه زیاته وه. دغه وسله له یوه فلزي نل څخه چې ۳۰ سانتی اوږدوالی او ۵،۲ سانتی قطر یې درلود او له منفجره موادو څخه ډکیده، جوړه شوې وه او بیا دغه نل د بانس په یوه لرګي چې ،درې څلور ګزه اوږد وو، ټینګیده. د نل په لګولو به دغه وسله د ریاکتیف عمل په پرنسیپ تر نژدې زرمترو پورې د غشي په شان الوتنه کوله او ځینې ډولونه به یې

په نښبه باندي له لګیدو سره سم وچاودېدل چی، روحي اغیزه یې درلوده او هدف ته به یې اور اچاوه اوتاوانونه به یې رسول[9].
شیرشاه سوري د همدې وسلې د اتفاقي چاودېدنې په اثر په کالنجر کې مړ شو[9] او په ۱۸ مه پیړۍ کې د همدې وسلې روحي اغیزې د مانو پور په جګړه کې، د احمد شاه ابدالي په لښکرو کې یو څه تزلزل پیښ کړ[9].
د ګورګاني واکمن د دښمنانو لښکري صنفي ترکیب د هغوی د چاپیریا ل له شرایطو او عنعنوي جنګي قابلیتونو سره سم منځته راغلی وو. راجپوتان په خپلو چټکو سپرو جنګیدل او د مرېته وولښکري نظام د پلیو او سپرو یو متناسب ترکیب وو. پښتنو خو د آس له سپرلۍ سره ښه آشنایي درلوده او په جګړو کې یې هم ډېر ځغلولي وو، خو د خپل غرني چاپیریال او محدود اقتصاد په وجه یې د پلیو مبارزینو شمیر تر سپرو زیات وو. مګر په غرنیو سیمو کې د پښتنو پلي، په داسې شرایطو کې جنګیدل چې، ګورګاني سپاره نظام له خپل مانوري قابلیت څخه بشپړه ګټه نه شوای اخیستې. پښتانه په غرونو کې د دښمن پر پلیو زورور وو، خو د میدان په جګړو کې یې قابلیت د دښمن د سترو سپرو پوځونو په مقابل کې کمزوری ښکاربده. د عصر میلان په پښتنو هم داسی اغیزه کړی وه چی، سپاره جنګیالان یی وتلي او ویاړلي سپاهیان انګیرل. خوشحال خان په دستارنامه کې لیکي:

« په جهان کې چې څه دي، خو ښه ځوانان او ښه آسونه او ښه غشي دي» [9].خان د خپل بندي کيدو په وخت کې خپلې کورنۍ ته د يوې وصيت نامې په ترڅ کې سپارښتنه کوي چې، له سعادت خيلو سره دې په مناسباتو کې د هغوی پلي سپور شميرل شي او سپور ته دې د دوو سپرو امتياز ورکړ شي[9].

د پښتنو د سپرو او پليو د تناسب په هکله دقيق معلومات نشته، خو د هغې يادونې له مخې چې ابوالفضل په (آئين اکبري) کې د پښتنو د بيلابيلو قامونو د لښکرو په هکله کړې دي، ځرګندېږي چې، د هغوی پلي سپاهيان ډېر ځلې تر سپرو زيات وو. په دې يادونې کې د بيلابيلو قامونو د سپرو او پليو شمير په لاندې ډول ښودل شوی دی:

بنګښ: سپاره ۷۰۰۰، پلي ۸۷۸۰۰

خليل: سپاره ۵۰۰، پلي ۲۵۰۰

داودزي: سپاره ۳۰۰۰، پلي ۳۷۰۰۰

محمدزي: سپاره ۴۰۰، پلي ۴۰۰۰

ختک: سپاره ۲۰۰، پلي ۴۰۰۰

ساپي: سپاره ۱۰۰، پلي ۱۴۰۰

افريدي: سپاره ۵۰۰، پلي ۱۰۵۰۰ او داسې نور[9].

په تاريخ مرصع کې هم د افضل خان ختک د ليکنو له مخې ځرګندېږي چې، د خوشحال خان په جګړو کې د پښتنو د سپرو

شمير د پليو په پرتله ډېر لږ وو، مثلاً له يوسفزو سره د خوشحال خان په يوه جګړه کې د هغه د سپرو شمير ۷۰۰ يا ۸۰۰ او د پليو شمير يې ۵۰۰۰ يا ۲۰۰۰ ښودل شوی دی[9] او له بهرام سره د خوشحال په جنګونو کې په يوه مورد کې خان ۲۰۰ سپاره او ۷۰۰ پلي او په بل مورد کې ۵۰۰ سپاره او ۳۵۰۰ پلي درلودل.[9]

په دې عصر کې د سپرو او پليو د جګړه ييزې ورتيا او حرفوي قابليت په هکله هم ډېر دقيق نظر نه شي څرګند بدی او يوازې د هغوی د وسلو د اغيزې او په جګړو کې يې، د تکتيکي عمل د څرنګوالي له مخې يوه عمومي ارزونه کيدای شی. په دغه زمانه کې د پوځيانو مسلکي ښوونه او روزنه په هغه سيستماتيک ډول چې په ځينو اروپايي اردوګانو کې جاري وه، نه ترسره کيده، خو سره له هغه هم د سپاهيانو انفرادي روزنه، په تيره بيا د ځانګړو وسلو په استعمال کې، او د پوځي مانور (جنګي تردد) ډله ييز تمرين د ښکار په وخت کې د محاربوي چمتوالي په مقصد رواج درلود.

مګر د پوځيانو د زده کړې اصلي ښوونځی پخپله د جګړې ډګر وو چې، د جنګيالو د ريښتيني ازمويني ميدان وو. د ګورګاني مغولانو په پوځونو کې، که څه هم د جزوتامونو په بڼه تمريني مانورونه نه اجرا کيدل، خو د سپاهيانو د روزنې انفرادي تمرينونه ترسره کيدل او په دې برخه کې يو لړ تمريني حرکتونه

موجودوو چې، د (کثرت) په نامه یادېده[9]. په «کثرت» کې د سپرو لپاره ساندې، په بوتلي هدفونو باندې نښه ویشتل، د غشي ویشتلو لپاره په خاورینو هدفونو (خاک توده) باندې د لیندۍ چلول او د توري وهلو لپاره د ګام په مخ، ګام په شا، ناڅاپي ټوپونه، څنګزن حرکتونه، د تورې د ګوزار او د دښمن د غولولو فني تمرینونه شامل وو. همدارنګه، په شاهي ښکارونو کې د پوځیانو ګډون او د وسلې استعمال، د پوځونو د محاربوي وړتیا د لوړولو لپاره ګټور لیدل کیدل.
خوشحال خان په دستار نامه کې د جګړه ییز چمتوالي او پوځی وړتیا د پراختیا لپاره د آسونو ځغلول، د آس په سپرلۍ د غشو ویشتل - چې باید لږ تر لږه په اونۍ کې یو ځلې ترسره شي- د نیزه بازۍ تمرین، په نرمه لیندۍ د غشي ویشتلو مشق - چې هره ورځ سل غشي په کې وویشتل شي - او همدارنګه د ښکار له لارې د «جنګي تردد» د زده کړې سپارښتنه کوي[9]. خو د اسې ښکاري چې، خوشحال په دغو سپارښتنو کې د ګورګاني اردو د منظمو پوځونو د روزنې دودونه تر سیموي، ځکه په خپله پښتنو خپل جنګي هنر او د وسلو د چلولو فن زیاتره په جګړو او کله کله هم په ملي مراسمو، ودونو او میلو کې پخاوه. برسیره پر دې، د دایمي لښکري تشکیلاتو د نشتوالي له کبله هغوی د ځانګړي پوځي تمرین وخت او امکانات نه درلودل او کوم منظم تعلیمي

سیستم په کې مروج نه وو. خو دا خبره هم باید څرګنده شي چې، پښتنو د جګړې او وسلو چلولو هنر په خپلو غرنیو سیمو کې زده کړی وو او ددې سیمه ییزې محاربوي ورتیا په وجه یې په خپل وطن کې د ګورګاني اردو تر سپاهیانو خپلې وسلې بهتره چلولې او اغیزې یې هم په ډېرو موارد و کې په زړه پورې وې. په ۱۲۷۴ کال کې کوم وخت چې د شجاعت خان په مشرۍ د ګورګاني لښکرو او پښتنو ترمنځ د کړپپه غاښي کې جګړه وشوه، د ګورګانیانو پر «بندوقچیانو» او «تیراندازانو» باندې د پښتنو ټوپکوالو او لیندۍ چلونکو برتري ډېره روښانه او څرګنده وه او دغه کار د ګورګاني لښکرو د سترې ماتې سبب شو.[9]

لوژستیکي تشکیلات او لوژستیکي اکمالات، د پوځي عملیاتو په تکتیکي او ستراتژیکي ساحه کې د جنګي عمل او جنګي هنر له پیل څخه، د یوه مهم او ټاکونکي عامل په توګه پیژندل شوي دي. په پوځی جوړښت کې، لوژستیکي عامل له یوې خوا د پوځونو د حجم او ترکیب له مخې او له بله پلوه، د هغو ستراتژیکي او تکتیکي عملیاتو د مقصد له مخې خپل رول تثبیتوي چې، جګړه ییز پوځونه د هغو د ترسره کولو هڅه کوی. هر څومره چې اردو لویه او په وسلو او جګړه ییز تخنیک کې یې تنوع موجوده وي، هر څومره چې د وسله والو پوځونو وسلې او تخنیک مغلق او پیچلی شي، هر څومره چې د عملیاتو ساحه

پراخه او ستراتژيک هدفونه د واټن له لحاظه لیرې وي او په پای کې هر څومره چې د ستراتژیکو عملیاتو په ترڅ کې د ارتباط کرښې اوږدې شي، په هماغه تناسب یوه پراخ، مغلق او درانده لوژستیکي بنسټ ته اړتیا زیاتیږي. په همدې توګه، د جنګي عمل په ساحه کې د پوځونو د لوژستیکي بنیادونو محدودیت، د عسکري عملیاتو د محدودیت سبب ګرځي.
د هند په نیمه وچه کې، له سیمه ییزو طاقتونو سره پرله پسې جګړې او له هند نه بهر له خارجي رقیبو واکمنیو سره دایمي لښکري تقابل، کورګاني واکمنی ته د پوځي عملیاتو ساحه ډېره پراخه کړې وه. ګورګاني لښکرې له یوې خوا په دکن کې جنګیدې او له بله پلوه یې په بدخشان او کندهار کې تاوده میدانونه وهل. په داسې شرایطو کې له مرکز (شمالي هند) څخه د جګړې تر ډګرونو پورې د ارتباط او لوژستیکي اکمال کرښې ډېرې اوږدې وې. د دې کرښو په اوږدو کې د لوژستیکي اکمال او ملاتړ سیمه ییز منابع هم اکثراً ناخوندي او د ګورګانی مغولو په همیشني واک کې نه وو. ګورګاني اردو زیاتره په پردیو سیمو کې عملیات ترسره کول، په داسې حال کې چې اکثرو دښمنانو یې په خپلو استوګن ځایونو کې ورسره مقابله کوله. دې وضعیت د ګورګاني اردو لوژستیکي بنسټ ډېر درونډ او پراخ ګرځولی وواو دا ضرورت یې منځته راوستی وو چې، د عملیاتو په سیمه

کې تل د مادي او تخنيکي اکمالاتو ، لوژستيکي نقلياتو او د آذوقي د ګرځنده ډيپوګانو او زېرمو ستر کتارونه او کاروانونه له محاربوي پوځونو سره يوځای حرکت او ملګرتيا وکړي.
ګورګانی مغولو ، که څه هم د منځنۍ آسيا يو څه تاريخي پوځی دود او دستور له ځانه سره ساتلي وو ، خو په هند کې يې د واکمنۍ او استعماري ګټو په هوسايي کې ، يو شمير هغه لښکري قابليتونه له لاسه ورکړل چې ، د چنګيز او تيمور د سپاهيانو امتياز ګڼل کيده. د هند ګورګانيانو د چنګيز او تيمور د لښکرو په شان نسبي لوژستيکي سپکتيا او بې تکلفي نه درلوده. د ديارلسمي پيړۍ مغولانو په هغه بڼه چې مارکوپولو ليدلي وو او په خپلو يادښتونو کې تري يادونه کوي،[9] خپل جګړه ييز پوځونه تر زياتې اندازې له درانده لوژستيکي پيټي څخه خلاص کړي وو. د هغوی سپاهي چې به د وچو پنيرو او کُرتو يوه منۍ کڅوړه تر ملا کړه ،بيا به يې په ورځو ورځو د آس په شا بيابانونه وهل. خو د هند مغولی اردو داسې نه وه او په دانده لوژستيک باندې يې د نږدې ترڼې په اثر عمليات بطي او پوځونه خورا درانده شول او په زرهاوو اوښانو ، فيلانو ، سنډاګانو ، ټټوانو ، نقليه کراچيو او پليو بار وړونکو به لښکرو ته اوږد پايځوړ جوړ کړی و چې ، په خپله د هغو د بدرګې او ساتنې لپاره زيات پوځونه په کار وو. که څه هم د خيبر د لويې

لاري په اوږدو کې ګورګاني حکومت، د خپلو لښکرو او لوژستیکي ارتباط د کرښو ساتنه د خاصو امتیازاتو په بدل کې په خپله په پښتنو کوله او ملک اکوړي ختک په ۱۵۸۱ کال کې د همدې راز خدمت په مجرایي کې ،د خیر اباد نه تر نوښاره پورې علاقه په جاګیر اخیستې وه او د لارې په محصول کې هم برخه ورکړل شوې وه،[9] خو سره له دې هم په دې سیمو کې د لویو لوژستیکي کتارونو دساتنې دپاره ،خاصو او مفصلو امنیتی ترتیباتو ته اړتیا وه. کوم وخت چې خوشحال خان د ګورګانیانو لپاره خدمت کاوه ،له اټک څخه یې د ګورګاني لوژستیک د بنجاره وو، توپونو او فیلانو د پورې ایستلو او په خوندي ډول د هغو د پرمختګ لپاره په ډېرو مواردو کې وظیفه واخیسته او زوی یې اشرف خان هجري هم داسې وظیفې ترسره کړې.[9]

دمغولو په اردو کې شاهي پخلنځی یوازې د دربار کارکوونکو، ساتونکو، مرکزي لښکرو او حرم ته ډوډۍ ورکوله او شاهي لنګر خانې هم په محدوده اندازه خواړه ویشل. همدارنګه، پوځي امیرانو او مشرانو هم یوازې خپل حرم او نوکران آعاشه کول. له دې محدودې کړۍ نه بهر هر څوک مجبور و چې، په خپله د ځان چاره وکړي او له اردو بازار څخه خپل احتیاجات پوره کړي. اردو بازار هغه ګرځنده بازار وو چې، د غیر پوخی پلورونکو او سوداګرانو له خوا چې بنجاره ګان یې نومول، د زرګونو خیمو

لاندې د لښکرو په اردو ګاه کې جوړېده او له اردو سره يې د عملياتو تر وروستي پړاو پورې ملګرتيا کوله. په دې بازار کې د خوراکي توکو په ګډون د پوځونو ټولې اړتياوې په دوامداره توګه، د ګرځنده بنجاره سوداګرانو له خوا عرضه کيدلې او حتی په اردو بازار کې يو زيات شمير کسبګرو هم خپلې هټۍ درولې.
په دې توګه په سفر کې ګورګاني اردو د عربو او روميانو د کمپونو په شان د يوه خوځنده او خيمه ييز ښار بڼه درلوده. په داسې يوه ښار کې د تعجب خبره نه ده چې زيات شمير ناپوځي کسانو، د واکمنانو، اميرانو، لويو او وړو منصبدارو حرم، کورنيو او شخصي نوکرانو هم له لښکرو سره يوځای سفر کاوه.
دغه موضوع د تکتيکي او ستراتيژيک مانور له مخې د ګورګاني پوځ يوه ستره کمزورتيا وه، اګر که د لوژستيکی ملاتړ د استمرار په وجه يو امتياز ګڼل کيده. ميرزا حيدر د بابر تربور چې په قنوج کې له شيرشاه سوري سره د جګړې په ډګر کې له همايون سره يوځای او د همايون د لښکرو د مرکز قومانده ورپه غاړه وه، په مفصل ډول څرګندوي چې، په ګورګاني اردو کې د غير پوځي کسانو موجوديت چې د منصبدارانو خپلوان، غلامان او خدمتګاران په کې شامل وو، د جګړې په وخت کې د ګډوډۍ د پيښيدلو په اثر د محاربوي نظامونو نظم وراناوه او دا کار په خپله په قنوج کې د همايون د ماتې يو علت وو.[9]

د ګورګانی مغولو په مقابل کې پښتانه د مرهټه وو او راجپوتانو په شان په خپله سیمه کې جنګیدل او د لښکري عملیاتو لوژستیکي ملاتړ یې مستقیماً له خپلې سیمې څخه ترسره کیده. دې وضعیت هغوی د اکمال له درندو کتارونو څخه تر زیاتې اندازې بې نیازه کړي وو. خو داسې محدود لوژستیکي بنسټ یوازې د ځانګړو تکتیکي عملیاتو د ترسره کولو لپاره، هغه هم په خپله سیمه کې، مساعد وو او د ستراتژیکو عملیاتو د تامین لپاره یې بشپړ کفایت نه درلود.

وسلې او جګړه ییزو سایل

د تخنیکي کیفیت او تنوع له مخې په ګورګاني اردو کې د تعرضی او دفاعي وسلو یو پراخ سیستم موجود وو چې، د جګړه ییزو فعالیتونو په بیلابیلو شرایطو کې ترې کار اخیستل کیده. د ګورګاني اردو جګړه ییز تمایل چې د یوه تاریخي دستور په توګه یې د امیر تیمور ګورګاني له زمانې څخه پوخوالي ته رسولی وو، د میدان یا د صف جګړه وه او دغه تمایل د راجپوتانو، مرهټه وو او پښتنو له خاصو تکتیکي دودونو سره توپیر درلود چې، د غیر منظمې جګړې پر اساس باندې ولاړ وو. په دې وجه د ګورګاني اردو وسلو زیاتره، د منظمو او میداني جګړو د غوښتنو په اساس پراختیا موندلې وه.

په تحفظي وسلو کې د سپاهيانو لپاره دوه ډوله زغرې موجودې وې. يو ډول زغرې له فلزي خول او د سر، شا، سينې او لاسونو له تحفظي پولادي درو څخه جوړېدې چې، د چهار ائينه په نامه هم يادېدې. بل ډول زغره د فولادي جالۍ يوه بشپړه نيم تنه وه چې د کميس په شان اغوستله کېده او له هغې سره يو ځای د فولادي جالۍ خولې هم تړلې وه چې، سر غاړه او مخ يې ساته. ددې فولادي جالۍ لاندې د مالوچو پنډ کميس چې (ائين اکبري )د صادقي په نامه ياد کړی دی، اغوستل کېده او د تورې د ګوزار په مقابل کې يې د وجود ساتنه کوله. د ستوانه د لاس او مټو خاص زغره وريوښونه وو او د پښو د ساتنې لپاره او سپنيزې موزې وې چې، تر زنګنو پورې رسيدې. په دې برسيره د (اګ) په نامه اوږدې زغره ورې موزې هم رواج وې چې ،تر ورنو پورې پښې په کې پټېدې. د آسانو زغرې د «کجيم» او «ارتک» په نامه د جنګي آسانو د شا، مخ، غاړې او څنګونو ساتنه کوله چې، د برګستوان په نامه هم ياد شوي دي.

د پليو پوځونو په تحفظي وسلو کې ،برسيره پر دې سپرونه او ډالونه هم شامل وو چې، له تورو او نيزو سره استعماليدل او له اوسپنو او څرمنو څخه يې جوړول. سپرونه نسبتاً اوار تحفظي وسلې وې چې، په راز راز ميچونو جوړېدل. ځينې سپرونه د سپاهي د ونې په اندازه لوړ او د يوه ګز په ميچ سورور وو او

سپاهیان یې په پناه کې په بشپړ ډول پټېدل. درانده پلي پوځونه په همدې راز سپرونو سمبالیدل. ډال یو نسبتاً کوچنی محدب سپر وو چې، سپاره نظام او سپکو پلیو پوځونو ترې کار اخیست.
پښتانه هم د تحفظي راز راز وسایلو سره اشنا وو، خو د هغوی دغه تجهیزات د کورګاني لښکرو د سپرونو په تناسب سپک وو او دې موضوع د هغوی د مانور قابلیت لوړاوه. دا خبره هم باید روښانه شي چې، زغرې او د زغرو کامل تجهیزات په پښتنو کې زیاتره د خان خیلو، د هغوی د خاصو ساتونکو او سپاهیانو جنګي لباس وو او په عمومي ډول په قبایلي سپاهیانو کې د درندو تحفظي وسلو دود، نه وو عام شوی. پښتنو زیاتره له توري سره ډالونه چې نسبتاً واړه سپرونه وو، استعمالول او درندو سپرونو، چې د درندو پلیو اختصاصي وسله وه، د هغوی په منځ کې رواج نه درلود.
ددې عصر په تعرضي وسلو کې د لیرې واټن او نږدې واټن وسلې موجودې وې. که څه هم د لیرې واټن وسلې لکه لیندی، ټوپک، توپ، بان او کوټ ماتوونکي وسایل شامل وو ،خو په جګړه ییزو فعالیتونو کې وروستۍ فیصله د نږدې واټن په وسلو کیده ،ځکه نو ددې وسلو ماهرانه استعمال زیات اهمیت درلود. د نږدې واټن وسلې چې د «کوتاه یراق» په نامه یادیدې، په پنځو

ډولونو وېشلی کیدې: توره او ډال، ګرزونه، جنګي تبرونه، نیزې او خنجرونه.

تورې د دروندوالي او اوږدوالي له مخې څو ډوله وې. په عمومي توګه سپاره نظام سپکې تورې درلودې چې، قبضه یې د یوه صلیب ډوله سپر په واسطه جلا شوې وه. پلیو برسیره پر سپکو تورو په درندو تورو هم جګړه کوله چې، قبضه یې ښه اوږده وه او په دواړو لاسونو به یې چلوله[9]. د تورې په هنر کې پښتنو ذاتي مهارت درلود او په نږدې جګړه کې یې ښه استعمالوله.

ګرزونه هم په څو ډوله وو لکه «شش پر» چې یوازې یو سر یې درلود؛ «پیازی» چې له دریو فلزی پنډوسکو څخه داسې جوړېده چې، هر پنډوسکی د یوه ځنځیر په وسیله دلرګو په یوه لاستي تړل شوی وو. ثابت درې سري ګرزونه هم استعمالیدل. د جنګي تبرونو په ډله کې عادي تبر چې اوږد لاستی یې درلود او تیغ یې تیره وو؛ زاغنول چې تیره او نرۍ څوکه یې درلوده او ګډ تبر زاغنول وو چې، یوه خوا یې تبر او بله خوا یې زاغنول وو. په نیزو کې هم زیات تنوع موجوده وه. یو ډول یې لاسي نیزه وه چې ،د سپرو له خوا له ورایه په غلیم اچوله کیده. بله اوږده نیزه وه چې د (برچها - برچه) په نامه یادېده او د پلیو له خوا په کار لوېده. همدارنګه سانګ (منځنۍ نیزه چې پلن او اوږد توبری یې

درلود )، سونتي او سیلره چې هغه هم نسبتاً لنډې نیزې وې او د سپرو او پلیو له خوا استعمالیدې.
ځوړولـه خنجرونه رواج وو: پیش قبضه چې یـوه منحني چاړه وه او دوه شاخه قبضه یې درلوده؛ خنجر چې تیغ یې کوږ وږ و، کټاره چې یو دمه چاړه وه او لاستی یې له دوو موازي میلو څخه جوړ شوی او په منځ کې، د قبضې لپاره لـه یوه بل سره مربوط شوی وو او جمدهر چې تیغ یې دوه دمه درلودل او قبضه یې د کټارې په شان وه.
ددې وسلو په ډله کې چې، د ګورګاني لښکرو پلي او سپاره پوځونه پرې سمبال وو، ښتنو توره، نیزه، جمد هر او خنجرونه ښه استعمالول.
د لیرې واټن په وسلو کې لیندۍ، ټوپک او نورې اور لرونکې وسلې د پاملرنې وړ دي. لیندۍ د جنګ په تاریخ کې ډېره لرغونې لیرې ویشتونکې وسله ده چې، د ځینو تحقیقاتو له مخې یې قدامت له دېرشو تر پنځوسو زرو کلونو پورې رسیږي او تر ۱۶مې پیړۍ پورې چې ټوپک رونق وموند ، لیندۍ د جګړې په ډګر کې بې سارې لیرې ویشتونکې وسله وه. اوږدې او لنډې لیندۍ هرې یوې ځانته خپل خصوصیات د جنګ په تاریخ کې ثبت کړي دي. د منځنیو پیړیو په وروستیو وختونو کې ،په اروپا کې لوړې لیندۍ د سپاره نظام په مقابل کې د پلیو تاریخي ارزښت

راژوندی کړ. ددې سره جوخت په منځنۍ آسیا کې د مغولانو او تاتارانو لنډې لیندۍ، د چټکو جګړه ییزو عملیاتو په جریان کې ډېرې اغیزمنې وځلیدې.
په آسیاکې له منځنیو پیړیو راهیسې لنډې لیندۍ د سپرو له خوا او اوږدې لیندۍ د پلیو له خوا استعمالیدې. ګورګاني مغولي لښکرو، په عمومي ډول داسې لیندۍ چلولې چې، تقریباً ۱۲۰ سانتي متره اوږدې وې او له دوو منحنیو څخه جوړېدې. په دې کار کې د ښاروپو له ښکرو، عاج، د بانس لرګي او یا پولادو څخه کار اخیستل کیده. ددې آسیایي لیندیو عمومي خاصه چې د تاتار د لیندیو په نامه هم پیژندل شوي دي، دا وه چې د لیندیو زه د سپینو وریښمو له تاوشوو تارونو او کله هم د پیشو له کولمو څخه جوړېده. د لیندۍ اغیزه د غشي په حجم، د توبرې په کیفیت او د لیندۍ په کتله، د زه په ټینګوالي یا نرمۍ او د غشي ویشتونکي په مهارت اړه درلوده.
غشي د بانس له لرګي جوړېدل او په سر کې یې فلزي توبرې (پیکان) او په پای کې یې پر خانې ټینګیدې. د غشو تیکې د ترکش په نامه یادېده چې، غشي ویشتونکي به په اوږه اچاوه، خوشحال خان ورته درسته وایي:

خپل پردی چې چا لینده په لاس اخیسته
هر یوه کړه په ماتشه درسته درسته[9]

د غشـي اغیـزه کـه لـه یـوې خوا د لیـندۍ پـه کیفیت او د غشـي ویشـتونکي پـه مهـارت اړه درلـوده، نـو لـه بلـه پلـوه ،د غشـي جوړښت هم په کې ډېر مهم وو. سم او مستقیم غشـي چې، تیـره توبرۍ او مناسبه پرخانه به یې درلوده. د سرعت او نفوذي قوت له مخې مناسب ګڼل کیده. د محرکې قوې اغیزه پـه ناسم غشـي باندې لږه او د هوا د مقاومت اغیزې پرې زیاتې وې او پـه نتیجه کې به یې په استقامت، سرعت او نفوذي قوه باندې منفي اثرات پریوتل.

لیندۍ چې نه وي په غوړیو سمه
غشی چې کوږ وي پرخانه کمه
نه به د نخښې ګوزار پرې وکړې
نه به په غشي کړې غرڅه بې دمه[9]

پـه تیرانـدازۍ کـې د لیـندۍ او غشــي تـرمنځ متقـابلې اړیکـې موجــودې دي. د لیـنـدۍ د عمـــل پرنســیپ خـــو دادی چـــې، میخانیکي انرژي ورو ورو راغونډ یده او پـه (زه) کـې لـه موقتي ذخیره کیدو وروسته په ناڅاپي ډول غشي تـه لیږدېده او بیـا یـې غشـي پـه مطلوب استقامت او نښې توغـاوه. پـه دې عمل کـې د لیندۍ کتله، د زه نرمي او ټینګوالی د غشي ویشتونکي قوت او د غشي توبرۍ او پرخانه ټولو اغیزه درلوده. په لیندۍ کې ذخیره شوې میخانیکي انرژي په بشپړ ډول غشي ته نـه لیږدېده، بلکې

يوه برخه يې د غشي او ليندۍ د کتلې په تناسب په ليندۍ کې ضايع کيده او په دې وجه د ليندۍ کينيتيک انرژي يا هغه انرژی چې د حرکت په وجه را پيدا کيده (KineticEnergy) هم د ليندۍ او غشي له کتلې او د غشي د سرعت له مربع سره مستقيماً اړه درلوده. که دغه فزيکي پرنسيپ په نظر کې ونيسو، نو څرګنديږي چې، يو شمير پخوانيو ليکوالو د ليندۍ د اغيزې په باره کې ډېرې مبالغې کړې دي. کله يې ادعا کړې ده چې، غشي د فولادو له پنډو پوښونو څخه تيرېدل او کله يې ويلي دي چې، له څو مسلسلو هدفونو څخه په يوه ګوزار وتلی دی. خوشحال خان په دستارنامه کې ليکي چې: « کمال ددې هنر دادی چې ، غشی تر غوا ، تر ميښه هسې ازاد پرېوزي چې، د غشي پرخاني په وينو ککړې نه شي.»[9] څرګنده ده چې، ددې ډول نفوذي قوت لپاره يو ډېر لوړ سرعت لازم دی چې ګومان نه کيږي په آسانه په غشي کې منځته راشي.

د اوسنيو تجربو او فزيکي محاسبو له مخې چې شوې دي، داسې اټکل کيږي چې، د عادي لينديو په واسطه په تقريباً سلو مترو کې د ننبه ويشتلو صحت او دقت په داسې يوه هدف باندې ممکن دی چې، د يوه سړي په اندازه جسامت ولري. هر څومره چې دا مسافه زياته شي او يا هدف کوچنی شی د غشي ويشتلو د اصابت دقت تقليل مومي. د همدې تجربو له مخې څرګنده ده

چې، د غشي اعظمي انرژي دې حد ته رسیدای شي چې، د ځاروېو له بدن څخه ووزي، په دې شرط چې له هډوکي سره و نه لګیږي او که په متوسط ډول د غشي کینیتیک انرژي (KineticEnergy) ۵۰ فت پونډه وي، نو له یوه داسې کتاب څخه وزي چې، زر پاڼې ولري. خو سره له دې هم دغه تخمینات د قضیې یو اړخ دی او د غشي ویشتونکي مهارت چې، لیندۍ ښه کش کړي، قبضه مناسبه ونیسي، شست په لیندۍ کې ښه صاف کړي او د لیندۍ په استعمال کې ښه پوخ شي، په خپل وار سره مؤثر دی.

په آسیا کې د لیندۍ قبضه زیاتره د ښې ګوتې په وسیله کیده، په داسې حال کې چې غشی په زه کې د ښې او ګټې ګوتې په منځ کې نیول کیده او زه د ښې ګوتې په واسطه راکشیده او ددې کار لپاره په ښه ګوته باندې فلزي یا د خرمنو پوښ اغوستل کیده چې، د «شست» او «انګشتانی» په نامه یې یادول. د ختیزو هېوادو په فرهنګ کې د «شست» او «انګشتانی» د اهمیت په باب زیاتې څرګندونې شویدی.

د قبضې او غشي ویشتلو تمرینونه په نرمه لیندۍ په « خاک توده » باندې کیده. خاک توده د خاورو یوه کوټه وه چې خاص د تمرین لپاره به یې لیندۍ پرې چلوله. قزوینی په ابواب الجنان کې وایي:

« خاک تودهء زمین به اما جش سینه سپر ساخته»[9]. د غشی

ويشتلو د تمرين په باره کې خوشحال خان په دستارنامه کې ليکي: « په هره قبضه چې وي خوا ستعمال ډېر بويه، څو ډېر مشق د غشي کيږي، هومره يې مټ او شست ورته جوړېږي، که مشق يې يوه ورځ پرېښی شي، د لسو ورځو کمی په تيراندازۍ کې وشي. د تير اندازۍ مشق په نرمه ليندۍ بويه، خاک تودې وته نيژدې په يوه قدم په دوه دې ودرېږي څو لينده نرمه وي هومره بهتري وي، مټ په کې ښه جوړېږي، بل يې د غشي زيان نه دی، بل يې ګورت په کې ښه پوخ شي، بل يې شست په کې صاف شي، که لينده ټينګه وي، دا واړه برعکس وي. د مشق لينده، دې بېله، د ښکار او جنګ لينده دې بېله وي. هغه چې په نرمه لينده مشق ډېر کا، ټينګه لينده د هغه د وړاندې هيڅ نه وي. تعريف د ښې ليندۍ دا دی چې، هم په نرمه ولې هم په ټينګه، هم په ښي ولې هم په کينه.»[9]

ليندۍ د ګورګاني سپرو او پليو له خوا استعماليده او ځينو سپرو يې په دې هنر کې داسې مهارت موندلی و چې، د ۲۰ يا ۷۰ ګزو په واټن کې به يې پياله ډېره دقيقه په نښه ويشتله[9]، خو په ګورګاني اردو کې د « تيراندازۍ» هنر زياتره له سپاره نظام سره تړلی وو او په پليو کې ددې وسلې د پراختيا لپاره چې کيدای شوای، د سپرو په مقابل کې يې قوت ډېر زيات کړي، چندان

تمایل موجود نه وو او حتی له پلي حالت نه د لیندۍ چلول هم د سپاره نظام یو ځانګړی هنر و.

پښتنو له پلي حالت نه لیندۍ ډېرې ښې چلولې، خو هغوی هم په کتلوي او منظم ډول دې هنر ته پراختیا ورنکړه او ګورګانیانو په دود یې لیندۍ له سپرو سره متناسبه وسله ګڼله. په همدې ارتباط خوشحال خان تاکید کوي چې، هغه سپاهي چې په آس ښه غشی ولي، تر ډېرو نیزه بازو بهتره دی.

ښه یو سور د تیراندازو

نه ګورم د نیزه بازو[9]

دې ډول تمایل نه په ګورګاني اردو کې، چې د سپاره نظام ضربوي قابلیت ته یې عنعنوي پاملرنه درلوده او نه په پښتنو کې د پلي صنف هغه ممکنه پیاوړې اغیزه میدان ته را و ایستله چې، د ۱۵ او ۱۲مې پیړۍ په جریان کې یې، په اروپا کې د پلیو محاربوي قدرت د لیندیو په کتلوي استعمال سره ، د اروپا د سپرو په مقابل کې پیاوړی کړی وو.

ددې عصر د لیرې واټن په وسلو کې باید د ټوپک هم یادونه وشي چې، هم د ګورګاني لښکرو او هم د پښتنو له خوا په جګړو کې استعمال شوي دي. په ۱۲ او ۱۷ مې پیړۍ کې د دواړو خواوو په لاس کې موجود ټوپکونه اساساً پلته یي ټوپکونه (Matchlock) وو چې، ددې وسلې ابتدایي نمونه وه او اغیزه

يې هم محدوده وه. په همدې وجه، په دې عصر کې لا لیندۍ د ویشتلو د ځېتکتیا ، سپکوالي او د استعمال د آسانتیا له کبله پر ټوپک باندې زوره وره ګڼله کیده. ګورګاني لښکرو ټوپک، چې د هغوی « بندوق چي» پوځونه پرې سمبالیدل، تقریباً یوازې د پلیو وسله ګڼله. پښتنو هم دا وسله په ښکار او په محدوده اندازه په جګړو کې استعمالوله. د پوځی وسلو د تکامل تاریخ ته چی وګوری، نو دا څرګندیږی چی هره نوې وسله، هغه وخت پوځي ځانګړیتوب مومی چې، په پراخه پیمانه او د نویو اصولو پر بنا وکارول شی. د شلمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کی محاربوی ټانک او جنګي الوتکه تر ډیره وخته د توپخانی متممې وسلی ګڼل کیدی. خو کله چی دغه وسلې په ډېر شمېر کی د جګړی په ډګرکی را څرګندې شوې، نو ځانته د پوځ مستقلې څانګې شوې او په جګړه کی یی د استعمال د پاره نوي اصول را منځته شول.

خوشحال خان په دستارنامه کې د ټوپک د ښکار په باره کې خبرې کوي[9] او په خپلو اشعارو کې یې هم په ښکار او جګړه کې د ټوپک استعمال ته اشارې کړې دي.

ښه په خوله ګولۍ خوړلی د ټوپک
نه نمرۍ د یتیمانو د ښانک[9]

د ګینډیو په ځګر کې یې ګولۍ دی
که لیدلی چا زما د ښکار تفنګ دی[9]

د ټوپکو د ويشتلو په لوګيو
بل اسمان اتم پيدا شو کبود فام[9]
ښکار د ټوپک نشته نه ښکار د باز شته
که مې په زړه کې د دوارو راز شته[9]

په دغه عصر او چاپېريال کې مروج ټوپکونه ټول پلته يي وو. پلته يي ټوپک چې د لومړي ځل لپاره په ۱۴مه پېړۍ کې را پيدا شوو، د يوه او سپنيز ميل او اوږدې کندې څخه جوړ شوی وو چې، د خولې له خوا په دارو او ګولۍ ډکيده. د ټوپک د ميل په شا کې يو کوچنی منفذ د باروتو د اشتعال لپاره موجود وو. دا وسله په اول سر کې ډېره اوږده او درنه وه او دوې پښې يې درلودې چې، پر ځمکه باندې يې استناد کاوه. وروسته بيا د پلته يي ټوپک د اشتعال کانال د ميل په څنګ کې جوړ شو او ورسره نږدې د ميل په اړخ کې د باروتو ګوتمه نصب شوه. د ميل په شا کې يوه ګيرا تعبيه شوه چې، پلته به پکې ورکوله کيده. کله چې به ددې ټوپک ماشه کش شوه، پلته به لاندې راغله او د ګوتمې باروتو ته به يې اور ورته کړ او په دې ډول به اورد ميل د اشتعال د کانال له لارې د ميل منځ ته وليږدېد او ټوپک به خلاص شو. په دې ډول، ټوپک کې پلته او د باروتو خارجي ګوتمه تل د ازادې هوا په تماس کې وه او په دې وجه د رطوبت په وخت کې د ټوپک د نه خلاصيدو ډېر امکان موجود وو. د ۱۷مې پيړۍ په سر کې د

باروتو د خارجي ګوتمې لاندې یو متحرک څرخ تعبیه شو او د پلتې د ګیرا په ځای د مصادمې کلنګ جوړ شو. د ماشې په راکشولو به له یوې خوا کلنګ په شدت ښکته راغی او له بله پلوه به، متحرک څرخ وچورلید. د کلنګ او متحرک څرخ د تماس په اثر به، سپرغۍ ګوتمې ته ورسیده او اشتعال به منځ ته راغی. په دې ډول ټوپک کې د پلتې ضرورت له منځه لاړ او د ( Wheel Lock ) ټوپک جوړ شو. دې راز ټوپک ته ابوالفضل په( ائین اکبري) کې هم اشاره کوي.[9]

یو نیم سل کاله وروسته د ۱۸مې پېړۍ په نیمایي کې چقماقي ټوپک پراختیا وموندله او د جګړې په ډګر کې یې، د پلته یي ټوپکو ځای ونیو. په چقماقي ټوپک (Flint lock ) کې د پلتې په ګیرا کې چقماق ټینګیده او د باروتو په ګوتمه باندې چې د میل په اړخ کې وو، پوښ نصب شو. د ماشې له راکشولو سره به څو کاره یو دم ترسره شول: چقماقي کلنګ به په شدت لاندې راغی، دګوتمې پوښ به پورته شو او د ګوتمې څنګ ته په یوې فولادي زخې باندې به د چقماق له لګیدو سره سپرغۍ والوته او په نتیجه کې به اشتعال منځته راغی. دغه ډول چقماقي ټوپک په ۱۲ او ۱۷ پېړۍ کې د ګورګانیانو او پښتنو د جګړو په دوران کې، لا په هند کې رواج نه وو پیدا کړی او لکه چې مخکې وویل شول، ددې عصر مروج ټوپک هماغه ابتدایي پلته یي ټوپک و.

پلټه يي ټوپک سد او رخ نه درلود او د خولي له خوا ډکیده، په دي توګه چي اول به باروت، بيا ګولۍ او بيا به د ګولۍ د بندولو لپاره مواد په کې د سیخ په ذریعه ډکیدل. ددي ټوپکو د استعمال ستونزي هغه وخت ښي څرګند برېي چي، دا په نظر کي ونیسو چي، د هغو د ډکولو او چلولو لپاره د یوه منفرد اور په مقصد په مجموعي ډول باید تقریباً ۹۵ حرکتونه اجرا شوی وای چي، البته زيات وخت يي نيوه. برنيه (Bernier) ددي عصر له پلټه يي ټوپکو سره د لیندۍ د مقايسي په باب لیکي چي: په هغه موده کي چي به یوه ټوپک دوي ګولۍ چلولي، غشي ويشتونکي شپږ غشي په ښه ويشتل.[9]

په هند کي ددي عصر ټوپکونه یا په خپله په سیمه کي جوړېدل او یا یو څه يي له بهر نه د خارجي سوداګرو له خوا راوړل کیدل. خوشحال خان وايي چي: « د ټوپک ښکار له فرنګستانه په دا اخر پیدا شو.»[9] او دا هم روښانه ده چي، په اروپا کي هم تر ډېري مودي پوري ټوپک او تمانچه زیاتره د ښکار لپاره استعماليدل او په جګړه کي يي استعمال په ۱۷ و ۱۸ پیړیو کي پراخ شو. هغه ټوپکونه چي د ګورګاني مغولو له خوا په هند کي جوړېدل ،پلټه يي ټوپکونه وو. ددي وسلو د جوړولو لپاره به يي د اوسپنو تختي په اریب ډول ونغاښتلي او بيا به يي په جوش کي لحیم کولي. هغه ټوپکونه چي (ائين اکبري) يي بيان راوړی دی، دري

څلور ډوله وو: اوږده يې دوه ګزه، لنډه يې يو ګز او څلوريک ښودل شوی او په راز راز قطرونو جوړېدل، يوازې يوه ډول يې د استناد پېښې درلودې.[9]

د دې عصر د ټوپکونو د څېړنې لپاره اوس زموږ په لاس کې يوه ښه نمونه شته چې، د خوشحال خان ختک د ټوپک په نامه د افغانستان د وسله وال پوځ د لرغونو وسلو په ډله کې خوندي دی (دا د ۱۹۷۹ کال خبره ده). څو کاله مخکې (۱۹۷۰) چې زه د عسکري موزيم د تاسيس لپاره د يوه کميسيون غړی وم ،دغه ټوپک مې د لرغونو وسلو په ډله کې وموند چې، په دفترونو کې د «تفنګ ختک» په نامه ثبت شوی وو. ددې ټوپک د سابقې په هکله چې څه وخت دلته رارسيدلی دی، زما څېړنو چندان نتيجه ورنکړه. په دفترونو کې له پخوا څخه دغه ټوپک کله د خوشحال خان ختک او کله د خوشحال د پلار د ټوپک په نامه قيد شوی دی. خو اصلاً دا سې ښکاري چې، دا ټوپک د خوشحال خان په پلار شهباز خان ختک پورې اړه لري، ځکه د ټوپک پرمخ دا سې حک شوي دي: «از سرکار شهباز خان ختک سنه ۱۰۱۸». په دې ډول هم د نامه له مخې او هم د کال له مخې يې لومړنی انتساب شهباز خان ختک ته مسلم ښکاري. خو ښايي دا ټوپک وروسته بيا خوشحال خان ته رسيدلی وي او د هغه په نامه مشهور شوی وي.

دغه ټوپک یو پلته یي ابتدایي ټوپک دی چې، د پلته یي ټوپکو معمولي جوړښت، د پلتې ګیرا ، ماشه، د باروتو ګوتمه او د اشتعال کانال لري. د جوړښت له کیفیت څخه یې څرګندېږي چې، لاسي او سیمه ییز کار دی او ډېر شډل جوړ شوی دی. د ټوپک اوږدوالی دوو مترو او لسو سانتیو ته رسیږي او د میل قطر یې ۲۲ ملي متره دی. په دې اوصا فو دغه ټوپک د ښکار او قزاقي جنګ ټوپک ښکاري، خوشحال خان په دستار نامه کې لیکي چې: « ښکار لره، د قزاقي جنګ لره لنډه کوتاه سپز رخت ټوپک بویه، چهار مثقالي، په طول دوه ګزه لا کم، تر یوه ګزه زیات»[9]. د ټوپک میل له سره تر پایه په تدریج سره پنډېږي. میل یې له ګُندې سره د ډېرو کړیو په واسطه ټینګ شوی دی او د لرګي برخه یې ۱۵۵ سانتي متره اوږده ده او په پای کې یې ګُنده د پس لګد د تخفیف لپاره کږه جوړه شوې ده. دغه کیفیت په هغو ټوپکونو کې نه لیدل کیږي چې، تصویر یې ابوالفضل په (آئین اکبري) کې کښلی دی او مستقیم قُنداق ښکاري. د ختک د ټوپک د میل خوله تزئینات لري او خارجي قطر یې په خوله کې ۳۸ ملي متره او په شا کې ۴۲ ملي مترو ته رسیږي. له ټوپک سره د ډکولو سیخ هم موجود دی چې، ۹۸ سانتي متره اوږد دی. د ټوپک فلزي برخه له اوسپنې څخه جوړه شوې او داسې ښکاري چې، ډېره ټکول شوې ده او په هغې کې یوازې میل ۱۲۵ سانتي اوږدوالی

لري. د نښې نيولو ترتيبات يې ثابته جوړ او زخه ده. ټوپک د بند لپاره دوی حلقې لري او داسې ښکاري چې، په اوږه به هم اچول کېده.

دغه ټوپک د خوشحال خان په اصطلاح سر دست ټوپک دی او پښې نه لري. خوشحال خان ليکي: « د ټوپک ويشتل په دوه رنګه دي، يو په مځکه شي، چې پښې په مځکه ښخې کړي، ولي يې، دا شان ويشتل د ټوپک په هنر شمار لی نه دی، ښځه به هم دا هسې ټوپک ولي، بلکه هلک هم، د ټوپک د ويشتلو هنر په سردست دی. هر څوک چې ټوپک په سردست ښه ولي، هغه مرد دی.» 9

بايد دا خبره څرګنده شي چې، که څه هم پښتانه له ټوپک سره نا اشنا نه وو او په تاريخ مرصع کې د افضل خان خټک له ليکنو څخه په ډېرو مواردو کې څرګندېږي چې، د قبيلوي جګړو په ترڅ کې ډېر کسان په ټوپک لګيدلي دي او په جګړو کې له ټوپک نه کار اخيستل شوی دی، خو دغه وسله په خپله ابتدايي بڼه يوازې د يو شمير شتمنو او په تيره بيا خان خيلو کورنيو په لاس کې وه او استعمال يې د ګورګاني پليو په شان نه وو عام شوی. افضل خان ليکي چې: د شاه جهان په زمانه کې خوشحال خان ډېر لږ ټوپک وال (توپچيان) درلودل او په دې وجه ګورګاني واکمن د يوسفزو په جګړو کې هغه ته د زرو تنو حکومتي ټوپک والو، د

استخدام صلاحیت ورکړ[9]. همدارنګه، په نورو جګړو کې هم د پښتنو محدود شمیرجنګیالو ټوپکونه درلودل.
توپخانه، په تیره بیا سارایي توپونه او د بان توغوندي، د ګورګاني واکمنۍ خاص امتیازوو. پښتنو په خپل لاس کې توپخانه نه درلوده او حتی په هغوو ختو کې چې، د توپخانې د ترلاسه کولو لپاره یې امکانات هم وموندل، د خپلو ځانګړو جنګی تمایلاتو او تکتیکي اصولو تر اغیزې لاندې یې زیاتره سپکې توپخانې ته پاملرنه درلوده. دوی سپکه توپخانه په ډیرمهارت کاروله او په راوروسته وختوکې یې په سپکه توپخانه کې یو لړنوښتونه را منځته کړل. د زنبورک په سپکو توپونوکی اصلاحات هم د همدې تمایل محصول وو. کلونل کولو مبارې په خپل تحقیق کې چې د زنبورک ( Les Zanbureks ) په نامه یې کړي دی، لیکي چې: د کندهار پښتنو په ۱۷۲۲ کال کې د لومړي ځل لپاره زنبورک د یوه څرخیدونکي زین د پاسه نصب کړ چې، د هغوی مهم ابتکار ګڼل کیږي[9]. د هوتکیانو او درانیانو د حکومت په دوران کې همدغه سپکې توپچي وسلې یا زنبورک د مانور د لوړ قدرت له مخې ډېرې په زړه پورې تکتیکي وسلې وی. زنبورک په کال ۱۷۲۲ کی د ایران د صفوی واکمنۍ له پوخ سره د ګلناباد په جګړه کې د هوتکیانو په بری کی قاطع رول درلود.[9]

د پښتنو سپکې او درندې وسلې، د خوشحال خان پـه زمانـه کـې غیر ستاندارد او د تخنیکي اغیزې له مخې نا مساوي او راز راز وې. د پښتنو مهارت په دې کې وو چې، دغه وسلې یې، که څه هم د کیفیت او کمیت لـه مخـې د ګورګـاني اردو تـر وسـلو کمـزورې ښکارېدې، په پلې حالت او غرنیو جګړو کې په ډېرې اغیزې سره چلولې. د ګورګاني لښکرو د وسله وال تخنیک او منظمو سـپرو بشپړه اغیزه یوازې هغه وخت ممکنـه وه چې، لـه دښمن سـره پـه پراخو میدانونو کې منظمې جګړې تـه ووزي. پـه داسې حـال کـې چې، په غرنیو شرایطو کې یې دغه قابلیت ډېر کمیده. پـه داسې چاپیریال کې تکړه او توریالي پلي مرد میدان وو چې، د پښـتنو لښکرو زیاته برخه یې جوړولـه. کـه څـه هـم د وسلو او محـاربوي تخنیک له مخې کمزوري سمبال شوي وو. د دوی په مقابـل کـې د ګورګانیانو پلي صنف د اروپا د فیوډالیته دوران د پلیو پـه شـان ددې په ځای چې ښه سپاهیان وي، زیـاتره ښـه خدمتګاران وو او په هماغه توګه چې، سویسی پلیـو پـه ۱۵ مـی پیـړۍ کـې د خپلـې تخنیکي پلي وړتیا لـه مخـې د سـپرو لښـکرو زر کلن شـهرت پـه ځمکه وواهه[9] د پښتنو پلیـو میړانـې او کـاري تـورو، د ګورګـاني مغولی سپرو د حرفوي او عنعنوي ویاړونو خمار د پښتونخوا پـه سردرو کې مات کړ.

# د ګورګاني حکومت او پښتنو په جنګونو کې
# د ستراتژیک او تکتیکي عمل څرنګوالی او پایلې

د ګورګـاني اردو جګـړه ییـز تکتیـک زیـاتره پـه هغـو عنعنـوي قواعـدو بنـاوو چې، د امیـر تیمـور ګورګـاني لـه خوا یـې اساس کیښـودل شـو. ددغـو قواعـدو پـه اساس پـه بیلابیلـو محـاربوي شرایطو کې د جګـړه ییز نظام څرنګـوالی د «تـوزوک تیمـور» پـه پاڼو کې په مفصل ډول څرګند شوی دی[9].په داسې یـوه جګـړه ییز نظام کې، چې د منظمو پوځونو د تکتیکي فعالیت اساسي فـورم وو ، ددې لاندې عناصرو نه جوړېده:

د ستر قوتونـه یـا طلایـه (قـراول) ، د مخکیني او څنګني پیشد ارمفـرزی ( هـر اول او الـتمش) ، ښـي اړخ (برانغـار) ، کـیڼ اړخ (جرانغار) ، مرکز (قول) او د عقبد ار مفـرزه (چنداول).دغـه نظام چې د «صف آراستن» پـه دود د جګړې پـه ډګـر کې جوړېـده ، یـو متراکم، دروند او بطي نظام وو چې، استقرار یـې د مرکـز (قـول)

په متانت ولاړ وو او د مانوړ وړتیا یې ډېره محدوده شوې وه، په تېره بیا چې، د لوژستیکي کتارونو او اردوګاه دروند او پراخ پایڅوړ یې هم تر شاه تړلی و. هغه جګړه چې په دې نظام کیده، پایله یې معمولاً غوڅه تکتیکي ماتې یا غلبه وه. په دې نظام کی د بندوق چیانو (پلیو ټوپکوالو)، نورو پلي پوځونو، توپخانې، د بان راکټونو، سپرو او فیلانو ټولو طاقت متمرکز کیده او ددې پوځونو هر یوه، په جګړه ییز نظام کې ټاکلی ځای درلود. ددې نظام بشپړه اغیزه هغه وخت شونی وه چې، میدان اوار او د سپرو د تاختونو لپاره پراخ وای. ځکه په محدود میدان کې د سپرو له فعالیت او اغیزې څخه چې، د ګورګاني اردو اساس یې جوړ کړی وو، ګټه نه اخیستی کیده. حتی هغه میدان چې لږ څه خنډونه به یې هم درلودل، ددې راز نظام لپاره ښه نه وو. په غرنیو سیمو او سردرو کې خو د سپرو تکتیکي عمل زیاتره محدودېده او له دې کبله ددې ډول نظام پښه په غرونو کې ګوډه وه، پوځونه په ډېرو نا مساعدو شرایطو کې ګیربدل او نخبه سپاره یې په کې له پښو لویدل:

په دا لار د شهسوارانو ختل ګران دي
ګوډ څو به باندې خیژي ملکنډ دی[9]

په دې وجه له داسې شرایطو سره د ګورګاني مغولو پوځی نظام د جنګي قابلیت د نه مطابقت له کبله، د هغوی درنده او له

حشمت او جلاله ډکه اردو د پښتنو، راجپوتانو او مرهټه وو د لښکرو په مقابل کې له زیاتو ستونزو سره مخامخ وو. د همدې دلیل له مخې ګورګانیانو، تل د جګړې لپاره اوار میدان او پراخه سیمه لټوله.

ګورګانیانو که څه هم د منځنۍ آسیا د جنګي دودونو ځینې ارزښتونه ساتلي وو ،خو په هند کې یې د امپراتورۍ په حشمت کې ځینې هغه جګړه ییز دودونه هیر کړل چې، د منځنۍ آسیا په بیابانونو کې له لرغونو زمانو څخه د بیاباني قبایلو اغیزمن جګړه ییز هنر وو. خوشحال خان دا هنر د هغې د منبع د هویت له مخې د قزاقي جنګ په نامه پیژنی. د قزاقي جګړې هنر زیاتره د اوسني عصر د اصطلاحاتو له مخې ګریلایي جنګ ته او د کلاسیک جنګي هنر په تاریخ کې د فیبان ستراتیژي ( Fabian Strategy ) ته ورته دی چې، د کارتاژۍ هنبیال په مقابل کې له میلاد څخه مخکې د درېمې پیړۍ په وروستیو کلونو کې د رومی لښکرې مشر فیبیوس (Fabius ) د جنګي عمل له مخې پیژندل شوی او په عسکري ادبیاتو کې، ید تکتیکي او ستراتژیکي غیر مستقیم تقرب عام مفهوم ګرځیدلی دی. په منځنۍ آسیا کې د بیابان قبایلو له خوا ددې ډول جګړه ییز هنر تطبیق آن له لرغونو حماسي دورو څخه نیولې د کوروش او مقدوني سکندر تر زماني پورې او بیا د یونانو باختریانو،

کوشانيانو، يفتليانو، ساسانيانو او اسلامي واکمنيو تر زمانې پورې مسلم ښکارې. د چنګيز او تيمور د زمانې جنګي ډيناميزم، هم له دې هنر څخه بې برخې نه وو. شيبانيانو او جنيديه استراخانيانو هم په ۱۲ او ۱۷ پېړۍ کې دې هنر ته خاصه پاملرنه درلوده.[9]

د قزاقي جګړې هنر په دې کې وو چې، د سترو او منظمو پوځونو په مقابله کې د وړو غير منظمو لښکرو د جګړه ييز عمل د پاره يې منطقي تناسب منځته راوست او بې له دې چې په ميدان کې له سترو منظمو پوځونو سره په غوڅه توګه وجنګيږي، خپل قوت يې ګرځنده ساته او په ناڅاپي ډول يې د غليم پر کمزورۍ ټک ګوزار کاوه او بيا بيرته په داسې سيمو کې پناه کيده چې، د دښمن د تکتيکي مانور او اغيزې له ميدان څخه به وتلي وو او لږ څه وروسته به بيا په بل ځای کې راڅرګند شو. دا ډول جګړه پر دښمن باندې ستره روحي اغيزه اچوله، په تدريج سره يې ستړی کاوه او په پای کې يې جنګي قدرت ماتاوه. که څه هم دې عمل زيات وخت نيوه. له خارجي استعماري لښکرو سره د ملي قوتونو جګړه د تاريخ په اوږدو کې تل په همدې دود ترسره شوې ده.

غرنۍ سيمې، بيابانونه او داسې نورې سيمې چې د ګريلايي قوتونو لپاره خوندي اډې لری او د منظمو پوځونو د بشپړې اغيزې امکانات په کې محدود ګرځي، د ګريلايي جګړې لپاره

مساعد ې سیمې دي. برسیره پر دې، ګریلایي جګړه د پردي یرغلګر لښکر په مقابل کې د سیمې د خلکو عنعنوي جګړه ییز تمایل وو ، ځکه په داسې چاپیریال کې ګریلایي قوتونه ځانته خوندي اډې درلودې ، په داسې حال کې چې، پردی لښکر به په هره برخه کې ناخوندي وو.

په ۱۲ او ۱۷مې پېړۍ کې د ګورګاني واکمنۍ او د هغې د دښمنانو په منځ کې جنګي چاپیریال او جګړه ییز تناسب داسې وو چې، دګورګاني واکمنۍ مخالف ولسونه یې له منظمو پوځونو سره د مقابلې دپاره ګریلایي جنګي عمل ته هڅاوه.

د مرهټه وو نامتو مشر شیواجي هم د خپلې سیمې (دکن) له طبیعي محیط څخه په ګټه اخیستو سره د ګوزار او تیښتې ګریلایي تکتیک غوره کړ او هغه یې د خپلو پوځونو ستر هنر وګرځاوه. شیواجي د ګورګاني واکمن او د دکن دحکومتونو په مقابل کې جنګیده چې، دواړو منظم او درانده، پوځونه درلودل او حرکت یې د درندې توپخانې او د اکمال د اوږدو کتارونو په اثر ډېر بطي و. دغه کار شیواجي ته ښه فرصت ورکاوه چې، د خپلو سپکو او چټکو سپرو په وسیله د ګورګاني لښکر په پایځوړ ناڅاپي یرغل وکړي، ولجې ترې اوچتې کړي او بیرته د برېښنا په څیر خپلې غرنۍ اډې ته په شا ولاړ شي. شیواجی دغه اډه د مضبوطو کلاوو په جوړولو سخته ټینګه کړې وه. شیواجي

پوهيده چې، د ګورګاني پوځونو په مقابل کې يې هم د لښکرو شمير لږ دی او هم يې وسلې د هغوی په پرتله کمزورې دي، نو يې نه غوښتل چې، په ميدان کې د ګورګاني اردو په مقابل کې منظمه جګړه وکړي، بلکې په ناڅاپي ډول به يې په داسې ځای او وخت کې پر دښمن باندې ګوزار وکړ چې، انتظار به يې نه کيده او غليم ته له ګډوډۍ او تاوان اړولو وروسته به، بيله دې چې په دوامداره جګړه کې ځان ښکيل کړي، په چټکۍ سره به د خپلو غرنيو کلاوو اډې ته په شا ولاړ او بيا به په بل ځای کې راپيدا شو. د همدې ډول عملياتو له مخې وو چې، اورنګزېب شيواجي ته ( د غره موږک ) نوم ورکړی و.

له ګورګاني حکومت سره د راجپوتانو په جګړو کې هم دا حقيقت څرګند برېښي. د راجستان بياباني سيمې، د راجپوت د لښکرو سپکو او چټکو سپرو او د بيابان او ځنګلونو په زړه کې د هغوی سيمه ييزو اډو او په تيره بيا له ګورګانيانو سره د هغوی د لښکرو د شمېر او وسلو نا انډول تناسب د ګريلايي جګړو لپاره شرايط مساعد ګرځولي وو.

راجپوتانو خو له دښمن سره د منظمو او د صف جګړو تجربه هم ډېره ترخه تيره کړې وه. د راجپوتانو نامتو مشر رانا سنګرام سنګ د ښو او بهادرو سپاهيانو له درلودو سره سره، په ١٥٢٧ کال په (کانوا ) کې د ظهيرالدين بابر په مقابل کې ماتې وکړه او

په همدې وجه راجپوتانو وروسته له هغه ګریلایي جګړو ته مخه کړه چې، د جلال الدین اکبر په مقابل کې د راجپوت د بل مشر مهارانا پراتاب سنګ په عملیاتو کې پوخوالي ته ورسیدې. په دې طریقه پراتاب سنګ په دومره اغیزمندۍ له ګورګاني لښکرو سره مقابله وکړه چې، خان خانان د مهارانا په ستاینه کې مفصله بوللّه ولیکله او بیا همدا ګریلایي جګړې وې چې، د ګورګاني واکمنۍ په دوره کې د راجپوتانو د پایښت او بقا سبب وګرځید.

دا خو د ګورګاني حکومت په مقابل کې د مرهټه وو او راجپوتانو د جګړه ییز عمل څرنګوالی وو چې، د دوه اړخیز لښکري تناسب او جغرافیوي چاپیریال د خصوصیاتو د مستقیمي اغیزې په نتیجه کې منځته راغلی و، مګر د ګورګاني حکومت د سیاسي او ستراتژیکو تمایلاتو له مخې د پښتنو وطن د دکن او راجستان له شرایطو څخه څرګند توپیر درلود او په نتیجه کې د هغو عواملو له مخې چې په تیرو پاڼو کې یې یادونه وشوه، د ګورګانیانو اصلي ستراتیژیکه پاملرنه پښتونخوا او افغانستان ته اړوله شوې وه. د پښتنو وطن د سترو ستراتژیکي استقامتونو لاره او د شمالي هند په اړخ کې د سیاسي او ستراتژیک پوتانسیل او ډینامیزم یوه غښتلې سیمه وه. ګورګاني حکومت په دکن او حتی راجستان کې تر یوه حده موقتي ماتې یا توقف منلای شو ،خو په پښتونخوا کې یې د یوې شیبې لپاره هم د خپل

نفوذ د بايللو ميلان نه درلود او دا ځکه چې، په دې کار کې يې نه يوازې د اټک له لوري په شمالي هند کې د قدرت ستنې سستې کيدې، بلکې په افغانستان کې د مغولو د امپراتورۍ د سياسي، اقتصادي او ستراتيژيکي مفاداتو سرنوشت هم ورسره تړلی وو.
په دې وجه ګورګانيانو د پښتنو په مقابل کې په خپل بشپړ طاقت دربدل او تر وروستۍ پولې پورې يې په ستراتژيکو لارو باندې، د نفوذ د ساتلو لپاره هڅه کوله. په دې ترخ کې د ګورګاني لښکرو د پرله پسې ځپو په مقابل کې چې په تيره بيا د سترو لارو او ستراتيژيکي اډو په لوري خپرېدې د پښتنو جنګي عمل بيل بيل اړخونه درلودل. که يې يو اړخ د ګريلايي جګړو له لارې د ګورګاني لښکرو پرله پسې ټکول او د ستراتيژيکی او لوژستيکي ارتباط د لارو پرېکول وو، نو بل اړخ يې مخامخ ميداني جګړه وه چې، په تيره بيا په غرنيو سردرو، ستراتيژيکي غاښو او ګذرګاوو کې ترسره کيده. په کړپه، خيبر، خاپښ، بازار دره او جګدلک کې د ګورګاني لښکرو ملا، په همدې راز مخامخ جګړو کې ماته شوه. مګر ددې راز هميشني جنګي تقابل سره سره په ۱۷ مې پيړۍ کې پښتانه قامونه له يوې خوا د قبيلوي مناسباتو او تربګنيو په وجه او له بله پلوه، د ګورګاني حکومت د زهرپاشيو په اثر د يوې ګډې او پايدارې پوځی جبهې په

جوړولو کې پاتی راغلل. په پایله کې پښتنو د غلیم د منظمو لښکرو، پوځي تشکیلاتو، ستري توپخانې او ډول ډول ستاندارډو وسلو د مجموعی طاقت سره په جنګ کې په دې بریالي نه شول چې، خپل بشپړ لښکري طاقت په داسې یوه تکتیکي تقابل کې میدان ته کړي چې، د پاني پت، چوسا، قنوج او کرنال د جګړو په شان سمدلاسه او غوڅه نتیجه ترې راووزی.
خو په عین وخت کې د پښتنو د خاص جګړه ییز عمل په وجه، چې د خپلو اوچتو غرونو په سردرو کې یې د دښمن په مقابل کې ترسره کول، ګورګاني لښکرو ته هم لږ دا موقع میسره شوه چې، د جګړې په ډګر کې د خپلو منظمو سپرو او درندې توپخانې له بشپړی اغیزې نه ګټه اوچته کړی. په نتیجه کې ګورګانیان په دې بریالي نه شول چې، د پښتنو جنګي پوتانسیل له منځه یوسي، بلکې دغه اغیزناک طاقت د غرنیو جګړو په شور او زوړ او د پښتنو توریالیو سپاهیانو په توره، چې په خپلو غرونو کې یې د ګورګاني سپرو بهیرونه ماتول، د ګورګاني مغولو د واکمنۍ د قدرت په ټوله موده کې خوندي پاتې شو.
په دې توګه د تعجب ځای نه دی چې ،خوشحال خان په دستار نامه کې اشاره کوي چې: «په غره کې سل، زر سره یو دی»[9] او په همدې بحث کې د دربو جګړه ییزو میتودونو یادونه کوي چې، د صف جنګي، قزاقي جنګ او شبخون په نامه یې یاد کړي دي. هغه

څه چې خان د صف جنګي توصیف پرې کوي ، کټ مټ د هغه کلاسیک جګړه ییز نظام ځرګندونه ده چې په میداني جګړو کې د منظمو لښکرو له خوا غوره شوي وو او د ګورګانیانو تدوین شوي جګړه ییز نظام وو. د قزاقي جګړې په بیان کې خوشحال خان د مانور په اهمیت او اغیزي ټینګار کوي او په ډېر مناسب ډول د « جنګي تردد » نوم ورکوي. خوشحال قزاقي جنګ، چې د افضل خان ختک د لیکنو له مخې د پښتنو په داخلي قبایلي جګړو کې هم مروج وو[9]، د ورو پوځونو له خوا د سترو لښکرو په مقابله کې یو مناسب جنګي تردد ګڼي چې، د چټکو سپرو له خوا ، چې بې تکلفه او سپکې وسلې او تجهیزات ولري، ترسره کیږي. هغه په دې باره کې لیکي: « ترصف جنګي نه جنګ بهتر د قزاقي دی. د قزاقي جنګ غلیم کش دی د ځان محافظت پکی احتمال لري. قزاقي د ترکستان د ملوکانو پاخیدلی ده. په ترکانو کې یوه طایفه ده قزاق نومې، ډېر بهادران دي، قزاقي د هغو ده، .... دوه کاره د قزاقي لازمه دي، یو ښه آسونه، بل غشي، د ښو اسونو په زور، د غشیو په زور په لږ سواره هم مسخر په عالم شي. برګستان او ډېر سلاح په قزاقي کې نه بویه... د قزاقي پیشه د دکن برکی هم لري چې غشي نه لري، په نیزه جنګ کا ، برکت یې نشته، د قزاقي میرانه داده چې په غلیم راشي یک دله ورباندې مټ یک جلب وکړه. که زبون دی د هغه بیخ بنیاد یې وکاږه او که

نه حمايت يې پيدا شو يا درباندې زور ور وو ، هسې ورځنې ځان وشلوه چې ګرد دې هم ونه ويني، د قزاقي ميړانه په تيښته او د يار او د ځان په ساتل کې ده. بيا چې نن ولاړ شوې و غليم ته وار نه ورکوي، په څومه ورځ بيا ورته حاضر شي.»[9]

دقزاقی جنګ بنسټ، اصول او ځانګړيتوب په راتلونکی برخه کې بيان شويدی.

خوشحال خان د شبخون په توصيف کې ددې ډول جګړه ييز مانور ناڅاپي اغيزې او تکتيکي ګټې څرګندوي او اساس يې له يوه اړخ نه د غليم راجلبول او غولول او له بله اړخه، چې انتظار يې نه کيږي، د اصلي ګوزار واردول دي او په مجموعي توګه دا ډول مانور تکتيکي هدف ته يو غير مستقيم تقرب دی.

دا خبره هم د يادونې وړ ده چې، د خوشحال خان تر زمانې پورې لا په پښتونخوا کې په ځمکو او دايمي استوګن ځايونو باندې د اکثرو پښتنو قبايلو ميشته کيدل، دومره ژورتيا نه وه موندلې چې، هغوی د ټينګو جنګي کلاوو جوړولو ته وهڅوي. له بله پلوه د پښتنو وطن طبيعي غرني سنګرونه ډېر درلودل چې، د خطر په وخت کې به ورختل او د جنګي کلاوو جوړولو ته يې ميلان لږ کړی وو. د افضل خان ختک د ليکنې له مخې په خپله سرای اکوړه ، د ختکو د سرداری مرکز چې، د لويې لارې په حساس موقعيت کې پروت وو ، د يحيی خان ختک په ژوند کې کوټ نه

درلود ، بلکې یوازې خار بندي یې شوې وه چې یو کمزوری دفاعي دېوال وو.[9] په دې وجه د پښتنو غرني سنګرونه د هغو مضبوتو کلاوو په شان نه وو چې، مرهټه وو د خپلې سیمې په لویدیزې غرنۍ سیمې کې جوړې کړې وې. دا موضوع د دښمنانو په مقابل کې د پښتنو یوه هغه دفاعي کمزورتیا وه چې ،ګورګانیانو ترې زیاته ګټه اوچته کړه. خوشحال خان د خپل ژوند په وروستیو کلونو کې افسوس کاوه چې، یو دفاعي کوټ یې ځانته نه وو جوړ کړی.

خدای وکړي دا چارې په ما واړه وکړي زړه
څو چارې غلط شوم چې مې لوی کړ احمق تره
بل چې مې یو کوټ محکم بنا نکړ په غره
بل چې مې په توره په خدمت غرور کاوه[9]

په نتیجه کې لکه څرنګه چې د عصر او سیمې د لښکري تشکیلاتو، جوړښت، وسلو او تجهیزاتو، تکتیکي او ستراتیژیکي عمل څخه ښکاري، په ۱۷ مې پیړۍ کې د ګورګانیانو د فیوډالي واکمني عسکري مؤسسات له خپلو ټولو موثراتو سره د سیمه ییزو قبايلي پښتنو د لښکري جوړښت په مقابل کې دریږي. د ګورګانی مغولو دغه پوځی طاقت منظم پوځونه او د بیلابیلو ملیتونو ټاکلی لښکري تشکیلات لري چې، لږ ترلږه د پوځي واحدونو په چوکاټ کې په ستاندردو

وسلو، تجهیزاتو او لوژستیکي پراخ ملاتړ سمبال دی او د تدوین شوو جنګي قواعدو له مخې په پردۍ خاوره کې جنګیږي. په داسې حال کې چې مقابل لوری ته یې د پښتنی قامونو ملی ځواک ولاړ دی. مګردغه ځواک د یوه ملیت د قبایلي لښکرو موقتي تکتیکي جوړښت دی چې، د ګډ ملي او قومي احساس مزي یې د یوه استعماري قدرت په مقابل کې سره یو موټی کوي او د دښمن په تناسب د غیر ستاندارډو وسلو او تجهیزاتو د کمزورتیا سره سره، په خپلو غرونو کې د خپلې عنعنوي جنګي وړتیا او دود او دستور له مخې، په ټینګ عزم د مبارزې ډګر ته راوزي. د مغولو پوځي طاقت خپل زور د حرفوي لښکرو، رازراز سپکو او درندو وسلو او تجهیزاتو، پراخ لوژستیک ملاتړ او منظم جنګي هنر په قوت او اغیزو کې ګڼي، په داسې حال کې چې، د پښتنو ملي وسله وال جوړښت په ستر روحي قوت ملي ګډ احساس او داسې میړانې او غیرت سمبال دی چې، د خپل ولس د خپلواک ژوندانه له حماسي تاریخ او دود او دستور څخه یې په میراث اخیستی دی.

د ګورګانیانو او پښتنو په جګړو کې د دواړو خواوو لښکرې مقایسه همدا ډول ده، نو په دې وجه ددې لپاره چې مغولی فیوډالي جنګي طاقت د مقابل لوري د تکتیکي ارزښتونو اغیزې محدودې او شنډې کړي او په ستراتیژیکو سترو

ارزښتونو د هغو د پراختیا مخه ونیسي، د سیاسي ستراتیژۍ له لارې زیار باسي چې، د قبایلي تکتیکي ارزښتونو په منځ کې اړیکې وشلوي، په بیلا بیلو سیمو یې محدود کړي، بېلوالی په کې منځته راولي او په پای کې یې د یوه بل په مقابل کې داسې سره واچوي چې، دغه پتمن او له غیرته ډک سکروټې، په خپلو منځو کې یو بل سره وسوځوي او میدان دښمن ته صاف شي.
ګورګاني حکومت په شمالي هند کې د پښتنو په توره ټینګ شو او بیا دغه حکومت په همدې توره نور زیات میدانونه وګټل او بیا خو عجیبه داده چې، له ټولنیزو او سیاسي شرایطو څخه یې په ګټه اخیستلو سره په همدې پښتنی توره په خپله پښتانه ووهل. که یوسفزي د ختکو په وسلو وځپل شول، که د بنګښو او ختکو تورې په خپل کور کې دوه ورونه سره وسوځول او که په عمومي توګه پښتنو قبایلو، د خپلې تورې زور چې پردي استعمار ته د توپان په شان تباه کوونکی وو، په یوه بل باندې وازمایه، نو په دې ترخ کې هغه چا چې، رښتیانی سیاسي او ستراتژیکي ګټه ترې اوچته کړه، ګورګاني واکمن وو چې ،پښتانه ورسره د دوو پیړیو په موده کې د جنګ ډګر ته راوتلي وو.
هغه سیاسي وسلې چې ګورګاني حکومت د همدې مرام لپاره په کار واچولې، هماغه زړې او پیژندلی شوې وسلې وې چې، د

ټولنیز جوړښت له مخې، مخصوصاً په هغه زمانه کې، د پښتنو د قبایلي ژوندانه او قبایلي رقابتونو او تربګنیو په چاپیریال کې ډېرې اغیزمنې وې. په داسې لویه فضا کې د تعجب خبره نه ده چې، که له یوې خوا د یوسفزو د قیام نومیالی مشر بهاګو د ګورګانیانو په مقابل کې د خپلې مبارزې سنګر په کلونو کلونو تود ساتي، له بله پلوه د بهاګو زوی د شاه جهان له خوا «صدودهی» منصب ترلاسه کوي[9]، که له یوې خوا خوشحال خان ختک د ګورګانیانو پر ضد د مبارزې جنډه هسکه نیسي او تر پایه پورې وسله په مځکه ورته نه ږدي، له بل پلوه یې زوی بهرام ته د اورنګزېب له خوا خاني او سرداري او پوځي مرسته منظورېږي. د زر و پشل، د ځمکو او جاګیرونو ورکول، د منصبونو او لقبونو بخشش هغه وسیلې وې چې، د پښتنو جنګي طاقت یې ټوټې ټوټې کړ او بیا یې د اورنګزېب په وینا یو هډ په بل هډ مات کی[9] یا د خوشحال خان په قول:

دا منصبونه دا انعامونه

واړه زندی دي واړه دامونه[9]

دا کار خو د ګورګاني ستراتیژۍ ډېره پخوانۍ ممیزه وه، خو کوم وخت چې د یوسفزي بهاګو، ایمل خان مومند، دریا خان اپریدي، خوشحال خان ختک او نورو ورسره پښتنو ولسي مشرانو تر رهبرۍ لاندې، د ۱۷ مې پیړۍ په دویمه نیمایي کې د ګورګانیانو

په مقابل کې د وسله وال پاڅون ټینګ سنګرونه جوړ شول، له کندهاره تر اټکه ولسونه را پاڅیدلي وواو په سوات، باجوړ، تاتره، دوابه، خیبر، نوښار، کړپه، خاپښ او نورو سترو او وړو جګړو کې د پښتنو توري وځلیدې او اورنګزیب په خپله حسن ابدال ته راغي، کورګاني واکمن له یوې خوا د زرو د کڅوړو خولې خلاصې کړې او له بل پلوه یې د نامحدود تشدد د تورو او غم لړلو پیښو په ترځ کې د پښتنو له ککریو مناري جوړې کړې، کلي او کورونه یې وسوځول، په ډله ییزو وژنو، لوټ او تالان یې لاس پورې کړ، په هر ستراتیژیکي موقعیت کې یې پوځونه ځای پر ځای کړل او تر ټولو مهمه یې دا چې، د جاګیرونو، منصبونو او لقبونو په دامونو کې یې یو شمیر پښتانه داسې ښکیل کړل چې، د هغوی ستري تکتیکي اغیزې یې د خپلې سیاسي ستراتیژۍ په ډ ینامیزم کې تر زیاتې اندازې شنډې کړې. په بل عبارت هغه ګټنې چې پښتنو د پوځی ستراتیژۍ په غیر مستقیم تقرب کې ترلاسه کول، ګورګانیانو د عمومي ستراتیژۍ( Grand strategy ) په غیر مستقیم تقرب له منځه وړل او دا هماغه ډول ستراتیژي وه چې ،لیدل هارت ځانته یو کتاب پرې لیکلی دی[9].

په نتیجه کې ویلای شو چې، په ۱۲ او ۱۷ می پیړۍ کې له مسلطې ګورګاني واکمنۍ سره د پښتنو وسله والې مبارزې ځکه خپل وروستی مرام ته ونه رسیدې چې، د پښتنو د قبیلوي نظام

حماسي او بهادري جوړښت بې د کومې واحدې رهبرۍ د يوې فيوډالي واکمنۍ له ټولو مؤسساتو سره، د لښکري جوړښت په ګډون، مخامخ وو. که څه هم د پښتنو د ټولنې اقتصادي- ټولنيز جوړښت د تکامل يوه لوړ پړاو ته د ليږدېدو په مرحله کې وو، ټولنيزو مؤسساتو يې په داسې بڼه چې د سياسي او پوځي عمل په ساحه کې هماهنګ موثرات منځته راولي وده نه وه کړې. په ۱۲ پيړۍ کې د روښانيانو نهضت چې په لومړي سر کې يې د روښان پير په مشرتوب له پوځي عمل سره ايډيولوژيک عمل، چې د سياسي ستراتيژۍ يوه اغيزمنه وسله ده، ملګرى کړه د هغه له مړينې وروسته له ايډيولوژيک اغيزې څخه د ګورګانيانو د سياسي ستراتيژۍ د پرله پسې هلو ځلو او د پښتنو د سياسي مؤسساتو د غير کافي ودې په وجه محروم شو ،ان تر دې حده چې ځينو پښتنو پير روښان د دښمن د مبلغينو په خوله « پيرتاريک » ومانه او په دې توګه روښاني نهضت هم، يوازې له پوځی عمل سره په ميدان يوازې پاتې شو.

دا د ۱۷ پيړۍ خوشحال وو چې، د دې ټولو تاريخي واقعيتونو په درک کولو سره يې له تورې سره قلم هم راواخيست او په دواړو وسلو يې مبارزې ته دوام ورکړ. هغه په خپله زمانه کې د سياست او عسکرۍ ستراتيژۍ د يوه نسبتاً پراخ نړۍ ليد په رڼا کې د جنګي شرايطو مفصله څېړنه وکړه. له يوې خوا يې د ژوند تر پايه

دښمن ته توره په ځمکه کېنښوده او له بله پلوه يې تر مرګه پورې د پښتنو په قومي تحريک کې، د هغوی سياسي او ستراتيژيکي کمزورتياوې کله په خوړه او نرمه او کله په ترخه او ستوغه ژبه څرګندې کړي.

په ۱۷ پيړۍ کې د پښتنو د مبارزو د اوږدې مودې اغيزه دا وه چې، له قبايلي نظام څخه يې د ټولنيز تکامل يوه لوړ پړاو ته د پښتني ټولنې د ليږد بدو او د ملي حکومت د جوړېدو لپاره شرايط لا مساعد کړل چې، په ۱۸ مه پيړۍ کې يې تحقق وموند او د لنډې مودې اغيزه يې دا وه چې، دې جګړو له يوې خوا په راجستان کې د راجپوتانو پرضد د پښتنو استخدام تر يوه حده د ګورګاني حکومت له واکه وايست او له بله پلوه يې په دکن کې دمرهټه وو پرشيواجي باندې د ګورګاني حکومت فشار کم کړ او په داسې حال کې چې، د ګورګاني حکومت سياسي او عسکري زياته پاملرنه پښتونخوا ته اوښتې وه او د پښتونخوا په پېښو کې سخت مصروف وو، دمرهټه وو مشرو کولای شو، په کارناتک، بيجاپور او ريګار کې ستر بريالیتوبونه ترلاسه کړي.[9]

په دې ترخ کې د خوشحال خان ختک د زړه فريادونو تر پايه پورې د پښتونخوا په غرو او رغو کې پښتانه د دښمن په مقابل کې يووالي ته رابلل.

هره چاره د پښتون تر مغل ښه ده
اتفاق ورځخه نشته دېر ارمان
د بهلول او د شیرشاه خبرې اورم
چې په هند کې پښتانه وو بادشاهان
شپږ اوه پېړۍ یې هسې بادشاهي وه
چې په دوی پورې درست خلق و حیران
یا هغه پښتانه نور و دا څه نور شول
یا د خدای دی اوس دا هسې شان فرمان
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان[77]

9. The Cambridge History of India, Vol 3, Turks and Afghans, P-40

9. Alfred Darid, Indian Art of War, Delhi, 1953, P-64
9. Lockhart, Nadir shah, London, 1938, P-125
9. Ishwari, Prasad, the life and times of Humayun, Calcutta, 1955, P-22
9. Wright, Q, A study of war, Chicago, 1942, pp 150-210
9. ابوالفضل علامی، آیین اکبری، د نوولکشور چاپ، کال، ۱۳۱۰هجری دویم ټوک، ۱۹۲ مخ

9. The Cambridge History of India, Vol 2, pp 29-30
9. Lockhart, Nadir shah, London, 1938, P- 177.
9. Sir Jadunath Sarkar, History of Aurangzeb, Calcutta, 1925, PP 265-276.
9. Edward Mead Earle (ed), Makers of Modern Strategy, Princeton, 1973, P-6
9. Walter Millis, Arms and Men, New York, 1965, P- 48
9. Prasad I. , History of Mediaeval India, pp 527-530
9. Maha Jan, The Delhi Sultanate, P- 236

9. کلیات: ۳۱۲ مخ
9. کلیات: ۵۲۹مخ

9. کليات: ۵۸۲مخ

9. Beni Prasad, History of Jahangir, P- 104

9. Alfred David, Indian Art of War, Delhi, 1953, P- 9

9. ابوالفضل علامی، ائين اکبري، لومړی ټوک

9. Beni Prasad, History of Jahangir, P- 103

9. خواجه نظام الدين احمد هروي: طبقات اکبری، دويم ټوک، ۴۲۲-۴۴۵ مخونه

9. Bosworth C.E, the Ghaznavids, Edinburgh, 1963, P- 98

9. Jaffer S.M, Mughal Empire, pp 160-161

9. ابوالفضل، ائين اکبري، د نوول کشور چاپ، ۱۳۱هـ کال، لومړی ټوک، ۱۳۳-۱۳۴مخونه

9. Gunpowder Empires

9. ابو الفضل: آئين اکبري، لومړی ټوک، ۸۱-۸۳ مخونه، او

Alfred David, Indian Art of War, Delhi, 1953, P-7

9. محمد قاسم: تاريخ فرشته، د هند چاپ، ۲۲۸ مخ، خواجه نظام الدين احمد هروي: طبقات اکبری، دويم ټوک، ۱۰۵مخ

9. منشی عبدالکريم: تاريخ احمد ، ۸ مخ او همدارنګه

Ganda Singh, Ahmad shah Durrani, pp 67-68

9. خوشحال خان ختک، دستارنامه ، د کابل چاپ، ۱۳۴۵کال، ۲۷ مخ

9. مرجع: ۲۹۳ مخ

9. آيين اکبري، دويم ټوک، ۱۹۲ مخ

9. مرجع: ۲۸۳مخ

9. مرجع: ۳۰۵ ، ۳۱۳ مخونه

9. Alfred David, Indian Art of War, p-10

9. دستارنامه: ۲۵، ۲۷ ، ۲۹ مخونه

9. J. Sarkar, History of Aurangzeb, p 260

9. Walker C.C., Jenghiz khan, London, 1939, pp 17-1

9. مرجع: ۲۲۵ مخ

9. مرجع: ۲۷۸، ۲۸۲ ، ۲۹۹ مخونه

9. Ishwari Prasad, The Life and Times of Humayun, Calcutta, 1955, P- 148

9. آيين اکبري، لومړی ټوک، ۱۳۴ مخ

9. کليات: ۴۲ مخ

9. کليات: ۲۸۴مخ

9. دستارنامه: ۲۲ مخ

[9] لغت نامه د هخدا ، د ایران چاپ، د «خردیف».وګوری «خاک توده»

[9] دستارنامه، ۲۵ ، ۲۲ مخونه

[9.] Alfred David, Indian Art of war, P- 5

[9] دستارنامه: ۲۷ مخ

[9] دستارنامه: ۳۰ مخ

[9] کلیات: ۱۲۲ مخ

[9] کلیات، ۳۴۲ مخ

[9] کلیات، ۵۵۶ مخ

[9] کلیات، ۲۴۷ مخ

[9] آیین اکبري، لومړی ټوک ، ۸۳ مخ

[9.] Alfred David, Indian Art of War, P- 5

[9] دستارنامه، ۳۰ مخ

[9] آیین اکبري، لومړی ټوک ، ۸۳ مخ

[9] دستارنامه، ۳۰ مخ

[9] دستارنامه، ۳۰ مخ

[9] مرصع: ۲۸۲مخ

[9] ډګروال کولومباری، د زنبورک توپونه، د فرانسی پوځی مجله، پنځم کال، دجون-جولای ګڼه، ۱۸۵۳ کال، پاریس، ۲۹۲ او ۲۹۳ مخونه

Colonel F. Colombari, Les Zambourak, Spectateur Militaire, Vol. 5, Paris, 1853, pp. 292-293

[9] علی احمد جلالی، مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکری، دوهم ټوک، کابل، ۱۳۴۷، ۲۹۸ او ۲۹۹مخونه

[9.] Edward M. Earle, Makers of modern strategy, Princeton, 1973, P-7

[9] تاریخ سلطان میرور مسمی به توزوک تیمور ، بهبی، ۱۳۰۷ ، هـ کال، ۱۹۰-۲۰۹ مخونه

[9] کلیات، ۴۴۳ مخ

[9] وګوری مهمان نامه بخارا

[9] دستارنامه، ۴۴ مخ

[9] مرصع، ۲۸۳-۲۸۸مخونه

[9] دستارنامه، ۴۱-۴۲ مخونه

[9] مرصع، ۲۲۷ مخ

---

[9] کلیات، ۹۴۷ مخ

[9] مرصع، ۲۷۸ مخ

[9] Sarkar, Sir Jadunath, history of Aurangzeb, P- 280

[9] کلیات، ۹۲ مخ

[9] Liddle Hart, The Strategy of Indirect Approach

[9] The Cambridge History of India, Vol. 4, P-240

[9] کلیات، ۲۱۵ مخ

# خوشحال او قزاقي جنګ

خوشحال خان ختک په خپل مهم اثر دستار نامه کې په يوه خاص جګړه ايز تاکتيک غږېږي چې دې ورته «قزاقي جنګ» وايي. دا جنګ يو راز قبايلي ګريلايي «چريکي» جګړه ده چې، هدف يې د پرله پسي خرپ او ترپ له لارې د سترو او منظمو ځواکونو سترې کول او په پای کې د هغو ماتول دي. که څه هم د خوشحال خان نه مخکې او د هغه نه وروسته يو شميرليکوالو په عام ډول د (قزاقي توب) او په خاص ډول د قزاقي جګړې مشخصات د جنګي هنرونو په اړانه کې بيان کړي دي، خو د ختکو خان د خپلې سيمې لومړنی څېړونکی دی چې،د دی جګړه ييزتکتيک په باب تفصيلي خبرې کوی.

خوشحال خان په دستار نامه کې د سياسي او اجتماعي سلوک د غوره هنرونو او خصلتونو د بيان په ترځ کې د دې ډول جګړې په

جزئیاتو غږېږي، مګر د (قزاق توب) او (قزاقي) حالت د تاریخي ریښې په باب د ختټکو د توریالی خان معلومات نیمګړي او صرف د هغه عصر او محدود جغرافیایي چاپیریال په روایاتو بنا دي. خوشحال خان داسې ښیي چې، ګواکي قزاقي جنګ د منځني آسیا د قزاق ولس نه را پاڅیدلی دی، مګر په حقیقت کې د قزاقي او قزاقي توب تاریخ د قزاق ولس د منځ ته راتلو نه چې په پنځلسمې پیړۍ کې واقع شو، نور هم شاته ځي.

په دې بحث کې درې مهم ټکي څېړل کیږي:

- د منځني آسیا په تاریخ کې د قزاق او قزاقي توب اجتماعي او سیاسي ماهیت او انګیرني
- د قزاقي جګړې خصوصیات چې د قزاقي توب له اجتماعي او سیاسي حالت نه راوتلي دي
- له متداولو ګریلایي جګړو سره د هغه قزاقي جنګ سیاسي او پوځي مقایسه چې، جزئیات یې د خوشحال خان په دستار نامه کې بیان شوي دي.

## قزاق او قزاقي توب

که څه هم نن د منځني آسیا یو لوی ولس ځان قزاق بولي او قزاقستان په هغه سیمه کې، د یوه خپلواک هیواد نوم دی، د قزاق د کلمې تاریخي بنسټ په قومي او نژادي اساساتو نه دی

بنا. په لرغونو زمانو کې (قزاقي توب) يا (قزاق ولی) د ځانګړو افرادو يا ټولنو د يوه خاص اجتماعي حالت ځرګندونه کوله.
قزاق يوه ترکي کلمه ده چې معنې يې بې کوره، آواره، رټل شوی او ياغي شوی دی.[1] د قزاق د کلمې تر ټولو لرغوني يادونه په يوه ترکي –عربي قاموس کې شوي چې، په ۱۲۴۵ م کال کې په مصر کې ليکل شوي او په ۱۸۹۴ کې په لندن کې چاپ شوي دی.
په دغه قاموس کې قزاق د بې کوره شوي، تبعيدي او ماجرالټونکي په معنې راغلی دی.[2] په دې معنې قزاق يو سريله، خود مختاره او له اصلي ملک او ولس نه بيل شوی عناصرؤ.
قزاق هغه چاته ويل کيدل چې، په خپله خوښه يا له مجبورۍ له خپل ولس او ټاټوبي نه بيل شوي ؤ او د ژوند ژواک په چارو کې د ځان ساتنې په کار کې يوازې په ځان تکيه ؤ. دغه بيلتون کله د بغاوت او سياسي اختلاف په وجه و او کله د نامساعدو سياسي، اقتصادي او اجتماعي حالاتو نه د تيښت لپاره. څوک د مناسب وخت په انتظار، د خپلو زورورو دښمنانو نه د خلاصيدو لپاره قزاقان کيدل او څوک د ژوند له سختيو سره د آشنا کيدو دپاره، قزاقي ژوند غوره کاوه.
داسې نور هم ؤ چې د داړه مارۍ د پاره يې د قزاق توب ژوند ته مخه کوله. د پنځلسمې پيړۍ مؤرخ عبدالرزاق سمرقندي ليکي چې: د ۱۴۴۰ او ۱۴۴۴م کلونو ترمنځ «د اوزبکو قواوو يوه برخه

قزاقي شوه او مازندران ته ولیږدیده او هلته په لوټ او تالان لگیا شوه، خو وروسته بیا په څټ راغله» او له قزاقي توب نه یې لاس واخیست.

قزاق توب یو اجتماعي حالت ؤ چې، په ټاکلي وخت کې یې د ټولنې، حکومت او دولت په مقابل کې د یوه سړي یا یوې ډلې د ټولنیز دریځ ځرګندونه کوله. دغه حالت په کوم خاص قوم پورې نه ؤ محدود، بلکې ټول دغه ډول خلک، که ترک ؤ که ایراني، کوچي ؤ که ځایي، عامي ؤ که خان، رعیت ؤ که پاچا، قزاق بلل کیدل. د زریني اردو خان توقتمش خان (وفات ۱۴۰۷م)، د شیباني او زبکو د دولت بنسټ اېښودونکي ابوالخیر خان (۱۴۱۱ – ۱۴۶۸م)، د هغه لمسي محمد شیباني (۱۴۵۱-۱۵۱۰م) او ظهیرالدین بابر (۱۴۸۳ – ۱۵۳۰م) ټولو قزاقي ژوند تیرکړی دی.

د قزاقي ژوند خصوصیات په ترکي منابعو کې د (قزاق لیک) په فارسي کې د (مدت قزاق) او (در ایام قزاقي ها) او په روسي ژبه کې د (казчесво) په کلماتو کې منعکس شویدی.[۴] همدغه راز د (قزاق داش) کلمه چې معني یې (قزاقي انډیوال)[۵] دی، د همدې فرهنګ نه راوتلې کلمه ده. ظهیرالدین بابر (۱۴۸۳ – ۱۵۳۰م) چې د شیباني اوزبکو د تاختونو په وجه یې په فرغانه کې خپله واکمني له لاسه ورکړه او ډېره موده د قدرت د بیاګټلو په هڅه، په منځني آسیا او افغانستان کې سرګردانه ؤ، د خپلې پردېسی

کلونه ( قزاقي وختونه ) بولي. دی په بابر نامه کې ۱۵۰۰ – ۱۵۰۲ کلونه ځکه د خپل ژوند قزاقي وختونه ( قزاقي لر ) بولي چې، په دغه وخت کې د خپل ټاټوبي نه بېل شوی ؤ او په ماورالنهر کې سرګردانه ګرځیده.[٦] د بابرلور ګلبدن هم په همایون نامه کې دې کلونو ته قزاقي کلونه وایي.

دا یادونه پکار ده چې د دغه ترکي دود او د ستور اغیزه په روسانو باندي هم پربوتي ده. په منځنیو پېړیو کې روسان د ترکانو او مغلو له پرله پسې تېریو سره مخامخ و او په نتیجه کې روسان د تر کانو له فرهنګ نه متاثره شول. په روسانو کې هم دا عادت باب شو چې، خپل ځوانان به یې له وسلو سره لیریو مځکو ته لیږل او هغو ته به یې قزاق ویل.[٧] په روسي ژبه کې د(казчесво ) کلمه هم له همدې ځایه راوتلې ده. په روسیه کې قزاق هغه چاته ویل کیده چې، له خپل ولس او ټاټوبي نه بیل شوی ؤ او د ماجرا جوییې ژوند یې تیراوه. دغو کسانو کومه مشخصه دنده او دایمي استوګنځی نه درلود او په عمومي ډول سر یله او سر ګردانه خلک ؤ. روسي قزاقان(cossacks ) په اصل کې د سلاوي بزګرو، ماجراجویانو او بې کوره خلکو نه جوړ و چې، د حکومت او برده دارانو د فشار نه یې سرحدونو ته پناه وړې وه. په دوی کې د آزادو خلکو نه نیولي تر وتلو جنګیالو او جهانګردانو، له تښتیدلو غلامانو نه بیا تر باتورو پهلوانانو او

هغو کسانو پورې هر څه موجود ؤ چې، د نوو مځکو په لټه لیریو سیمو او پردو ملکونو ته وتلي ؤ.[۸]

د پنځلسمي پیړۍ له پیل نه په لیکل شوو آثارو کې د روسي ژبو قزاقانو خبرې کیږي چې د روسیې او اوکراین د جنوبي سرحدونو په ساتلو ګمارل شوي ؤ. دا وخت په دغه سیمه کې د زریني اردو د ړنګیدو وروسته د مسکو دولت یو لړ سرحدي کلاوې جوړې کړې، تر څو ملک د کریمیا (قرم) د تاتارانو د پرله پسې حملو نه وساتي. اکثره دغه چاونۍ د دنییپر (Dnieper) دون (Don) او اورال (Ural) د سیندونو په غاړو پرتې وي. د دغو سرحدي مورچو ترمنځ مځکو کې سپرو قزاقانو ګزمې وهلې. له همدې وخته د روسي قزاقانو پوځونه منځ ته راغلل چې، اکثره یې په سرحدي سیمو کې په سختو امنیتي د ندو ګمارل کیدل.[۹] دغه حالت قزاق ته ارو مرود خپلواکي، نا پیلتوب او استقلال روحیه ورکوله. په دې حساب قزاق توب یو مؤقتي حالت ؤ او کله چې به بیل شوي افراد او پرګنې له خپل ولس سره یو ځای شوې، د قزاق توب حالت یې پای ته رسیده.

مګر په پنځلسمه پیړۍ کې د اوزبکو نه دبیل شوو قبیلو سیاسي او دولتي خوځښتونو د قزاق کلمې ته دایمي قومي ماهیت وبانښه. په دغه وخت کې د قبچاق په دښته کې چې د جنوبي روسیې نه د اورال تر سمندرګي پورې سیمې پکې شاملې وي[۱۰]

اوزبکــو د زرینــي اردو پــه خــانۍ کــې ســتر نفــوذ وموند او ابوالخیرخان (۱۴۱۱- ۱۴۶۸) په ۱۴۲۸ م. کال د اوزبکو د قبایلي اتحاد خان شو او له توبولسک څخه ترسیر دریا پورې ځمکې یې په قبضه کې وې. ده په منځني آسیا کې د اوزبکود سیاسي رسوخ د پراخولـو د پـاره پرلـه پسـې کوښښـونه وکـړل. میـرزا حیـدر دوغلات چې د دغې سیمې حالات یې په شپاړسمه پیړۍ کې لیکلي دي، وایي چې د پنځلسمي پیړۍ په دویمه نیمایي کې ابوالخیر خان له یو لړکورنیو ستونزو سره مخامخ شو او غوښتل یې چې، یو شمیر قومي مشران ونیسي. مګر دغه مشران چې ځانونه یې په خطرکی لیدل، د قراي او جاني بیګ په مشري لـه خپـل اوزبـک ولـس نـه بیـل شـول (۱۵۲۵م ) او د چغتـای د ولـس سیمو ته ولیږدېدل[11] او هلته د چغتای اولوس خان، ایسین بوغا، د اوزبکـو د یـاغي مشـرانو هـر کلـی وکـړ او د مغولسـتان پـه لویدیزو حدودو کې یې د چو د سیند په غاړه ځمکې او ورشو ګاني ورکړې او پردېس او زبکان په همدغو مځکو کې میشته شول.[12]

د ابوالخیر خان د مړینې وروسته د اوزبکو په خاني کې کورنیو اختلافونو او تربګنیو زور واخیست او له دې کبله یو شمیر نور اوزبک مشران هم له خپلو قبیلو او پیروانو سره لـه ولس نـه بیـل شول او د چو د سیند په سیمه کې یې له قراي او جاني بیګ سره

واړول. په دې وخت کې د دغو فراري او زبکو شمير دوو سوو زرو ته ورسيد.[۱۳] د دې نوو مهاجرو په راتلو سره د قرای او جاني بيګ ډله ډېره پياوړې شوه. څنګه چې دغه اوزبکان له خپل ولس نه بيل شوي او پرديو سيمو ته ليږد يدلې ؤ، نو دوي ته يې (قزاق او زبکان) ويل.[۱۴]

څو کاله وروسته (۱۵۸۸م) د جاني بيګ زوی بُرُندُق خان د قزاقانو د خپلواکې خانۍ بنسټ کيښود او دغه خانۍ په يوه راتلونکې پيړۍ کې يوې ستري کوچيانۍ امپراتورۍ ته پراخه شوه چې، لمن يې د کسپين د سمندرګي د ختيز او د اورال د سمندرګي د شمال نه د ايرتيش ترسينده او د التاي د غرونو تر لويديزو څنډو پورې غزېدلې وه.[۱۵]

خو له دې کبله چې قزاق او قزاقي توب د بيلتون يو موقتي حالت ګڼل کيده، د قزاقانو لومړنيو خانانو (برندق خان، زوی يې قاسم خان او لمسي يې حق نظر) خپله خاني يو موقتي دولت باله.[۱۲] مګر په شپاړسمه پيړۍ کې د اوزبکو او قزاقو ترمنځ سياسي او جغرافيايي بيلتون د فرهنګي اختلاف په وجه نور هم ژور شو او په پايله کې له دغو دوو سره خپلو خلکو نه دوه بيل ولسونه جوړ شول.

په دې اړه څو مهم عوامل د يادونې وړ دي.

اوزبکان د منځنۍ آسیا په جنوبي سیمه (ماوراالنهر) او خراسان کې د شیباني امپراتورۍ د جوړېدو سره زیاتره ځایي شول او د قزاقانو ژوند د سیر دریا په شمالي اوارو مځکو کې هماغسې کوچیاني پاتي شو. په عین وخت کې ددواړو ولسونو تر منځ د سیمه ایز قدرت په سر سیالي د هغوي قومي خپلوي کمزري کړه. په دې بر سیره د فضل بن روز بهان خنجي په وینا د اوزبکو او قزاقو تر منځ دیني اختلاف هم ورځ په ورځ ژور بده.[۱۷] که څه هم دواړو ولسونو په یوه وخت کې اسلام منلی ؤ، د شیباني اوزبکو مذهبي عقیده او فرهنگ د منځني آسیا د لرغونو اسلامي مرکزونو په چاپیریال کې غني او پیاوړي شو، په داسې حال کې چې د قزاقانو دیني انګیرنې د قبایلي دود او دستور او د سیمې د غیر اسلامي مؤثراتو تراغیزې لاندې نیمګړې پاتې شوې.

مګر که څه هم د شپاړسمې او په تیره بیا د اوه لمسې پیړۍ راهیسې قزاق دیوه ځانګړي ولس او دولت نوم ګرځیدلي دی، د قزاق او قزاقي توب تاریخي مفهوم (له ولس او کور کهول نه د بیلتون په معنی) د منځنۍ آسیا او تر یوه حده د روسیې په فرهنګي قاموس کې باقي پاتې شوی دی.

## قزاقي جنګ

قزاقي جنګ د قزاقی ژوند د فرهنګي او سیاسي ژوند انه یو مظهر دی. (قزاق) نه هغه پوځي توان درلود چې، له خپلو ځواکمنو دښمنانو سره مخامخ مقابله وکړي او نه يې تدارکاتي او لوژستيکي نظام دومره پياوړی ؤ چې، د منظمي جګړې ضروريات برابر کړي. نو ځکه د (قزاق) له وضعې او امکاناتو سره نا ځاپي او لنډ يرغلونه او د خرپ او ترپ جګړې جوړې وي. او څنګه چې ( قزاق ) جغرافيايي او مکاني پابندي نه درلوده، آسانه چاته په لاس نه ورته. دهرې حملې وروسته به يې ځان له زورور غليم څخه پناه کړ او بيا څه موده وروسته به نا ځاپه په بل ځای کې دبل چټک ګوزار د پاره راپيدا شو.

دې ډول جګړو د قزاقي جنګ ابعاد و تاکل. په وروسته وختو کې د منځني او جنوبي آسيا په پوځي فرهنګ کې قزاقي جنګيالي، د اوسنيو کوماند ګانو په شان نخبه او وتلي کسان ګڼل کيدل.

د لښکرو په سر کې د وړو جنګياليو ډلو عمليات په دې قزاقي بلل شويدي چې، دغه ډول عمليات له يوې خوا له زياتو خطرونو سره مخامخ و او له بله پلوه زياته زړورتيا او چابکی ور له په کار وه، تر څو غليم غافلګيره او ګمراه کړی شي.

بابر د مغولو د کشف او څارنې دوه درې سوه کسيزه ډله، د زړه ورو قزاقانو (قزاق يکيت لر) په نامه يادوي [۱۸] او چريکي

عملیاتو ته (قزاقانه) عمل وايي. د (قزاقانو) ساده او بې تکلفه ژوند هم قزاقانه ژوند یاد شوی دی.[۱۹]

له بلې خوا فضل بن روزبهان خنجي چې، د محمد خان شيباني د دربار تاریخ لیکونکی دی، لیکي چې: «قزاق در قوه و باس مشهور آفاقند.....که هر یک از ایشان ده مرد کاري را از جوانان کار می زند.....».[۲۰]

فضل چې ولي نعمت یې (محمد خان شيباني) د قزاق ولس له دښمنۍ سره مخامخ ؤ، د قزاقانو د ځواک په باب مبالغه کوي او لیکي چې: د قزاقانو د عمل چټکتیا، زړورتیا، جنګي مهارت او جاه طلبي د ځايي خلکو د پاره ستر خطر دی.

گر جهان را به یک قزاق دهند
ور خراسان و گر عراق د هند
خویش را می‌شمارد او محروم
که نه کردست تاخت جانب روم[۲۱]

په کُلي ډول له پنځلسمې میلادي پیړۍ را پدې خوا، قزاقي جګړه ییز فرهنګ د چریکي جګړو، کمین، شبخون، د کشف او طلایي عملیاتو او داسې نورو خاصو جنګي فعالیتونو سره تړل شوي دي.

داسې ښکاري چې، خوشحال خان هم د خپل عصر د متداولو جنګي هنرونو تر څنګ قزاقي جګړه ییز فرهنګ ته هم توجه

کړېده. دی په دستار نامه کې د شجاعت د هنر په بحث کې، په قزاقي جنګ غږېږي او وايي: «تر صف جنګي نه جنګ بهتر د قزاقي دی. د قزاقي جنګ غليم کُش دی، د ځان محافظت پکې احتمال لري. قزاقي د ترکستان له ملوکانو نه را پاخيدلی ده. په تُرکانوکې يوه طايفه ده قزاق، ډېر بهادران دی، قزاقي د هغو ده، اصل شجاعت هغه دی چې په قزاقي کې زده شي، قزاقي په يوه سواره، په دوه، په لس، په شل، په سل، په زر، په لس زره، په شل زره هم شي... په ظفر نامه کې چې تمام د امير تيمور احوال دی، تاليف د مولانا شريف الدين يزدی عجب نګارش د امير د قزاقي تردد پکې شته، آفرين ورباندې، د شيرشاه سور احوال هم په دا و تيره».[٢٢]

خوشحال خان قزاقي جنګ د جګړې له دوو نورو ډولونو (صف جنګي او شبخون) نه بيل ګڼي، که څه هم شبخون د قزاقي جنګ له خصوصياتو نه دي. په قزاقي جنګ کی د اصولو په خلاف، د جنګيالو شمير يو قاطع عامل نه دی، بلکې په قزاقي کې له يوه نه نيولي تر شل زرو جنګيالو پورې برخه اخيستي شي، ځکه په دې ډول جګړه کې هدف د غليم خوربول دي، نه قاطع تکتيکي غلبه. دی وايي: « د قزاقي ميړانه داده چې په غليم راشې، يک دله ورباندې مټ جلب و کړه.که زبون دي د همه بيخ بنياد يې وکاږه، او که نه حمايت يې پيدا شو يا درباندې زورور ؤ هسې

ورځني ځان وشلوه چې ګرد دې هم نه ویني.د قزاقي میرانه په تیښته او د یار او د ځان په ساتلو کې ده. بل چې نن ولاړ شوې وغلیم ته وار نه ورکوې، په ځوومه ورځ بیا ورته حاضر شي. په داکې حفظ د ځان خریزمان په غلیم شي. که هر څو سخت غلیم وي ورته په سر ګردانۍ حیران شي، ورته نرم شي.»[۲۳]

د خرپ او ترپ جګړه دا غوارې چې، جنګیالي له یوې خوا په غلیم د یودم پیاوړی ګوزار امکان ولري او له بلې خوا دومره چابک وي چې، په تیښته کې د غلیم لاس پرې بر نشي.

د اوسنۍ وخت ګریلایي جګړو ایجابات هم همدا دي.

خوشحال خان لیکي: «دوه کاره د قزاقي لازمه دي، یو ښه آسونه بل غشي. د ښو آسونو په زور، د غشیو په زوربه لږ سواره هم مسخر په عالم شي. برګستان او ډېر سلاح په قزاقي کې نه بویه، یوه زغره ډکه درسته که کیجم وړتګ وي، ګنه خالي آس بې تکلفه، زین مشکي چاکل توشه کم وبیشه ورځخه نور هیڅ.

ټُفکچي په ښه آس سوروي اعلي څو د جنګ استعمال او هنر واړه په قزاقي کې زده شي.د شبخون کار، د صف جنګي کار هم په دا کې زده کا، ازبک د قزاقي په زور په درې قسمه د جنګ بلکه زیات په هر چادي.»[۲۴]

## ګریلایي (چریکی) جنګ

په سیاسي او پوځي لحاظ له متداولو ګریلایي جګړو سره د (قزاقي جنګ) د مقایسې دپاره په کار ده چې، د ګریلایي جګړو ماهیت و ښېرو.
ګریلا د هسپانوي ژبې نه راوتلې کلمه ده چې، د «کوچني جنګ» معنې لري او د غیر منظمو جنګیالو له خوا د هغو ځواکونو په خلاف کیږي چې، په سیمه مسلط وي. په ګریلایي جنګ کې جنګیالي له منظمو پوځونو سره له قاطع تکتیکي نښتې نه ډډه کوي او زیاتره د کمین، جنګي چلونو او ناڅاپي خرپ او ترپ نه کار اخلي. په دې ډول جنګ کې د برې دپاره لازمه ده چې، ولسي خلک له جنګیالو سره خواخوږي ولري، ویې ساتي او مرسته ورسره وکړي. په دې برسیره، ګریلا په غرنیو او داسې ځکو کې چې د غلیم د منظو قواوو د فعالیت دپاره مساعدې نه وي، لا اغیزمن وي.
که څه هم (ګریلایي جنګ) یو نوی تعبیر دی، د دې ډول جګړې تاریخ خورا لرغونی دی. هغه جګړه ییز تکتیک چې رومیانو له میلاد نه مخکې دریمې پیړۍ کې د کارتاژ د قوواوو د ځپلو او ستومانه کولو دپاره استعمال کړ، د دغه جنګي میتود یو لرغونی مثال دی. په دغه جنګ کې چې د پونیک د دویم جنګ په نامه یادیږي، رومي جنرال فابیوس ماکسیموس ( Fabius Maximus) د کارتاژ د مشر هنیبال (Hanibal) سره د مخامخ

جګړې نه ډډه وکړه او په چریکي حملویې د کار تاژ پوځ دومره کمزوري او ستومانه کړ چې، د هغوی د ماتې سبب شو. دغه ډول جنګي میتود د فابیان د تکتیک په نامه یاد شوی دی، چې او سنیو چریکي جګړوته ورته یو حرکت ؤ.[۲۵]

له هغه وخت نه را په دې خوا د نړۍ بیلو بیلو ولسونو او ډلو د زورور غلیم سره د مقابلې د پاره له چریکي جنګ نه کار اخیستی دی. د امریکا د آزادۍ په انقلاب کې د هغه ملک څو نامتو قوماندانانو لکه فرانسیس ماریون (Francis Marion) آندریو پیکینز (Adrew Pickens) او تامس سمټر (Thomas sumter) په چریکي اصولو جنګیدل او د امریکا په کورني جنګ کې چریکي عملیات، ډېر اغیزمن ثابت شول.

په ۱۸۷۰-۱۸۷۱م کې د پروسیا او فرانسې په جنګ کې فرانسوي چریکانو جرمنیانو ته بیخي ستر تاوانونه ورسول. په لومړي نړیوال جنګ کې د عربستان ټاپو وزمه د ګریلایي جنګ یو ستر میدان وګرځید. هلته د فیصل الحسین او لارنس (T.E.Lawrence) په مشرۍ د عربو بیلي بیلي چریکي ډلي د عثماني ترکیې له سترو منظمو پوځونو سره وجنګیدې.

د افغانستان خلکو د خپل تاریخ په اوږدو کې له یرغلګرو سره د مقابلې د پاره په همدې جګړه ییز تکتیک جنګیدلی او اکثره یې میدان ګټلی دی. له مقدوني سکندر نه نیولې تر مغولو پورې،

ټول فاتحين د افغانستان په غرنيو سيمو کې د خلکو له کلک مقاومت سره مخامخ شوي دي .د دغه مقاومت لويه اغيزه داوه چې، د هرې سيمې خلک د چريکي عملياتو له لارې د غليم لښکري ځپلې او ستومانه کولې. په نونسمه پيړۍ کې له انګريزانو سره د افغانستان د خلکو جنګ ، کاملاً يو چريکي جنګ ؤ.په راوروسته پيړۍ کې د شوروي يرغل او اشغال سره، د افغانستان د خلکو مقابله په بشپړه توګه، د يوې بريالۍ چريکي جګړې په واسطه ترسره شو.

مګر د شلمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې د ګريلايي جګړو په سياسي ماهيت کې، يو لوی بدلون راغی.په دغه بدلون کې د چين د انقلابي کمونست مشر ماتسه تونګ Mao Tse-Tung برخه ډېره ستره وه. ماؤ ګريلايي جګړه (د خلکو جګړې ) په چو کاټ کې د دولتي قدرت د ګټلو په مبارزه کې لومړنۍ مرحله ګڼله چې، بالاخره په منظمې جګړې پراختيا مومی. نوښايي چې، ګريلائی جګړه يو مستقل او ځانګړي ډول ونه ګڼل شي، بلکې بايد د خلکو د عمومي جنګ په کار کې ديوه ګام په توګه او د انقلابي مبارزې ديوه اړخ په توګه وانګيرل شي. ۲۲

دماؤ نه وروسته د امريکا د لويې وچې انقلابي مارکسيست چيګوارا (Guevarache ) ګريلايي جنګ د واکمن قدرت د

راپرځولو د پاره د کليوالو سيمو د خلکو د سياسي او پوځي مبارزې اساسي وسيله وګڼله.٢٧

په دې دواړو تعبيرونو کې ګريلايي جنګ د اجتماعي نظام د بدلولو د پاره د سياسي مبارزې يوه تهاجمي وسيله ده ،په داسې حال کې چې عنعنوي چريکي جنګ، د فاعي وي که تهاجمي، حتماً د اجتماعي نظام د بدلولو د پاره نه ،بلکې اکثراً د هغې د ساتلو د پاره استعماليږي.

که څه هم خوشحال خان د ماؤ په شان چريکي جګړه د جنګ لومړي پړاو بولي او وايي: «ابتدا د هر چا کار مدارچه داعيه لري په قزاقي دی» مګر د خوشحال خان دغه (ابتدا ) د داسې يوه منظم او ټاکلي سياسي مفکوروي نظام برخه نه ده چې، د شلمې پيړۍ انقلابيان پرې معتقد ؤ.

په پايله کی هغه څه چی خوشحال يې قزاقی جنګ بولی، د سنتی قبا يلي[9] جګړې يو کامل انځور دی چی، پوځی ماهيت لری او په کومی سياسی محتوی کی نه دی اخښل شوی. دغه ډول جنګی تکتيک په عام ډول ستراتژيک چوکاټ نلری ،نو ځکه يې اغيزه موقتی ده. دا ډول جګړه بيز عمل يوازی هغه وخت د سياسی هدف د ترلاسه کولو توان لری چی، په پراخه سيمه کی په دوامدار ډول تر سره شی او ستراتژيک استمرار و مومی. دا کار د اوه لسمې پيړۍ په اجتماعی او سياسی ماحول کی چی،

# خوشحال خان پکې د مغولوله امپراتوری پوځ سره جګړې ته راوتلی وو ، چندانی ممکن نه ښکاریده.

[۱] پاکسوي، دقزاقانو او اوزبکو د اصل او نسب په باب د ولید توغان څېړني، د مرکزي آسیا سروې مجله، یوولسم کال، دریمه ګڼه، ۱۹۹۲

H.B. Paksoy, S.V. Tongan: The origins of the Kazaks and the Ozbeks, Central Asia survey, vol.11, no.3, 1992

[۲] کلاشتورني، س.ګ. او ت.ي سلطانوف، د قزاقستان درې زره کلن تاریخ، المـاني، ۱۹۹۲، ۲۵۰ م مخ.

G.T.KJIЯШТОРНЫЙ И Т. И. CYJTTAHOB; KA3AXCTAH TPEx ТЫСЯЧЕJТЕТИЙ- JTETOIIИCЬAJIMA-ATA 1992- ct.250

[۳] کلاشتورنی او سلطانوف، ۲۵۲ مخ

[۴] کلاشتورنی او سلطانوف، ۲۵۱ مخ ګلبدن، همایون نامه، لاهور ۱۹۲۲، ۱۵۲ م مخ

[۵] د قزاق داش کلمه د ترکي ژبې د یو شمیر نورو مصطلحو کلماتو په تشابه منځ ته راغلی دی لکه (وطن داش) یعنی وطندار، (یول داش) یعنی د لارې ملګری، (آوول داش) یعني کلیوال ، او (آرقه داش) یعني ملګري.

[۶] بابرنامه، د انیت بیوریج ژباړه، لاهور، ۱۹۸۷، ۳۵، ۲۲، ۲۷ مخونه

Babur-nama, Translated by Anette S. Beveridge, Lahore, 1987, pp. 35,66,67

[۷] پاکسوی، دقزاقانو او اوزبکو د اصل او نسب په باب د ولید توغان څېړني. ، د مرکزي آسیا سروې، یوولسم کال، دریمه ګڼه۱۹۹۲

H.B. Paksoy, S.V. Togan: The origins of the Kazaks and the Ozbeks, Central Asia Survey, Vol.11, No. 3, 1992

[۸] لیستر ګراؤ ، په روسیه کې د قزاقي وروروليـ راتـازه کیـدل، فـورت لیونـورت کنزاس،۱۹۹۲، ۱-۲م مخونه.

Grau, Lester W., Rebirth of the Cossack Brotherhood: A Political\Military Force in a Disintegrating Russia, Foreign Studies Office, Ft, Leavenworth, Kansas,1992, pp.1-2

[۹] برنارد پیرس، د روسیي تاریخ، نیو یارک ، ۱۹۹۱ ، ۱۲۱ ی۱۲۲ مخونه

Bernard Pares, A History of Russia, Dorset press, New York, 1991, pp.121- 122

[۱۰] د توربا ګاتاي له غرونو نه تر سیر دریا (سیحون) او له خوارزم نه د ولګا تر حوزې او کریمیا پورې دغه سیمه په تاریخي لحاظ د دشت قبچاق په نامه یادېده.

دغه لویه دښتي سیمه (ستپ) د دیار لسمي پیړۍ په سرکې د چنگیزخان د امپراتورۍ یوه برخه وگرځیده او خاني یې د چنگیز د مشر زوی جوجي کورنۍ ته ورسیده. په دې سیمه کې د میشته مغولي ترکي ولسونو خاني له ۱۳ مۍ تر ۱۵ مۍ پیړۍ پورې د زریني اردو په نامه یادېده. اوزبکان چې د جوجي د زوی شیبان اولاده دي په پنځلسمه پیړۍ کې د اورال او سیر دریا په سیمه کې مسلط قوت پاتي شو.

لویدیز کې یې د زریني اردو خاني دیو لړ کورنیو جګړو نه په څو بیلو خاناتو تجزیه شو چې په هغو کې د قازان، کریمیا (قرم) استراخان، نوغای او سیبیر خانات دیادوني وړ دي.

مګر دغه خانات په شپاړسمه پیړۍ کې یو په بل پسې د روسانو له خوا را وپرزول شول او یوازې د کریمیا خانات د اتلسمي پیړۍ تر وروستي وختو پورې خپلواک پاتي شو خو هغه هم په ۱۷۸۳ م کې له روسیې سره وتړل شو.

په دې ترڅ کې اوزبکان د ۱۲ مي پیړۍ په سر کې چې د تیمور یانو حکومت کمزوري شوي ؤ د شیباني امپراتوري په جوړولو بریالي شول.

دغه دولت د ۱۲ مي پیړۍ ترپایه پورې دوام وموند او وروسته د خیوه او بخارا په خاناتو تجزیه شو او تقریباً یوه پیړۍ وروسته د خوقند خاناتو په فرغانه کې د بخارا نه ځان بیل کړ.

[11] میرزا حیدر دوغلات، تاریخ رشیدي، انګریزي ژباړه (ژباړن، ن، ایلن)، لندن.۱۹۷۲، ۸۲ م مخ

[12] دغه سیمه میرزا حیدر د مغولستان په نامه یادوي چې مقصد یې د هفت رود (اوسني ختیز قزاقستان، شمالي قیرغیزستان او ختیز ترکستان) سیمه ده، د چنگیز د مړیني وروسته د اورال د سمندرګي نه د مغولستان تر ټکه او د تارم له حوزې نه تر بلخ پورېسیمه د هغه د زوی چغتای د خاني سیمه شوه چې د او لوس چغتاي په نامه یادېد په دغه سیمه کې ختیز ترکستان، داوسني قیرغیزستان، او زبکستان، جنوبي قزاقستان او د افغانستان شمال ختیزه برخه شامله وه. اولوس چغتای په ۱۳۳۴ میلادي کال د فرهنګي اختلاف او کورنیو مخالفتو نو له کبله په دوو برخو وویشل شو د اولوس لو یدیزه برخه چې ماورا النهر او د هغې جنوبي سیمې د بلخ، کندز، بغلان او کندهار په ګډون پکې راتلې د او لوس چغتای په نامه او پاتې ختیزه برخه یې د مغولستان په نامه یادېده.

[13] میرزا حیدر دوغلات ، تاریخ رشیدي، ۲۷۲ - ۲۷۳ مخونه

[14] انګیرنه داده چې په اول سر کې د بیل شوو اوزبکو مشران د قزاق اوزبک په نامه یادېدل خو وروسته چې دغه بیلتون نور هم پسې اوږد شو د دغو مشرانو ټول پیروان قزاق وبلل شول.

[15] سلغر اوولي کوي شيغاره، قزاق قوم تاريخ ، په قزاقي ژبه، الماني، ۱۹۹۲، ۱۱۱ – ۱۱۷ مخونه
САЈІГАР ҮЈЫКОЙШИШЕГАРА- КАЗАТЫ ТАРИхЫ-АЈМАТЫ-1992=СТ-.111-117
[16] پاکسوی، دقزاقانو او اوزبکو د اصل او نسب په باب د ولید توغان څېړنې، د مرکزي آسیا سروې مجله، یوولسم کال، دریمه ګڼه ۱۹۹۲
H.B Paksoy, S.V. Togan: The origins of the Kazaks and the Ozbeks, central Asia survey, vol. 11. No.3, 1992
[17] فضل بن روزبهان خنجي، مهمان نامه بخارا ، تاريخ پادشاهی محمد شيبانی، چاپ بهمن، تهران ۱۳۴۱ (۱۹۶۲) ۴۲ او ۴۳ م مخونه، دغه کتاب د پنځلسمې میلادي پیړۍ په سر کې د محمد خان شیباني په دربارکې لیکل شوی دی.
[18] بابرنامه، ۲۲ مخ
[19] بابرنامه ۱۲۹ مخ
[20] فضل بن روزبهان خنجي مهمان نامه بخارا ، تهران ، ۱۹۶۲، ۴۱ ، ۱۴۱ مخونه
[21] فضل بن روز بهان خنجي، ۱۲۵- ۱۸۷ مخونه
[22] خوشحال خان ختټک ، دستارنامه ، پښتو ټولنه، د ۱۳۴۵ کال چاپ، ۴۱ مخ
[23] خوشحال خان ختټک ، دستارنامه، د پښتو ټولنې چاپ، کابل، ۱۳۴۵ (۱۹۶۶) ، ۴۲ م مخ.
[24] دستارنامه ۴۱- ۴۲ مخونه
[25] جي ویلز، د روم لنډ تاريخ، لندن، ۱۹۳۱ ، ۱۱۳- ۱۱۴ مخونه
H. Wells, a Short History of Rome to the Death of Augustus, London, 1931, pp. 113- 114
[26] ماؤ تسه-تونګ، ګريلايي جنګ، ۱۹۳۷ ، لومړی څپرکی.
Mao Tse- Tung, on Guerrilla Warfare, 1937,First chapter what is Guerrilla warfare
[27] چیګوورا ، د ګريلايي جنګ اصول، ۱۹۶۰
Che Guevara, General Principles of Guerrilla Warfare (1960), chapter one, http://www.che-lives.com

[28] دستارنامه ، ۴۱ مخ.

*****

Webpublicher: www.pashtoonkhwa.com